شرعي دریځ

لا إله إلا الله

الله
رسول
محمد

الدولة الإسلامية في العراق والشام

د شیخ ابوبکر البغدادي حفظه الله لخواد اعلان
کړای شوي تش په نوم خلافت په اړه د پاکستاني
طالبانو د تحریک شرعي دریځ

د شیخ ابوبکر البغدادي حفظه الله لخواد اعلان کړای شوي تش په نوم خلافت په اړه د پاکستاني طالبانو د تحریک شرعي دریځ

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيمِ

د کتاب مقدمه

جهاد د اسلام د حاکمیت ، د اسلام د کلمې د لوړولو او د مسلمانانو د عزت وروستۍ او یواځینۍ لار ده.

نبي علیه الصلوة و السلام فرمایي : لا عز الا بالجهاد ، یعنې بغیر له جهاد څخه مسلمانان عزت نشي تر لاسه کولای.

او دا یو داسې دایمي عبادت دی چې په هیڅ وخت کې نه پریښودل کیږي ، بلکه تر قیامته پورې به جاري وي. الجهاد ماض الی یوم القیامة.

او همیشه به مسلمانانو ته د ناهیلۍ او ناامیدۍ له بلا څخه د خلاصون او د یوې روښانه اسلامي راتلونکې هیله او زیری ورکوي.

څرنګه چې دنیا د امتحان او ابتلاء ځای دی ، په مسلمانانو به مختلف حالات راځي ، کله به انفرادي امتحان او ابتلاء ګانې وي او کله به اجتماعي.

مونږ په غیبو ایمان راوړی دی ځکه د دینا ایمان ، ایمان بالغیب دی.

دلته به کله اسلام غالب وي او کفر به مغلوب وي او کله به کفر ظاهراً غالب وي.

داسې نشي کیدای چې همیشه به اسلام غالب وي او په هر وخت او هر ډګر کې به فتح مومي ، ځکه بیا په غیبو ایمان نه پاتې کیږي ، بلکه دا یو قسم د مشاهدې ایمان شو او د مشاهدې نه وروسته به ډیر کافران په آخرت کې د (آمنّا) چغې وهي خو هغه وخت به یې ایمان نه قبلیږي.

او نه داسې کیدای شي چې هر وخت به کفر غالب وي چې په هیڅ ځای او هیڅ وخت کې به نه مغلوبیږي ځکه بیا خو د انبیاء علیهم الصلاة والسلام د بعثت مقصود فوت کیږي.

(الحرب بیننا سجال) . یعنې زمونږ او دکافرانوتر منځ جګړه داسې ده لکه د کوهي بوقه (ډولچه)چې کله به مونږ غالب یو او کله به کافر راباندې برلاسي کیږي.

د شوروي اتحاد (سویت یونین) او کمونستي نظام خلاف د افغانانو ملي جهاد ، مبارزې او پاڅون د اسلامي امت ځوانانو ته په عمومي ډول او د سیمې مسلمانو ځوانانو ته په خصوصي ډول دا احساس او زړورتیا ورکړه چې شیطاني او طاغوتي نظامونه که څه هم قوي او مضبوط وي د جهاد په مبارک عمل سره له منځه ځي.

د شوروي اتحاد او د کمونستي نظام له سقوط وروسته چې کله د نظام او واک تشه رامنځته شوه ، دغه تشه او خلا ډکول د جهادي تنظیمونو تر منځ د اختلاف سبب وګرځیده ، چې بالآخره د طالبانو مبارک اسلامي تحریک منځ ته راغی او هغوی دغه تشه او خلا د اسلام د مبارک نظام په نفاذ او قیام ډکه کړه.

د اسلامي امارت په قیام سره په اسلامي نړۍ کې جهادي هیلې او جذبې نورې هم زیاتې شوي او د اسلامي امت په ځوان نسل باندې اسلامي امارت ډیر ښه اثر وکړ.

نړیوالو جهادي حرکتونو هم په دغه مبارکه اسلامي خاوره باندې د نړیوال جهاد صفونه منظم کړل چې جهاد یو نړیوال شکل غوره کړ ، پاک او صفا منهج منځ ته راغی ، او د وخت په تیریدو سره د جهاد محاذونه ډیریدل ، افرادي قوت یې زیاتیده ، په نظري او فکري ډول پکې پوخوالي راته ، او دا دي نن په اسلامي نړۍ باندې ډیر مسلط مفسد نظامونه د خپل انجام آخري سلګۍ وهي.

که د افغانستان اسلامي امارت او د قاعدة الجهاد تنظیم دغه شل کلن جهادي سیاست ، نبوي سیرت او سیاست ته په کتنه مطالعه کړو نو الحمدلله ښه په خوند اطمنان حاصلیږي چې هر یو د خپل توان مطابق په مناسب وخت کې په مناسب دښمن ګذار کړی دی.

لکه څنګه چې اوسني جنګونه هر اړخیز جنګونه وي او په کلونو کلونو روان وي او ټولنه په مجموع کې د جنګ په جریان کې واقع وي نو د پخوا په نسبت هر اړخیزې او د اوږدې مودې استراتیژي او پلان ته ضرورت دی.

د اسلام په شروع کې نبي عليه السلام طايف ته سفر وکړ يو مقصد يې دا ؤ چې څوک پناه راکړي او له همغه ځايه دايمان او اسلام حرکت نسبتاً قوي او په ښه توګه مخته بوځي.

له کافر څخه پناه اخيستل او له همغه ځايه اسلامي تحريک پرمخ وړل د نبي عليه السلام له دې عظيم سفر څخه مونږ ته ښه واضحه کيږي. او د ضرورت په وخت کې يو اسلامي تحريک ته داجائز دي.

همدغه راز د دښمنانو ځانته کمول او د خپل وس او طاقت مطابق وار کول دا هم د نبي عليه السلام د نبوي سياست مهمه برخه وه.

بيت الله شريف د توحيد مرکز ؤ او ده. ليکن له بتانو څخه ډک ؤ او د توحيد په دغه مرکز کې د غيرالله عبادت کيده ، د بيت الله شريف څه خاص امنيتي تدابير نه ؤ او د دغه ځای اهل التوحيد هم داسې خلک ؤ چې په خپله يې له نبي کريم صلی الله عليه وسلم نه توحيد زده کړی ؤ ، هغوی دا هم کولای شول چې په شپه کې بيت الله شريف ته داخل شوي وای او ټول بتان يې مات کړي وای ، ليکن محمد مصطفی صلی الله عليه وسلم او صحابه کرامو رضی الله عنهم اجمعين ژوندي طاغوتان مخکې کړل ، او د جنګ اصلي لوری يې يواځې قريش ګرځولي وو.

د بتانو عبادت يواځې قريشو نه بلکه ټولو عربو کاوو که په دغه وخت کې بتان مات شوي وای نو ، ټول عرب به يې په يو ځل دښمنۍ ته را پورته شوي وو او په دومره لوی تعداد ددښمن مقابلې ته راوتل ، په ټوله عربي نړۍ کې اسلامي دعوت ته انتهايي زيات مانع او خطرناک ؤ. ځکه په هر دين او مذهب کې ځينې داسې نقطې وي چې که په هغه ګذار وشي نو د هماغه مذهب او دين بې احساسه او بې ضميره خلک هم را پورته کيږي ، مثلاً : په نړيواله سطح امريکايانو په سلګونوزره مسلمانان شهيدان کړل ، لاکن بيا هم ډير لوی شمير مسلمانان بې احساسه دي ، ضمير يې ويده دی ، ليکن که چيرته امريکايانو داسې کولای چې مسجدونه يې په بارودو ورانولای او ويډيوګانې يې نشرولای نو ډير د مړه

ضمیر او بې احساسه مسلمانان به هم را پاڅیدلي وای ، حال دا چې امریکایانو په دې پنځلس کلنه جګړه کې داسې غلطي ونه کړه.
خو بلې خواته کله چې په عراق کې د مجاهدینو اثر زیات شو او کمه سیمه یې لاس ته ورغله ژوندي طاغوتي نظامونه لا په خپل حال وو اولا تر اوسه په یو نه یو شکل موجود دي ، خو مجاهدینو د عراق په سامراء ښار کې د خبیثو روافضو مزارونه په باروتو ویجاړ کړل ، او فلمونه یې په ټوله دنیا کې نشر کړل په داسې حال کې چې دغه مزارونه د روافضو یاشیعه ګانو په نجس مذهب کې داسې مقام لري لکه د مسلمانانو په مذهب کې چې بیت الله شریف کوم مقام لري . نو په نتیجه کې یې د ټولې دنیا خبیث روافض یاشیعه ګان را بیدار شول او د عراق ، شام او یمن محاذونو ته یې منظم تشکیلات پیل کړل.
دا په تاریخ کې لومړی ځل دی چې اهل تشیع د یو جلا امت په حیث د اهل سنت په ضد د وسلوال مذهبي جنګ لپاره سره راټولیږي.
نو نبي کریم صلی الله علیه وسلم په اول وخت کې بتان مات نه کړل ، بلکه دا د دعوت مرحله وه ، بیا د هجرت مرحله او وروسته فقط له قریشو سره مخامخ جنګونه شروع شول ، د جنګ نور محاذونه په ډیر حکمت سره بند کړای شول ، کله چې قریشو ماته وخوړه ، چې دا په عربي نړۍ کې تر ټولو د ستر او مؤثر قوت ماته وه، نو فوراً بتان مات کړای شول ، چې اصلاً د ژوندیو طواغیتو له ماتې وروسته د دې مړو او بې روحه طاغوتانو د ماتولو په وړاندې هیڅ عکس العمل نه ؤ.
د قریشو له ماتې وروسته (چې دا په ژوندیو طاغوتانو کې تر ټولو لوی طاقت ؤ) ډیر واړه قبائل په خپله په اسلام کې داخل شول او د پاتې لږو قبائلو زور هم په یو دوو جګړو کې اوبه شو.
نبي کریم صلی الله علیه وسلم د عامو خلکو د رایې او د ایماني او علمي معیار ډیر خیال ساته ، لکه نبي کریم صلی الله علیه وسلم غوښتل چې بیت الله شریف په ابراهیمي نقشه بیرته ودان کړي او د مشرکانو تعمیر ړنګ کړي ، خو نبي کریم

صلی الله علیه وسلم حضرت عایشې رضی الله عنها ته وفرمایل (که چیرې ستا قوم (قریش) په ایمان راوړلو کې نوي او د جاهلیت زمانې ته نږدې نه وای نو ما به بیت الله شریف د ابراهیم علیه السلام په نقشه جوړه کړی وه) دا چې قریشو نوی ایمان راوړی ده ، یعنې ایماني او علمي معیار یې دې حد ته ندی رسیدلی چې دا بدلون (د بیت الله نوی تعمیر) قبول کړي ، سره له دې چې دا بدلون خپله نبي کریم صلی الله علیه وسلم کاوو او عام خلک هم ټول صحابه کرام وو ، نو ځکه یې بیت الله شریف په خپل حال پرېښوده ځکه چې ایماني او علمي معیار یې لا دې بدلون ته نه وو اماده.

عبدالله ابن ابی ابن سلول د اسلام او د اسلام د ستر پیغمبر صلی الله علیه وسلم لوی دښمن ؤ ، لیکن ظاهري شکل یې د مسلمان ؤ نبي علیه السلام ونه واژه ځکه ویل یې اوس به خلک وایي چې (انّ محمداً یقتل اصحابه)، یعنې پیغمبر صلی الله علیه وسلم خپل ملګري وژني او په خپل منځ کې په جګړه بوخت شول.

نو په جهادي ډګر کې ډیر احتیاط پکار دی ، د هر هغه اقدام څخه ځان ساتل پکار دي چې دښمنان زیاتوي ، عام نظریات مخالفوي ، او د اسلامي تحریک په خلاف د پروپاګند سبب ګرځي چې په نتیجه کې یې جهادي او اسلامي دعوت او حرکت له ناکامۍ سره مخ کیږي.

نړیوال جهادي حرکت چې د امیر المؤمنین ملا محمد عمر مجاهد حفظه الله او ډاکټر ایمن الظواهري حفظه الله او له دې نه مخکې د مجدد جهاد محسن امت شیخ اسامه بن لادن رحمه الله په قیادت کې روان دی ، تر ډیره حده پورې په دې نبوي سیاست باندې عمل کوي.

محترم ملاصاحب د خپل جهاد اصلي لوری یواځې اویواځې دامریکا ائتلافیان او د هغوی ګوډاګیان وبلل ، د افغانستان په داخل کې یې ځانته نور محاذونه خلاص نه کړل ، ځکه دښمن غواړي چې د مجاهدینو دغه لږ عسکري وسایل له مرتدو حکومتونو او ادارو څخه بغیر په نورو محاذونو کې استعمال شي ، په

کومو ملکونو کې چې مجاهدین د دې دسیسې ښکار شوي نو جهادي حرکتونه یې هم کمزوري شوي.
په افغانستان کې یو لوی شمیر اهل تشیع میشت دي که دا موجوده طاغوتي اداره سقوط وکړي نو د اهل تشیع په شمول ټولې فاسدې ادارې سقوط کوي خو که اسلامي امارت د اهل تشیع په معابدو باندې عملیات وکړي نو ټول اهل تشیع به ځانته وسلوال کړي، یو نوی محاذ به خلاص شي. همدغه راز الحمدلله په افغانستان کې د پخوا په شان قبوریت (قبر پرستي) نده پاتې ، او الحمدلله داسې بدعتونه او قبرپرستی له پخوا نه نشته لکه څرنګه چې په هند او پنجاب کې دي.
په خلکو کې د علمي وړتیا په زیاتېدو سره بدعتونه په ختمیدو دي ، امّا که امارت په خپل ابتدائي دور کې د صوفیانو مزارونه وران کړي وای ، نو یو لوی شمیر غیر مسلح خلک به د امارت په ضد وسلوال شوي وو، او د وهابیت ضد په نوم به ډیرو مغرضو او سیاسي بهرنیو کړیو ترې سیاسي ګټه اخیستی وه ، خو نن هغه دی په ټول افغانستان کې د عقیدې اړوند ډیر زیات بدلون او پراختیا راغلې ، د نن څخه دیرش کاله وړاندې د افغانستان په ډیرو سیمو کې چا امام ابن تیمیه ته شیخ الاسلام نه شوای ویلای ، لیکن نن اسلامي امارت د حنفي او سلفي مجاهدینو ګډ کور دی او د پخوا غوندې په جاهلانه مسلکي تعصب کې ډیر کموالی راغلی دی ، او ان شاءالله موږ هیله مند یو چې د راتلونکې فتح نه وروسته به د تعلیم او معارف وزارت د اهل سنت و الجماعت د فکر او عقیدې په اساس یو داسې معتدل تعلیمي منهج منځ ته راوړي چې امت به جوړوي ، ځان ځاني به له منځه وړي.
سید احمد شهید او شاه اسماعیل شهید رحمهما الله چې کله د پښتنو په سیمه کې اسلامي امارت قائم کړ ، نو هغه وخت ټول پښتانه قبائل ؤ او د ملکانو او نوابانو راج ؤ . منظمه اداره او نظام نه ؤ ، د شاه صاحب مجاهدینو تر ټولو لومړی د دې نوابانو له شر نه خلک ازاد کړل ، چې د دې په نتیجه کې په لوی

شمېر کې پښتنانه له دې کاروان سره یوځای شول ، مګر وروسته بیایوه سیاسي غلطي وشوه هغه دا چې فکري او عقیدوي بدلون نه ؤ راغلی او ځینې تش په نوم مذهبي مقدساتو ته لاسونه وغځېدل ، لکه چې اوس په پښتنو کې بدعتونه دي نو په هغه وخت کې ډېر زیات ؤ د شاه صاحب مجاهدینو د صوفیانو د مزارونو او بدعتونو په خلاف کار پیل کړ (که څه هم شهید سیداحمد او شهید شاه اسماعیل رحمهما الله په خپله هم صوفیان ؤ ، لیکن عملي صوفیان وو ، د فلسفې صوفیان نه ؤ او نه یې په عقایدو کې انحراف وو).

د دې کار په عکس العمل کې ملایانو او پیرانو پاڅون وکړ ملکان او نوابان یې هم ورسره ملګري کړل او هغه مبارک تحریک په ډېر لږ وخت کې سقوط وکړ.

دا له شاه صاحب سره د پښتنو غداري نه وه ، بلکه دا د شاه صاحب او د هغه د ملګرو سیاسي غلطي وه چې دغې غلطي پیران او ملایان د مذهب د ساتنې په خاطر د ملکانو او نوابانو په صف کې ودرول ، د شاه صاحب او د هغه د ملګرو په خلاف یو منظم ملي پاڅون منځته راغی ، ځکه چې په پښتنه قبایلي ټولنه کې کله چې ملا ، پیر ، ملک او نواب د یو پاڅون په سر کې ودریږي نو هغه یقیناً یو ملي پاڅون ګرځي.

په عربي نړۍ کې ولسي انقلابونه راغلل ، او د دې انقلابونو په کامیابیدو کې د القاعدې ژور فکر لرونکو شخصیتونو مهم رول درلود.

او دغه انقلابونه لکه څنګه چې فکر کیده ، نظامي لوري ته لاړل او مجاهدینو ته دا فرصت په لاس ورغی چې جهادي جبهې جوړې کړي ، خلکو ته سپیڅلې عقیده او روڼ منهج وښیي.

د شام په خاوره کې ډېر اسلامي ګوندونه او ټولي منځ ته راغلل ، د عراق د القاعدې پخوانۍ څانګې (دولة العراق الاسلامیه) په شام کې په پټه توګه د جبهة النصرة په نوم ګوند تشکیل کړ ، د وخت په تیریدو سره جبهة النصرة د نورو اسلامي ګوندونو لکه احرار الشام او نورو په څیر قوي کیده ، چې ناڅاپه شیخ ابوبکر البغدادي حفظه الله د جبهة النصرة د ختمیدو اعلان وکړ او په

عراق کې يې خپل اعلان کړی حکومت په شام کې هم اعلان کړ او د (الدولة الاسلامية فی العراق و الشام) (داعش) نوم يې ورکړ. چې جبهة النصرة دې اعلان ته مثبت ځواب ورنکړ ، خپل بيعت يې له مرکزي القاعدې سره اعلان کړ ، دوکتور ايمن الظواهري حفظه الله دغه بيعت قبول او د جبهة النصرة د امير محترم جولاني حفظه الله دريځ يې تائيد کړ او دا يې وويل چې په شام کې د دولت او حکومت بنسټونه او قوائم لا منځته ندي راغلي ، لا تر اوسه د بشار نظام موجود دی ، په مشترکه توګه دې نظام ته سقوط ورکړئ. دا د يو تنظيم حق نده چې په خپل سر يواځې ځانته حکومت او دولت اعلان کړي بلکه چې کله د بشار رژيم راو پرزول شي نو په مشترک ډول به ټول جهادي ګوندونه د اسلامي اصولو په رڼاکې يو نظام رامنځ ته کړي.

ليکن شيخ بغدادي حفظه الله او د هغه وياند عدناني صيب د خپل مشر امير ايمن الظواهري حفظه الله د دې فيصلې ډير زيات احساستي شول ، دايمن الظواهري خبرې يې غلطې توجيه کړې او داتبليغات يې پيل کړل چې د نړيوال جهاد سالار د اسلامي امت په جسد کې د کفارو لخوا کښل شويو پولو ته معتقد ده نو ځکه يې ابو بکر بغدادي ته دا امر وکړ چې ته په عراق کې کار کوه، او جولاني دې په شام کې کار پر مخ بيايې.

عدناني په همدې بانه دمجاهدينو په منځ کې قتل و قتال ته لمن ووهله دمجاهدينو دارتداد فتواوې يې صادرې کړلې ، چې متأسفانه دا لړۍ تر اوسه دوام لري . اوله امله يې په زرګونو مجاهدين له مختلفو خواوو څخه شهيدان شول او جهادي دعوت ته يې نه جبرانېدونکی زيان ورساوه.

دغه اختلاف يواځې په عراق او شام پورې محدود وو ، چې په تير رمضان کې محترم شيخ ابوبکر البغدادي حفظه الله په خپل سر دخلافت اعلان وکړ او بيا د هغه وياند د ټولو اسلامي هيوادونو د اسلامي او جهادي خوځښتونو د لغوه کولو اعلان وکړ او بيا يې د عالم اسلام په مختلفو محاذونو کې مداخله وکړه ، او ډيرو جهادي محاذونو ته يې له خپله ځانه تشکيلات اعلان کړل ، چې په

نړیواله سطح جهادي محاذونه له ډیرو اختلافاتو اوبدبختیو سره مخ شول چې په ځینو محاذونو کې یې لکه (افغانستان ، لیبیا ، سوریه ، یمن ، الجزائر ، چیچنیا و.....) جګړه ییز شکل غوره کړ.
(انا لله و انا الیه راجعون)
نن په افغانستان کې د داعش او امارت په نوم په ننګرهار او داسې نورو منطقو کې مستقلې وسلوالې جګړې روانې دي چې ګټه یې یواځې او یواځې صلیبیانو ته رسیږي.
که چیرته شیخ ابوبکر البغدادي صاحب داسې سیاست اختیار کړی وای چې خپل نظم یې تر یو حد پورې ساتلی وای او په اسلامي نړۍ کې یې له فعالو جهادي خوځښتونو سره له کوم قید او شرط پرته مالي کومک او مرسته پیل کړې وای او بیا چې کله مفسد نظامونه را پرځیدلي وای نو په مشوره سره به یو امام او رهبر مقرر شوی ؤ.
خو متأسفانه بغدادي صیب داسې ونه کړل ، بلکه هم یې په هر ځای کې بیل تنظیم اعلان کړ او هم یې د هغه ځای د مجاهدینو په خلاف منفي پروپاګند پیل کړل.
د حدیبیې په سوله کې نبي کریم صلی الله علیه وسلم دا سیاست غوره کړ چې له مکې څخه که څوک مدینې ته راځي او ایمان راوړي هغه ته په مدینه کې ځای نه ورکوم ، نو که یو جهادي محاذ د خپل توان په اساس خپل جهادي حدود اعلان کړي دا څه د کفارو ټاکلي حدود منل ندي بلکه د خپل توان مطابق یو مؤقتي سیاست دی.
د کمونیزم له ماتې وروسته د مجاهدینو وسلوال اختلاف مسلمانانو ته ډیرې بدمرغۍ او فسادونه رامنځته کړل سره له دې چې دا اختلاف او جګړې هغه مهال رامنځته شوې چې کمونستي ادارې سقوط کړی ؤ.
له بده مرغه چې اوس په اسلامي نړۍ کې د بغدادي له لوري اختلاف په داسې مهال رامنځته کړل شو چې د مسلمانانو د مقابل جانب کفري او طاغوتي

نظامونه لا هم په خپلو پښو ولاړ دي ، او مجاهدین په یو بل باندې مرګوني بریدونه کوي ، د یو بل سیمې نیسي ، یو په بل پسې منفي تبلیغات کوي ، دغه حالت یقیناً چې طاغوتي او صلیبي نظامونو ته قوت ور ببښي او بس .

او تر دې لا خطرناکه خبره دا ده چې مذهبي او مسلکي میکروبونه پکې لیدل کیږي او دا به په موجوده حالاتو کې لومړی سلفي جهادي بهیر ته او ورپسې د امت وحدت ته ډیر زیان ورسوي. اسلامي امارت د اسلامي امت ګډ کور دی ، د اسلامی امارت مسئولینو ته پکار دي چې په خپلو صفوفو کې په هغو متعصبو صوفیانو او ملایانو باندې پام وکړي او د خپلو صفنو څخه یې یو څه ګوښه کړي چې د افغاني مزاجه او صوفي مزاجه حنفیت څخه پرته بل هر څه ته ضلالت او ګمراهي وایي او په هیڅ دلیل قناعت نه کوي ، او سلفي مبلغینو او د هغوی مشرانو ته هم پکار دي چې له اسلامي امارت سره ددغې فتنې په له منځه وړلو کې همکاري وکړي ، خپل هغه جذباتیان ، خپل سري او ناپوه ملګري پوهه او کنترول کړي چې هغوی د اهل سنت والجماعت په څلورو واړو فقهي مذاهبوپسې بد رد وایي ، مطلق تقلید ته شرک یا بدعت وایي او په همدې اساس د اسلامي امارت په خلاف تبلیغات کوي چې دا مشرکان او بدعتیان دي او یا د آی اس آی ګوډاګیان دي.

(انالله و انا الیه راجعون)

په عمومي ډول د اسلامي امارت په ښېګڼوسترګې پټول یوه ستره جفا ده ځکه کوم مسلکي نیمګړتیاوې او تعصبونه چې د اسلامي امت په منځ کې موجود دي دا د یوغوره او معتدل تعلیمي نصاب په ترتیب کولو سره له منځه تلای شي او له امارت څخه هم زموږ دا هیله ده چې ان شاءالله د راتلونکې فتحې څخه وروسته به زمونږ دا ارمان پوره کوي.

د اسلامي امارت نظم په معاصرو جهادي نظمونو کې یو بهترین نظم دی ، له نورستان څخه نیولې بیا تر هلمند پورې په دې پنځلس کلنه مبارزه کې مجاهدینو یو بل نه دي وژلي ، الحمدلله په دومره اوږده چریکي جګړه کې

مجاهدین په بله لاره ندي ترې تللی ، نه ټوپکماران شوي دي اونه د افغانستان په داخل کې د جنګ محاذونه ترې زیات شوي ، د امارت په لیکو کې د اختطافونو سطحه بیخي صفر ده. له محکمې پرته دوسیې او پیښې ډیرې کمې پېښیږي ، ورځ په ورځ یې د ملت ملاتړ نور هم زیاتیږي ، نن د فتح په درشل ولاړ دی ، نو په داسې یو حساس پړاو کې د افغانستان په داخل کې د یو بل تنظیم اعلانول او له هغه سره بیعت فرض ګڼل ، او بیعت نه کونکي ،او صف نه ماتوونکي د خلافت باغیان ، واجب القتل او د آی اس آی ګوډاګیان ګڼل یقیناً چې ډیرې خطرناکې خبرې دي، او په اګاهانه یا غیر اګاهانه توګه له امریکا او ګوډاګی طاغوتي ادارې سره په وروستي وخت کې مرسته او کومک ده او بس.

د پاکستان د طالبانو تحریک نه غوښتل چې دا موضوع بهر ته راووزي خو په بیا بیا مجاهدینو ته ویل کیدل چې خلافت اعلان شوی دی ، په بل تنظیم کې مو جهاد نه صحیح کیږي ، که له بیعت نه بغیر مړه شوی مرګ مو د جاهلیت دی او له بغدادي صاحب سره بیعت کونکو مجاهدینو ته ستاسې مرګ روا دی ځکه تاسو له خلافت څخه باغیان یاست.

نو د پاکستان د طالبانو د تحریک رهبری شوری پریکړه وکړه چې د شیخ ابوبکر البغدادي حفظه الله له لوري داعلان کړای شوي تش په نوم خلافت (چې د اوسني اختلاف اساس دی) د شریعت په رڼا کې مطالعه کړو او بیا یې د یو مدللې مقالې په شکل مسلمانانو او مجاهدینو ته وړاندې کړو.

نو محترمو مسلمانانو ورونو ! دغه مقاله د تحریک رسمي دریځ دی ، د دلائلو په اساس تحریک دغه دریځ اختیار کړی دی.

نور نو تاسو او دریځ سره پرېږدو ترڅو یې ولولئ او قناعت مو حاصل شي.

والسلام

یادونه : د بغدادي د خلافت د بطلان په اړه اصلي بحث شروع کیږي چې اول د بطلان دلائل او وجوهات دي چې ټولې ( ) وجې دي.
دا مقاله دپاکستان د طالبانو تحریک د رهبرۍ شورى له لوري له کتاب الله ، احادیثو او اجماع د امت څخه د منقولو نصوصو په رڼا کې تیاره کړل شوې چې لاندې ټکي په اثبات رسوي.

الف : شیخ ابو بکر بغدادي (الله دې دهغه ساتنه وکړي او د صلیبي صهیوني او رافضي ائتلاف په ضد دې د هغه مرسته وکړي) د مسلمانانو خلیفه نه دی ، نو ځکه بیعت ورسره کول هم واجب نه دي، بناءً که چا ورسره د مسلمانانو دخلیفه په توګه بیعت ونکړ له باغیانو څخه نه شمیرل کیږي او نه یې مرګ د جاهلیت مرګ دی.

باء : دخلیفه په اړه راغلي احادیث د بغدادي صیب په تش په نوم خلافت باندې تطبیقول د احادیثو معنوي تحریف دی.

ج : د امت مشرانو مونږ ته د خلافت نقشه د کتاب الله او سنت رسول الله په رڼا کې په ښکلې، ښکاره او جذابه بڼه وړاندې کړې ، نو ځکه د بغدادي حفظه الله تش په نوم خلافت ته مشروعیت ورکول او په امت باندې یې بیعت واجب او لازم ګرځول یوه شخصي رایه ده چې د اهل السنت و الجماعت له عقیدې سره په تضاد کې ده د اصحابو رضی الله تعالی عنهم او خلفاء راشدینو له عمل او عقیدې سره هم په ټکر کې ده.

سربیره پردې د بغدادي تش په نوم خلافت یو بدعتي فکر ده چې په خوایې چیرته بیلګه نده تیره شوې

د : اسلام یو کامل دین ده الله جل جلاله فرمایي (**الْيَوْمَ أَكْمَلْتُ لَكُمْ دِينَكُمْ**) **المائدة3**

ژباړه : ما نن ورځ تاسې ته ستاسې دین بشپړ کړ.

له همدې امله اسلام خپلو منونکو ته خپل سیاسي نظام وړاندې کړی چې پکې په جدي او کامله توګه د خلافت قائمول هم دي ، چې دا مقاله به یو څه بحث پرې وکړي.

الحمد لله والصلوة والسلام علی رسول الله وعلی اله وصحبه ومن والاه امّا بعد:

دا یوه لنډه رساله ده چې مونږ به په کښې د اسلامي خلافت تهدابونه ذکر کړو او په درویشتو وجوهو سره به د شیخ ابوبکر بغدادي د تش په نامه خلافت بطلان ثابت کړو.

لاندې ستاسې پام دغو وجوهو ته را اړوو.

د بغدادي د خلافت د بطلان دلائل او وجهې

لومړی وجه :

بغدادي صاحب ځکه شرعي خلیفه نه دی چې د ده خلافت او بیعت د صحابه کرامو له نظریې نه مخالف دی حال دا چې صحابه کرام رضوان الله علیهم اجمعین زمونږ لپاره د حق معیار دی ، ځکه د خلافت په اړه د صحابه کرامو نظر په درې مذهبونو کې منحصر دی او د بغدادي صاحب خلافت له هغه یوه مذهب سره هم سمون نه خوري.

اول مذهب :

د ځینې صحابه کرامو رضی الله عنهم نظریه دا وه چې د خلافت د قیام او مشروعیت لپاره د ټول امت اتفاق شرط دی ، لکه د(مقدمه ابن خلدون په ۱۱۱ص) کې وایي کله چې له علي رضی الله عنه سره بیعت کیده نو:

(ومنهم من توقف حتی یجتمع الناس و یتفقوا علی امام کسعد وسعید و ابن عمر واسامة و المغیرة وعبدالله بن سلام وقدامه بن مظعون و ابوسعیدالخدری و کعب بن عجرة وکعب مالک والنعمان بن بشیر وحسان بن ثابت و مسلمه بن مخلد و فضاله بن عبید وامثالهم من أکابر الصحابة رضی الله تعالی عنهم)

ژباړه : سعد وسعید و ابن عمر واسامة و المغیره وعبدالله بن سلام وقدامه بن مظعون و ابوسعیدالخدری و کعب بن عجرة وکعب مالک والنعمان بن بشیر وحسان بن ثابت و مسلمه بن مخلد و فضاله بن عبید دغو او د دوی په څیر ځینې نورو سترو صحابه کرامو له بیعت نه توقف کړی وو .

بیعت یې نه کاوه او دا نظریه یې درلوده تر څو پورې چې د ټولو خلکو اتفاق نه وي شوی نو بیعت نه کوو او د بغدادي صیب په خلافت باندې سواد اعظم د امت خو لا څه چې سواد اعظم د مجاهدینو بلکه د مجاهدینو دلسمې لسمه برخه خلک هم ورباندې راټول نه دي.

همداراز امام شهاب الدین د (نهایة الارب فی فنون الادب د ۲۰جلد په ۱۲۱صفحه) کې وایي چې د حضرت علي رضی الله عنه لپاره مالک بن کعب الهمذاني رضی الله عنه د دومة الجندل مقام ته لاړ او د هغه ځای اوسیدونکي یې د علي رضی الله عنه بیعت ته راوبلل ، نو د دومة الجندل خلکو له دې څخه انکار وکړ او ښکاره یې ورته وویل چې

(لانبایع حتی یجتمع الناس علی امام فانصرف عنهم و ترکهم)

ژباړه : مونږ تر هغه پورې بیعت نه کوو تر څو چې خلک په یو امام نه وي را ټول شوي نو مالک رضی الله عنه ترې روان شو او هغوی یې په خپل حال پریښودل.

دا یې ورته ونه ویل چې تاسې باغیان یئ او له واجب نه مو انکار وکړ ، د دومره احادیثو څخه خلاف کوئ او که مړه شوئ نو مرګ مو د جاهلیت دی . د خیر القرون زمانه وه ورغلی هم صحابي ؤ او د بیعت غوښتنه هم د معمولي شخصیت لپاره نه کیږي او د دومة الجندل اوسیدونکي هم صحابه یا تابعین ؤ. خو دهغوی نظریه داوه چې که څه هم ته راغلی یې او غوښتنه هم د علي کرم الله وجه په شان شخصیت لپاره کوې خو زمونږ رایه داده ترڅو چې اتفاق پرې نه وي راغلی نو هغه ډول مشروع امام نه دی چې بیعت یې واجب وي

همدغه راز په الکامل فی التاریخ کې وایي چې

(وجاءوْا بسعد بن ابی وقاص رضی الله عنه فقال له علی رضی الله عنه بایع فقال لا حتی یبایع الناس وجاءُوْا بابن عمر رضی الله عنه قال لا حتی یبایع الناس)

ژباړه : حضرت علي رضی الله عنه ته سعدبن ابی وقاص رضی الله عنه ورته راوستل شو علی رضی الله عنه ورته وویل بیعت وکړه ، سعدرضی الله عنه ورته وویل نه یې کوم ترڅو چې خلکو نه وي کړی.

ابن عمر رضی الله عنه هم ورته راوستل شو نو هغه هم انکار وکړ چې ترڅو خلکو بیعت نه وي کړی زه یې هم نه کوم .

سعد ابن ابي وقاص او ابن عمر رضی الله عنهما دواړو په ښکاره ورته وویل چې تر څو خلکو بیعت نه وي کړی مونږ یې هم نه کوو . نه هغوی ځانونه باغیان ، د واجبو او احادیثو پرېښودونکي ګڼل او نه هم علي رضی الله ورته وویل چې تاسو باغیان یاست ، یا د واجبو پرېښودونکي یاست ، او له دومره او دومره احادیثو نه مخالف یاست ، او که مړه شوی نو مرګ مو د جاهلیت دی.

محمد علي الصلابي د خپل کتاب (خلافة عبدالله بن زبیر رضی الله عنه په **۵۵**صفحه) کې وایي

(و عند ما طلب ابن الزبیر من محمد بن الحنیفة وابن عباس رضی الله عنهما المبایعة قالا حتی تجتمع لک البلاد و یتسق لک الناس)

ژباړه : عبدالله بن زبیر رضی الله عنه د محمد بن الحنیفة او ابن عباس رضی الله عنهما نه غوښتنه وکړه چې له ماسره بیعت وکړئ ، نو هغوی ورته وویل چې تر هغه پورې له تاسره بیعت نه کوو چې تر څو ښارونه او خلک په تا را ټول شوي نه وي.

د هغوی دا نظریه نه وه چې د عبدالله ابن زبیر رضی الله عنهما خلافت اعلان شوی دی ، په کافي سیمو یې سلطه هم ده او که بیعت ونه کړو نو له دومره احادیثو سره مخالفت کیږي ، باغیان ګرځو ، که مړه شو نو مرګ مو د جاهلیت

دی بلکه د هغوی نظر داوو چې د خلافت د مشروعیت او قیام لپاره د امت اتفاق شرط دی.

او د بغدادي صیب دتش په نوم خلافت باندې خو صرف د جهادي قوتونو لسمه برخه هم نه دی راجمع شوی نو د هغه خلافت څنګه مشروع کیدای شي ؟

او څرنګه یې موافقت نه کونکی باغي بلل کیدای شي ؟

دویم مذهب :

د خلافت د انعقاد لپاره د ځینې صحابه کرامو مذهب دا دی چې اتفاق د ټول اهل الحل و العقد شرط دی ، یعنې په هر ښار کې چې څومره اهل الحل والعقد وي نو هغه به ټول پرې متفق وي لکه د (مقدمه ابن خلدون د۱جلد په ۱۱۱صفحه) کې وایي:

فلما استشهد عثمان کان الناس متفرقین بالآفاق لم یشهدوا بیعة علي، و اما الذین شهدوها فقد بایع بعضهم وتوقف الآخرون قائلین: لا نبایع حتی یجتمع الناس علی امام واحد ، کما قدمنا آنفا ورأی الاخرون ان بیعته لم تنعقد لافتراق الصحابة اهل الحل یحضر الاّ القلیل ولا تکون البیعة الا باتفاق اهل الحل والعقد ولا تلزم بعقد من تولاها من غیرهم او من القلیل منهم.

ژباړه : چې کله عثمان رضی الله عنه شهید شو نو خلک په ښارونو کې خپاره وو ، د علي رضی الله عنه بیعت ته حاضر نه ؤ او کوم کسان چې حاضر ؤ نو په هغوی کې ځینو بعیت وکړ او ځینو نورو توقف وکړ او ویې ویل چې ترڅو خلک په یو امام نه وي متفق شوي ترهغې پورې مونږ بیعت نه کوو لکه چې مخکې بیان شو . او د نورو صحابه کرامو دا دریځ وو چې د علي رضی الله عنه بیعت د خلافت لا تر اوسه ندی منعقد شوی ، ځکه چې اهل الحل والعقد یوې او بلې خواته خپاره دي ، له ډیرو کمو کسانو پرته نور نه دي حاضر ، او د اهل الحل والعقد له توافق پرته د خلافت بیعت نه تر سره کیږي.

حال داچې خلافت د اهل الحل والعقد له موافقې پرته د بل چا په بيعت نه قائميږي او نه د هغه چا په بيعت سره قايميداى شي چې هغه اهل الحل والعقد وي خو لږ وي.

(و ذهب الى هذا معاوية و عمرو بن العاص و أم المؤمنين عايشة رضى الله عنها والزبير وابنه عبدالله وطلحه وابنه محمد وسعد وسعيد والنعمان بن بشير ومعاويه بن خديج ومن كان على رأيهم من الصحابة الذين تخلفوا عن بيعة على رضى الله عنهم با لمدينه)

او دا مذهب د معاويه ،عمرو بن العاص ، أم المؤمنين عايشة رضى الله عنها ، زبير اود ده د ځوى عبدالله ، طلحه او د ده د زوى محمد ، سعد ، سعيد ، النعمان بن بشير اومعاويه بن خديج او د هغه صحابه كرامو وو چې په مدينه منوره كې د على رضى الله عنه له بيعت نه وروسته شوي وو.

دريم مذهب :

د ځينې صحابه كرامو مذهب دا ده چې د جمهورو اهل الحل والعقد اتفاق شرط دى . او د دريم قول مطابق د علي رضى الله عنه خلافت قائم شوى وو ځكه جمهورو اهل الحل والعقد بيعت ورسره كړى ؤ . ځكه كله چې حضرت عثمان رضى الله عنه شهيد كړاى شو نو اهل الحل والعقد يوه او بله خوا خپاره وو ټول بيعت ته نه وو حاضر مګر زياتره حاضر وو او زياترو بيعت وكړ لكه د ابن خلدون په خپله مقدمه كې وايي:

(فامّا واقعة على رضى الله عنه فان الناس كانوا عند مقتل عثمان متفرقين في الأمصار فلم يشهدوا بيعة على رضى الله عنه و الذين شهدوا فمنهم من بايع)

ژباړه : كومه واقعه چې د حضرت علي رضى الله عنه د بيعت ده نو د عثمان رضى الله عنه د شهادت په وخت كې خلک په ښارونو كې خپاره وو ټول په بيعت كې نه وو حاضر كوم چې حاضر و په هغوى كې ځينو بيعت وكړ.

خو د اهل الحل والعقد موجودو كسانو په غوڅ اكثريت سره بيعت كړى وو . لكه صاحب د (الانتصار فى الرد على المعتزله القدريه ۳ جلد ص ۹۰۰) كې وايي:

(قد ثبتت بيعة علی و امامته ببيعة الجمهور من الصحابه قبل ذالک و انقادوا له وصارت له الشوکة بطاعتهم له).

ژباړه : له ابتداء څخه له علی رضی الله عنه سره بيعت او د هغه امامت د جمهورو صحابه کرامو په بيعت سره ثابت وو ، خو کله چې نورو اصحابو د هغه امامت ته غاړه کيښوده نو د هغوی په اطاعت باندې نور قوت هم ورته حاصل شو.

او په الشبهات حول الصحابة ۱۱صفحه کې شيخ الاسلام ابن تيميه رحمه الله وايي:

و علي بايعه اهل الشوکة و ان کانوا لم يجتمعوا عليه کما اجتمعوا علی من قبل لکن لاريب انه کان له سلطان و قوة بموافقة اهل الشوکة.

ژباړه : د علي رضی الله عنه خلافت د اهل الشوکة په بيعت سره قايم شوی وو ، که څه هم د مخکينيو خلفاؤ په څير ټول خلک پرې متفق نه وو لاکن په دې کې هيڅ شک نشته چې د اهل الشوکة په بيعت قوت او واک ورته حاصل شوی وو .

له پورتني بحث څخه جوته شوه چې د خلافت د قيام په اړه د صحابه کرامو رضی الله عنهم دريځ په درې مذهبونو کې منحصر وو .

لومړی: د ټول امت اتفاق

دوهم : د ټول اهل الحل و العقد اتفاق

دريم : د جمهورو اهل الحل و العقد اتفاق

نو په دې اساس د بغدادي تش په نوم خلافت نه د ټول امت په اتفاق سره قايم شوی ، نه د ټول اهل الحل والعقد په اتفاق سره او نه هم د جمهورو اهل الحل والعقد په موافقې سره . ځکه اهل الحل والعقد - چې تفصيل به يې وروسته راشي - د امت له مخورو علماؤاو د اسلامي ګوندونو له مشرانو څخه عبارت دی.

او له بغدادي سره د امت په رهبرانو ، نړيوالو جهادي علماء کرامو ، مخورو او معتمدو اشخاصو کې هيچاهم بيعت نه دي ورسره کړی ، د ده د بيعت پريکړه

صرف د ده خپلې شورى ورکړې ده چې هيڅ شهرت ، اعتماد او رهبري د امت نه لري.

دويمه وجه :

بغدادي صاحب ځکه خليفه نه دى چې د ده تش په نوم خلافت د اهل السنت والجماعت له عقيدې څخه خلاف دى. ځکه د اهل السنت و الجماعة عقيده دا ده چې خلافت د جمهورو اهل الحل و العقد په موافقې سره قائمېږي او اهل الحل والعقد په امت کې د شان اوشوکت لرونکو ته وايي چې د دوى په موافقت او بيعت سره د خلافت مقصود تر لاسه کيږي چې هغه قدرت او تمکين دى.

شيخ الاسلام ابن اتيميه رحمه الله همدې په خپل کتاب منهاج السنة النبوية کې اشاره کړې:

و امّا قول الرّافضى انّ الامام بعد رسول الله ابوبكر بمبايعة عمر برضاء اربعة فيقال له ليس هذا قول اهل السنة وان كان بعض اهل الكلام يقولون انّ الامامة تنعقد ببيعة اربعة كما قال بعضهم تنعقد ببيعة اثنين و قال بعضهم تنعقد ببيعة واحد فليست هذه اقوال أئمة السنة بل الامامة عندهم تثبت بموافقة اهل الشوكة عليها .(منهاج السنة النبويه ۱جلد ۳۲۳ صفحه)

ژباړه : د رافضي (شيعه) دا خبره چې د نبي کريم صلى الله عليه وسلم نه وروسته ابوبکر صديق رضى الله عنه د عمر رضى الله عنه په بيعت او څلورو کسانو په رضا سره خليفه او امام ګرځيدلى، نو دا د اهل السنت يعنې سنيانو قول نه ده ، اګر که ځينې متکلمين دا خبره کوي چې امامت او خلافت د څلورو کسانو په بيعت سره منعقد کيږي ، ځينې وايي د دوو کسانو په بيعت او ځينې د يوه کس بيعت هم صحيح ګڼي ،خو دا اقوال د اهل السنت د امامانو نه دي بلکه د اهل السنة و الجماعة د ائمه وو په نزد باندې خلافت د هغه چا به بيعت ثابتيږي چې د هغوى په لاس کې واک او قدرت وي.

وروسته زياتوي:

(ولا يصير الرّجل اماماً حتى يوافقه اهل الشوكة عليها الذين يحصل بطاعتهم له مقصود الامامة)

ژباړه : يو سړی تر هغه پورې امام او خليفه نه شي کيدای تر څو چې په دغه امامت او خلافت اهل الشوکة موافقه نه وي ورسره کړې د کومو په موافقه او اطاعت سره چې د امامت مقصود حاصليږي.

شيخ السلام رحمه الله وړاندې وايي:

(فالإمامة ملک و سلطانوالملک لا يصير ملکاً بموافقة واحد ولااثنين ولا اربعةَ الا ان تکون موافقة هؤلاء تقتضي موافقة غير هم بحيث يصير ملکاً بذالک)

ژباړه : خلافت او امامت له پاچاهۍ او واک څخه عبارت ده او پاچاهي د يو کس ، دوه کسانو او يا څلوروکسانو په موافقې سره نه حاصليږي، هو که دا کسان داسې وي چې د دوی له موافقت سره د شاته نورو داسې خلکو موافقت وي چې سړی پرې پاچا کيږي نو بيا صحيح ده

بيا وايي:

(ولهذا قال أئمة السلف من صارله قدرة و سلطان يفعل بهما مقصود الولاية فهو من اولی الأمر الذين امرالله بطاعتهم)

ژباړه : له همدې وجې پخوانيو امامانو ويلي دي چې د چا لپاره داسې قدرت او غلبه حاصله شي چې هغه وربانديې د امامت مقصود حاصلولای شي نو هغه د هغو اولوالأمر له جملې څخه دی چې الله جل جلاله يې مسلمانانو ته د اطاعت امر کړی دی.

د شيخ الاسلام رحمه الله له تصريحاتو څخه څرګنده شوه چې يو سړی تر هغې پورې امام او خليفه نه شي کيدلای تر څو چې هغو کسانو بيعت نه وي ورسره کړی چې د هغوی موافقه د نورو خلکو موافقه وګڼل شي او په دې توګه د ټولو مسلمانانو په رضا او اتفاق سره دغه سړی د اسلام پادشاه يا خليفه ګرځي.

لنډه دا چې د اهل السنت و الجماعت په عقیده کې یو سړی تر هغې پورې خلیفه نشي کیدای تر څو چې د شان او شوکت لرونکي خلک بیعت ورسره ونه کړي ، ځکه د هغوی موافقه د نورو خلکو موافقه بلل کیږي او په امت کې چې کوم جهادي ستر شخصیتونه دي هغه شاته په لکونو مجاهدین لري او په خپلو بې دریغه قربانیو په ترسره کولو یې ډیرې کارنامې ترسره کړې. هغوی د بغدادي صاحب له تش په نامه خلافت سره موافق نه دي نو ځکه د اهل السنت والجماعة د عقیدې په رڼا کې د بغدادي تش په نوم خلافت د اعتبار وړ نه ده.

لکه څرنګه چې شیخ الاسلام د (منهاج السنة النبویة د ۱جلد په ۳۶۰ ص)کې فرمایي :

(فلو بایع عمر وطائفة من الصحابة ابابکر وتخلف الآخرون لم یصر اماما ، وانّما صار اماماً ای ابوبکر بمبایعة جمهور الصحابة الذین هم اهل الشوکة و القدرة و لهذا لم تضر تخلف سعد بن عباده)

ژباړه : که بالفرض عمر رضی الله عنه او د اصحابو یوې ډلې له حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه سره بیعت کړی وای او نورو صحابه کرامو نه وای کړی نو دا امام نه شو جوړیدلی، بلکه ابوبکر رضی الله د هغو جمهورو صحابه کرامو په بیعت سره امام وګرځیده ، چې د قدرت او شوکت خاوندان وو . له همدې امله له بیعت څخه یوازې د سعد بن عبادة رضی الله عنه په شاکیدلو دابوبکر رضی الله عنه خلافت ته کوم زیان ونه رساوه.

خود بغدادي صیب د تش په نوم خلافت باندې د اکثرو اهل الشوکة و القدرة اتفاق نشته).

د منهاج السنة په یوه بل ځای کې ابن تیمیه رحمه الله وایي:

(لابدّ أن یبایع الامام اهل الشوکة ولا یصیر الرجل اماماً حتی یوافقه اهل الشوکة)

ژباړه : ضروري ده چې د امام بیعت به اهل الشوکة کړی وي او تر هغه پورې یو سړی امام او خلیفه نشي کیدای چې تر څو اهل الشوکة ورسره موافق شوي نه وي.

همدارنګه د نظام الحکم فی الاسلام په ۴۴۹ صفحه کې محمد فاروق نبهان وایي

(ان بیعة ابی بکر الصدیق رضی الله عنه تمت بعد مشاورة بین فضلاء القوم و علماء هم و رؤسائهم و هم یسمّون بأهل الحل والعقد)

ژباړه : د لومړي خلیفه بیعت هغه وخت صحیح شو چې کله د مهاجرینو او انصارو د مشرانو علماؤ تر منځ مشوره تکمیل شوه (دا په دې خبره دلالت دی چې د وخت د خلیفه ټاکنه او انتخاب به هغه خلک کوي چې په ټولنه کې غوره وي، مخور وي ، علماء وي او رهبران وي) او همدوی ته اهل الحل والعقد ویل کیږي.

او د بغدادي صیب ټاکنه داسې نه ده شوې ، بلکه د مجاهدینو په ټولنه کې چې کوم مخور مشران دي ، رهبران دي ، مشهور جهادي علماء دي او امت ته یې د معاصر نړیوال جهاد نظریه او فکر ښودلی شاته په لکونو مجاهدین ملاتړي او کومکیان لري ، لکه امیر المؤمنین ملا محمد عمر، دکتور ایمن الظواهري صاحب ، ابومصعب عبدالودود ، د الجزائر د مجاهدینو مشر ، د یمن د القاعدې مشر ناصر الوحیشي، د صومالیا د الشباب د مجاهدینو مشر ، د پاکستان د طالبانو د تحریک مشر ، د مالي د مجاهدینو مشر ، د قفقاز د مجاهدینو مشر ، د شرقي ترکستان (سنکیانګ) ، فلفاین ، اندونیزیا او ایران د مجاهدینو مشران همدغه راز مشهور نړیوال جهادي علماء کرام لکه د جهاد لارښود ابو محمد المقدسي ، ابو قتادة الفلسطیني ، عبدالله المحیسني ، هاني السباعي ، ابو المنذر الشنقیطی او داسې نور،په دې ټولو کې هیچا هم له بغدادي سره موافقه نه ده کړې.

ابن تیمیه رحمه الله په منهاج السنة د۱جلد په ۳۸ صفحه کې د خلافت او رسالت فرق بیان کړی.
چې خلاصه یې داده:
د خلیفه اطاعت د اهل الشوکة تر موافقې پورې موقوف ده .که چیرته اهل الشوکة له خلیفه سره موافقه وکړه بیا یې اطاعت شرعاً واجب ده امّا د رسول اطاعت د اهل الشوکة تر موافقې پورې تړلی نده. بلکه د رسول الله اطاعت فرض دی اګر که یو کس هم موافقه ورسره ونه کړي ولو که ټوله دنیا یې تکذیب وکړي ، لکه په مکه کې د رسول الله صلی الله علیه وسلم اطاعت فرض ؤ . که څه هم په مکه کې له ده سره داسې ملګري او انصار نه ووچې د ده په ملګرتیا وجنګیږي.
همدارنګه د مختصر منهاج السنة په دوهم جلد کې شیخ الاسلام وایي هغه اجماع چې په هغې سره خلافت منعقد کیږي هغه توافق د اهل الشوکة دی ، که اهل الشوکة ډیر نه وي خو چې داسې وي چې د دوی موافقه د نورو خلکود موافقې مقتضي وي نو د دغه اهل الشوکة په موافقې او بیعت سره هم خلافت قایمیږي.
بیا وایي: (هذا هوالصواب الذي علیه اهل السنت وهو مذهب الأئمة کاحمد و غیره)
ژباړه : دا هغه صحیح عقیده ده چې اهل السنت والجماعت یې لري او همدا دټولو امامانو مذهب ده لکه امام احمد او نور.
او بیا وایي: (و أمّا أهل الکلام فقدرها کل منهم بعدد و هی تقدیرات باطلة)
ژباړه : اما متکلمین علماء چې دي نو هغوی هر یوه یو خاص عدد مقرر کړی چې دغه عدد مقررول باطل دي ، د اهل السنت عقیده د اهل الشوکة موافقه ده .
(مجموعة مؤلفات عقائد الرافضه ۴ جلد ۲۲۵ ص و کذا فی منهاج السنة ۸جلد ۲۵۲ص)
د بغدادي صیب په تش په نوم خلافت باندې اهل الشوکة (جهادي رهبران ، نړیوال جهادي علماء او مخور مسلمانان) متفق نه دي.

همدغه راز امام ذهبي رحمه الله دالمنتقى من منهاج الاعتدال په ۵۸صفحه کې وايي:
(و مذهب اهل السنة انّ الامامة تنعقد عند هم بموافقة اهل الشوكة الذين يحصل بهم مقصود الامامة وهو القدرة و التمكين)
ژباړه : د اهل السنة و الجماعت مذهب دا دی چې خلافت او امامت د اهل الشوكة په موافقې سره قائميږي چې د هغوی په موافقت سره د امامت مقصود چې قدرت او واک دی حاصليږي.
او اهل الشوكة و القدرة په مجاهدينو کې له شرقي ترکستان څخه نيولې بيا تر مغرب اسلامي پورې يعنې اندلس پورې له بغدادي صيب سره موافق نه دي.
امام ذهبي بيا په ۵۴۷ صفحه کې وايي د خلافت د صحت لپاره د جمهورو اهل الشوكة موافقه شرط دی. رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي:
(عليكم بالجماعة فان يد الله على الجماعة وعليكم بالسواد الاعظم و من شذ شُذّ فى النار)
ژباړه : د مسلمانانو له ټولي سره لازم اوسئ ،ځکه د الله تعالى مرسته او کومک له جماعت سره وي او په تاسو باندې د سواد اعظم (دمسلمانانوستره ډله)ملګرتيالازمه ده، څوک چې ځانته شو نو ځانته به شي په اور کې.
حال دا چې د بغدادي صيب تش په نوم خلافت باندې جمهور مسلمانان او سواد اعظم خو څه چې لسمه برخه يې هم نه ده پرې متفق او نه ورباندې اهل القدرة و الشوكة متفق دي.
وهبة الزحيلي د(الفقة الاسلامي و ادلته د۸جلد په ۲۹۴ صفحه) کې وايي چې د خلافت په انعقاد کې د اهل السنت و الجماعت مذهب ته اعتبار دی.
وړاندې وايي حقيقت دا دی چې له قرآن ، احاديثو او اجماع څخه په تعين د عدد څه دليل نشته ، دا خبره فقط اجتهادي ده او د عدد په تعين کې تکلف دی او بيعت هغه وخت منعقد کيږي چې د امت موافقه او رضا راشي.
مخکې بيا د۸جلد په ۳۰۰ صفحه کې وايي:

(و الخلاصة ان اختيار الخليفة يتم اساساً ببيعة اكثر المسلمين العامّة)

ژباړه : لنډه داچې اصلاً د خليفه انتخاب هغه وخت تام ګرځي چې د عامو مسلمانانو اکثريت ورسره بيعت وکړي.

نو له دې څخه معلومه شوه چې د بيعت کولو او د بيعت د تام ګرځيدلو ترمنځ توپير موجود ده او بيعت هغه وخت تام ګرځي چې د امت خوښه پرې راشي اما د بغدادي صيب تش په نوم خلافت باندې د امت اکثريت څه چې سلمه او زرمه حصه يې هم نه دي پرې خوښ.

د مجموعة مؤلفات عقائد الرافضه و الرد عليها د۷جلد په ۱۷۳صفحه کې وايي :

(ومن المعلوم انّ اهل السنّة لاينازعون فى أنّه كان بعض اهل الشوكة بعد الخلفاء الاربعة يولّون شخصاً و غيره اوْلى بالولاية منه)

ژباړه : دا خبره ښکاره ده او واضحه ده چې اهل سنت په دې خبره کې هيڅ اختلاف نه کوي چې له خلفاء راشدينو څخه وروسته ځينې اهل الشوکة داسې يو سړی خليفه کاوو چې له هغه څخه پرته د خلافت لپاره نور غوره او وړ کسانو شتون درلود .

له دې نه معلومه شوه چې د اهل السنت و الجماعت په نزد باندې د خلافت د قيام دار و مدار د اهل الشوکة په موافقت کې دی که څه هم د غوره کس په ځای باندې داسې کس انتخاب کړي چې هغه د دغه کس په پرتله غوره او د امامت وړ نه وي.

بيا وايي : (وقد كان عمر بن عبدالعزيز يختار ان يّولّى القاسم بن محمد بعده لكنه لم يطق ذالک لانّ أهل الشوكة لم يكونوا موافقين على ذالک)

ژباړه : د امير المؤمنين عمر بن عبدالعزيز رحمه الله دا غوښتل چې له ځان څخه وروسته قاسم بن محمد خليفه وټاکي ليکن د عمر بن عبدالعزيز پدې قادر نشو ځکه د اهل الشوکة موافقه ورسره نه وه.

له دې څخه معلومه شوه چې د خلافت د قیام لپاره د اهل الشوکة موافقه شرط دی کنه عمر بن عبدالعزیز ښه نیک سړی ؤ خو د ده په انتخاب محمد بن قاسم خلیفه ونه ګرځید. ځکه اهل الشوکة ورسره موافق نه ؤ.

بغدادي صیب به د اهل الشوکة له موافقی پرته څرنګه خلیفه شي؟.

د فضائح الباطنیة په ۱۷۷ صفحه کې امام غزالي رحمه الله وایي:

(و مدار جمیع ذالک علی الشوکة و لا تقوم الشوکة الا بموافقة الاکثریین من معتبری کل زمان)

ژباړه : د خلیفه ګرځیدو ټول مدار په شوکت باندې ده او شوکت یو چاته هغه وخت ترلاسه کیږي چې د دغې زمانې معتبر خلک موافقه ورسره وکړي.

د بحث نتیجه :

د بحث نتیجه دا راوځي چې د خلافت مدار په قدرت او واک باندې دی او دا دواړه هغه وخت یو چاته حاصلیږي چې د زماني اکثره معتبر موافقه وکړي.

په هره زمانه کې معتبر هغه خلک ګڼل کیږي چې په پوره معنی امانت داري او عدالت (له سترو ګناهونو د ځان ساتنه) په کې شتون ولري. د همداسې خلکو پریکړه او انتخاب دټول امت پریکړه ګڼل کیږي او له بغدادي صاحب سره خو د وخت زیاتره معتبر مجاهدین او عام مسلمانان خو لا څه چې لسمه برخه یې هم ورسره موافق ندي.

په الامامة العظمی کې علامه دمیجې رحمه الله وایي: چې مونږ هم د ابن تیمیه رحمه الله رایه غوره بولو ځکه د ده رایه له هغې طریقې سره موافقه ده چې د خلفاء راشدینو په بیعت کې شوې هغه دا چې دوی د ټول اهل الحل و العقد اتفاق هم نه وو شرط کړی او نه هغوی د اهل الحل و العقد شمیر تعین کړی ؤ (یعنې د جمهورو اهل الحل و العقد اتفاق).

همدغې نظریې ته محمد رأفت عثمان دخپل کتاب (رئاسة الدولة فی الفقه الاسلامي په ۲۷۴صفحه) کې، دکتور فواد د(طرق اختیار الخلیفه په ۱۹۳صفحه) کې، دکتور محمد فاروق النبهان د(نظام الحکم فی الاسلام په

۴۷۵صفحه) کې او دکتور محمد عمارة د(ألاسلام و فلسفة الحکم په ۴۴۴صفحه) کې میلان کړی.

قاضي ابویعلی حنبلي (متوفی ۴۵۷ هـ ق) د (الاحکام السلطانیة) په ۲۳ صفحه)کې وایي:

(فلا تنعقد الا بجمهور اهل الحل و العقد قال الامام احمد الامام الذی یجتمع قول اهل الحل والعقد علیه ، کلهم یقول هذا امام و ظاهر هذا انها تنعقد بجماعتهم)

ژباړه : د جمهور اهل الحل والعقدله موافقې پرته خلافت نه قائمیږي ، امام احمد بن حنبل رحمه الله فرمایي: چې شرعي امام او خلیفه هغه دی چې د اهل الحل و العقد اقوال پرې راټول شي یعنې ورسره موافق شي او ټول ووایي چې دا امام دی.

حال داچې د بغدادي صیب تش په نوم خلافت باندې جمهور اهل الحل والعقد لاڅه چې دریمه برخه یې هم نه دي پرې راټول. ځکه زیاتره مخور مسلمانان ، د جهادي خوځښتونو رهبران ، او مشهور حق پالونکي مجاهد علماء د بغدادي صیب له تش په نوم خلافت سره توافق نه لري.

د(الوجیز فی فقه الخلافة په ۴۹صفحه) کې د صلاح الصاوي او محمد عبده وینا هم ذکر شوې چې خلافت د جمهورو اهل الحل والعقد په موافقه سره قائمیږي.

او مخکې زیاتوي:

(وهم العلماء و الرؤساء الذین یرجع الناس الیهم فی الحاجات و المصالح العامه)

ژباړه : اهل الحل والعقدهغه مشهور علماء او رهبران دي چې خلک د خپلو مشکلاتو او عامه مصالحو لپاره ورته مراجعه کوي

محمد رشید رضاء په المنار کې د محمد عبده وینا نقل کړې ده چې اهل الحل والعقد څوک دي ؟

هغه وايي:
(انهم هم الامراء و العلماء و الحكام و رؤساء الجند و سائر الرؤساء و الزعماء الذين يرجع اليهم الناس فى الحاجات و المصالح العامة (دتفسير المنار د۵جلد ۱۸۱ ص)

ژباړه : دا هغه رهبران ، علماء ، حاکمان او د فوځي قطعاتو مشران او قوماندانان او نور هغه مشران دي چې خلک ورته د خپلو مشکلاتو او مصالحو لپاره رجوع کوي.

د بغدادي صيب تش په نوم خلافت باندې د داسې مشرانو هيڅ توافق نشته چې هغه په مجاهدينو کې رهبران ، مشهور علماء ، او د جهادي او فوځي جبهاتو مشران او قوماندانان دي. همدا هغه خلک دي چې د کفر او طواغيتو له سلطې څخه د اسلامي امت د خلاصون لپاره يې نه سترې کيدونکې هلې ځلې کړې.

دريمه وجه :

داچې بغدادي صيب خليفه ندی بلکه د خپلې ډلې جهادي مشر دی دريمه وجه يې دا ده چې د ده بيعت د خلفاء راشدينو له بيعت او خلافت سره ښکاره مخالف دی. ځکه چې د خلفاء راشدينو په بيعت او خلافت باندې ټول امت او يا جمهور امت خوښ او متفق ؤ.

او د بغدادي تش په نوم خلافت باندې نه عام امت او نه د هغوی جمهور او جهادي امت او نه د جهادي امت اکثريت متفق دی ، ځکه په نړيواله سطح چې څومره لويې لويې جهادي ډلې دي چې په لکونو مجاهدين او ملاتړي لري، هغه ورسره متفق نه دي ، بلکه دی فقط خپلې جهادي ډلې خليفه اعلان کړی چې مخکې هم د دغې ډلې امير وو.

د اسلام د لومړي خليفه صديق اکبر رضی الله عنه په خلافت باندې ټول امت متفق وو.

لکه شيخ ناصر بن علي د خپل کتاب (عقيدة اهل السنة و الجماعة فى الصحابة د۵۲۲ او ۵۵۰ صفحو په منځ کې په دې بحث کړی دی او عنوان يې ورکړی چې

بیان انعقاد الاجماع علی خلافته دا باب د دې خبرې په بیان کې دی چې د ابوبکر الصدیق رضی الله عنه په خلافت د ټولو اتفاق او اجماع وه او ویلي دي چې د علي رضی الله عنه څخه لږ تأخیر په دې وجه شوی وو چې مشوره یې نه وه ترې اخیستې مګر دوهمه ورځ علي رضی الله او زبیر رضی الله عنه دواړو په مسجد نبوي کې بیعت وکړ.

په اوله ورځ په سقیفه بني ساعده کې د انصارو او مهاجرینو بارسوخه خلکو بعیت وشو او په دوهمه ورځ په مسجد نبوي کې په خوښي او خوشالي سره عمومي بیعت وشو . او بیا شپږ میاشتې وروسته چې کله فاطمه رضی الله عنها وفات شوه نو علي رضی الله عنه دوهم ځل بیعت نوی کړ . له دې امله د شیعه ګانو دا خبره سمه نه ده چې دې دواړو صحابه کرامو بیعت نه وو کړی ، بلکه دې دواړو بیعت کړی وو.

او بیا یې د خطیب بغدادي په سند نقل کړي

أجمع المهاجرون و الأنصار علی خلافة ابی بکر قالوا له یا خلیفة رسول الله

ژباړه : مهاجرینو او انصارو ټولو د ابوبکر صدیق رضی الله عنه په خلافت اتفاق کړی وو او ابوبکر صدیق رضی الله عنه ته به یې ویل اې د الله د رسول خلیفه.

یو قول دا هم دی چې کله نبي کریم صلی الله علیه وسلم وفات شو نو په دې وخت کې دیرش زره اصحابو شتون درلود هغوی ټولو ابوبکر صدیق رضی الله عنه ته خلیفه وویل او ټول په دې خوښ وو .

وروسته یې بیا په (**۵۵۵**صفحه) کې د حافظ ابن کثیر رحمه الله داقول رانقل کړی دی:

قد اتفق الصحابة علی بیعة الصدیق حتی علی بن ابي طالب و الزبیر بن العوام

ژباړه : ټولو صحابه کرامو د ابوبکر صدیق رضی الله عنه په بیعت او خلافت باندې اتفاق وکړ تر دې چې حضرت علي رضی الله عنه او حضرت زبیر بن عوام رضی الله عنهما هم بیعت وکړ.

یحی بن ابي بکر عامري رحمه الله وایي: وقد کانت بیعته اجماعاً من الصحابة

ژباړه : د ابوبکر رضی الله عنه بیعت د صحابه کرامو په اتفاق او اجماع سره وو.

همدغه راز د اسلام د دوهم خلیفه حضرت عمر فاروق رضی الله عنه په خلافت هم ټول امت متفق وو. ابن سعد رحمه الله د (الطبقات الکبری د۳جلد په ۱۹۹صفحه) کې او ابن الاثیر د (اسد الغابة د۳جلد په ۲۲۲صفحه) کې وايي چې کله ابوبکر صدیق رضی الله عنه عمر رضی الله عنه کاندید کړ نوهغه دیوې بالاخانې له دربچې څخه سر راښکاره کړ او ویې ویل:

(یا أیهاالناس انی قد عهدت عهداً أفترضون به فقال الناس قد رضینا یا خلیفة رسول الله)

ژباړه : اې خلکو ! ما له خپل ځان څخه وروسته د خلافت د مسؤلیت لپاره یو تن مقرر کړی تاسې پرې رضا یئ ؟ نو خلکو وویل : اې د الله جل جلاله د رسول خلیفه ! موږ پرې رضا یو.

د ابن الأثیر او ابن جریر په روایت کې دا هم دي چې ابوبکر رضی الله عنه خلکو ته وویل:

انی قد استخلفت عمر بن الخطاب رضی الله عنه فاسمعوا له و اطیعوا فقالوا سمعنا و اطعنا (تاریخ طبری ۳جلد ۴۲۸ص)

ژباړه : ما په تاسو عمر رضی الله عنه خلیفه مقرر کړ د ده خبرو ته غوږ ونیسئ ، او د ده د حکم متابعت وکړئ ، نو هغوی وویل موږ ومنلو او پیروي یې کوو.

د مسلمانانو د خلیفه په توګه د عمر رضی الله عنه انتخاب له څو مرحلو څخه تیر شوی وو:

اول ابوبکر صدیق رضی الله عنه د اصحاب اهل الحل و العقد یعنې انصارو او مهاجرینو سره مشوره وکړه لکه علامه ابن الاثیر رحمه الله د (اسد الغابه په ۳جلد ۲۲۴ص) کې وايي: استشار المسلمین فی ذالک ..... و شاور المهاجرین و الانصار.

ژباړه : له مسلمانانو څخه یې په دې اړه مشوره وغوښتله، له مهاجرینو او انصارو سره یې مشوره وکړه.

په دوهمه مرحله کې یې له عامو خلکو پوښتنې وکړې لکه د ابن جریر او ابن اثیر دواړو په روایتونو کې راځي

ان ابابکر نزل من مکانه و استفتی الناس بنفسه (أترضون بمن استخلف علیکم)

ژباړه : له خپل ځای نه راښکته شو او په خپله یې له خلکو څخه دا پوښتنه وکړه، زه چې څوک خلیفه درباندې ټاکم تاسې پرې راضي او خوښ یاستئ؟

خلکو ته معلومه وه چې ابوبکر له انصارو او مهاجرینو سره په دې اړه مشورې کړي او هغوی ته یې دا ویلي :

فانی و الله ما ألوتُ من جهد الرأی ولا ولیت ذاقربة و انّی قد استخلفت عمر بن الخطاب رضی الله عنه فاسمعوا له و أطیعوا فقالوا سمعنا و أطعنا

ژباړه : په الله قسم چې ما د رایې په اخستلو هیڅ نیمګړتیا نده کړې، پوره کوښښ مې کړی چې د مناسب کس په باره کې رایه راشي او نه مې درباندې کوم خپلوان ټاکلی، زه په تاسې باندې عمر بن خطاب رضی الله عنه خلیفه ټاکم امر یې واورئ او اطاعت یې هم وکړئ ، نو خلکو وویل هم یې حکم اورو او هم یې اطاعت کوو.

دریمه مرحله کې بیا د عمر بن خطاب رضی الله عنه سره عامو خلکو بیعت وکړ او د دغه بیعت په اساس د مسلمانانو خلیفه وګرځید. لکه چې شیخ الاسلام ابن تیمیة رحمه الله د منهاج السنة په ۱۴۲صفحه کې وایي:

انما صار اماماً لمّا بایعوه و اطاعوه ولو قدر أنهم لم ینفذوا عهد ابی بکر ولم یبایعوه لم یصر اماما

ژباړه : عمر رضی الله عنه هغه وخت امام او خلیفه شو چې عامو خلکو ورسره بیعت وکړ او دهغه اطاعت یې وکړ، او که بالفرض مسلمانانو د ابوبکر صدیق رضی الله عنه وصیت نه وای پر ځای کړی او له حضرت عمر رضی الله عنه سره یې بیعت نه وای کړی نو عمر رضی الله عنه خلیفه نشو جوړیدلای.

همدغه راز د اسلام د دریم خلیفه عثمان بن عفان رضی الله عنه په بیعت هم ټول خلک متفق وو لکه عقیدة اهل السنة و الجماعة په **۲۲۵** صفحه کې یې یو عنوان ایښی: انعقاد الاجماع علی خلافته

یعني د عثمان رضی الله عنه په خلافت باندې د اجماع دانعقاد په اړه باب، بیا یې ددې مسئلې اړوند د سلفو لاندیني اقوال ذکر کړي:

۱ـ ابن أبي شیبه رحمه الله د حارثه بن مضرب نه نقل کوي چې زه د حضرت عمر رضی الله عنه د خلافت پرمهال حج ته ولاړم خلکو په دې کې هیڅ شک نه کاوه چې له حضرت عمر رضی الله عنه نه وروسته د خلافت حق د عثمان رضی الله عنه دی.

حارثه بن مضرب وایي چې په عامو خلکو کې دا فکر اخیستی وو چې هغوی په عثمان رضی الله عنه باندې خوښ دي.

۲ـ حافظ ذهبي له قاضي شریک څخه نقل کوي چې هر کله چې عمر رضی الله عنه شپږ کسیزه شوری جوړه کړه نو هغوی ټول په عثمان رضی الله تعالی عنه باندې متفق شول.

۳ـ ابن سعد په طبقات الکبری کې وایي چې کله عمر رضی الله عنه شهید شو نو بایع المهاجرون و الأنصار و أمراء الأجناد و المسلمون عثمان رضی الله عنه لیکون خلیفة للمسلمین بعد عمر رضی الله عنه ولم یتأخر منهم أحد عن بیعته.

ژباړه : مهاجرو او انصارو او د فوځي قطعاتو قوماندانانو او نورو ټولو مسلمانانو له حضرت عثمان رضی الله عنه سره بیعت وکړ د هغه له بیعت څخه یو کس هم ندی په شا شوی.

بیا مصنف په **۲۲۹** صفحه کې د شیخ الاسلام امام ابن تیمیة رحمه الله دا لاندینی قول نقل کړی

بایع جمیع المسلمین عثمان بن عفان و لم یتخلف عن بیعته أحد

ژباړه: ټولو مسلمانانو له حضرت عثمان بن عفان رضی الله عنه سره بیعت وکړ د هغه له بیعت نه هیڅوک هم وروسته نه شو.

په همدې مخ کې يې د حافظ ابن کثير رحمه الله قول هم نقل کړی:
اجمع الناس على امامة عثمان ويقول: كان عبدالرحمن بن عوف رضى الله عنه يجمع رأي المسلمين برأى رؤوس الناس و اقيادهم جميعاً و اشتاتا ، مثنى و فردى ، مجتمعين سراً و جهراً حتى خلص الى النساء المخدرات فى حجابهن وحتى سأل الولدان فى المكاتب و حتى سأل من يرد من الركبان و الاعراب الى المدينه.

ژباړه : دحضرت عثمان رضى الله عنه په امامت باندې ټولو مسلمانانو اتفاق کړی وو ، مخکې وايې: حضرت عبدالرحمن بن عوف رضى الله عنه د مسلمانانو له مشرانو او له مختلفو خلکو څخه نظرونه راټولول، په اجتماعي او انفرادي ډول سره، په پټه او ښکاره توګه يې ترې نظرونه اخيستل، آن تر دې چې په حجاب کې له ښځو او په مکتبونو کې يې له شاګردانو، او د هغو قافلو له مسافرو او کوچيانو څخه يې هم مشورې راټولې کړلې چې مدينې منورې ته له بهرڅخه راتللې.

طبري دخپل تاريخ په **۴**جلد **۲۳۱**صفحه کې او ابن کثير د البدايه و النهايه په **۵** جلد **۲۲۵**صفحه کې وايي:
دار عبدالرحمن ليااليه يلقى أصحاب رسول الله صلى الله عليه وسلم و من فى المدينه من أمراء الأجناد و اشراف الناس يشاورهم، و لا يخلو برجل الا أمره بعثمان.

ژباړه : تر څو شپو پورې عبدالرحمن بن عوف رضى الله عنه ګرځيده، په مدينه منوره کې يې له جهادي مشرانو او قومي مخورو سره به مشورې کولې نو له هر چاڅخه به يې چې پټه مشوره اخيستله هغوی به ورته د حضرت عثمان رضى الله عنه مشوره ورکوله.

دمنهاج السنة د ۱جلد په **۵۳۲** او په **۵۳۳** صفحه کې شيخ الاسلام امام ابن تيميه رحمه الله وايي:

أقام عبدالرحمن رضى الله عنه ثلاثاً حلف أنه لم يغتمض فيها بكبير نوم يشاور السابقين الأولين و التابعين لهم باحسان و يشاور أمراء الأنصار فأشار عليه المسلمون بولاية عثمان رضى الله عنه و ذكر أنهم كلهم قدموا عثمان رضى الله عنه فبايعوه لا عن رغبة أعطاهم أيها و لا عن رهبة أخافهم بها.

ژباړه : عبدالرحمن بن عوف رضى الله عنه درې ورځې تيرې کړې او قسم يې وکړ چې درې ورځې ما په سم خوب باندې سترګه نده پټه کړې بلکه له مشرانو صحابه کرامو او د دوی له تابعينو سره يې مشورې وکړې همدغه راز يې د انصارو له مشرانو څخه مشورې واخستلې، مسلمانانو ورته د حضرت عثمان رضى الله عنه دخلافت په اړه مشوره ورکړه، عبدالرحمن بن عوف رضى الله عنه وايي چې ټولو مسلمانانو عثمان رضى الله عنه مخکې کاوه، او په خپله خوښه يې ورسره بيعت وکړ ، نه چا تشويق کړي او نه يې ويرولي.

په بخاري شريف کې د عبدالرحمن بن عوف رضى الله قول داسې نقل شوې

انى قد نظرت فى أمر الناس فلم أرهم يعدلون بعثمان رضى الله عنه فبايعه عبدالرحمن و بايعه الناس و المهاجرون و الأنصار و أمراء الأجناد والمسلمون

ژباړه : ما چې دخلکو نظرونه وليدل ومې کتل چې هغوی له عثمان رضى الله عنه سره بل څوک پدې کار کې سيال نه ګڼي، نو عبدالرحمن بن عوف رضى الله ورسره بيعت وکړ همدغه راز دلښکرو مشرانو، انصارو، مهاجرينو او عامو مسلمانانو هم ورسره بيعت وکړ.

په همدې ډول د څلورم خليفه علي رضى الله عنه په بيعت او خلافت هم ټول خلک متفق وو لکه صاحب د (عقيدة اهل السنة و الجماعة فى الصحابة) دخپل کتاب په ۲۸۸ صفحه کې باب تړلی

(الاجماع على خلافة علي)

يعني باب د علي رضى الله عنه په خلافت باندې داجماع په اړه، مصنف وړاندې وايي

ډیرو سلفو لکه امام احمد بن حنبل رحمه الله، ابوالحسن الأشعري رحمه الله او ابونعیم الاصبهاني رحمه الله او نورو علماء کرامو د علي رضی الله په خلافت باندې اجماع نقل کړې.

کله چې د اسلام دریم خلیفه عثمان رضی الله عنه شهید کړای شو، نو د اول خلیفه ابوبکر صدیق رضی الله عنه په ځیر له علي رضی الله عنه سره بیعت هم د مهاجرو او انصارو صحابه کرامو د اهل شوکة لخوا څخه وشو.

لکه صاحب د الفقه الاسلامي د ۸ جلد په ۲۷۷ صفحه کې لیکي:

فبایعه کبار المهاجرین و الانصار فی المدینة و اهل الانصار و المصریون

ژباړه : د علي رضی الله عنه سره په مدینه منوره کې د مسلمانانو د دواړو قوتونو مهاجرینو او انصارو مشرانو ، د ښارونو خلکو او هم د مصر خلکو بیعت وکړ.

علامه ابن الاثیر رحمه الله په اسد الغابة ج ۳ صفحه ۲۱۰ کې لیکي

لماقتل عثمان رضی الله عنه جاء الناس کلهم الی علی کرّم الله وجهه اصحاب محمد صلی الله علیه وسلم وغیرهم کلهم یقولون (امیرالمؤمنین علي) حتی دخلوا علیه داره فقالوا نبایعک فمد یدک فأنت أحق بها.

ژباړه : کله چې عثمان رضی الله عنه شهید شو نو د رسول الله صلی الله علیه وسلم اصحاب او نور مسلمانان علي رضی الله عنه ته راغلل او ټولو ویل چې امیر المؤمنین علی دی، بیا دهغه کور ته ورغلل او ورته ویې ویل موږ له تاسره بیعت کوو نو لاس دې راوغځوه ځکه همدا ته دخلافت وړ یې.

امام طبری رحمه الله وایي چې دې ټولو ورته ویل چې

لا نجد اماماً أحق بهذ الامر منک لا أقدم سابقة ولا أقرب من رسول الله صلی الله علیه وسلم فقال لا تفعلوا فان اکون وزیراً خیراً من أن أکون أمیراً فقالوا لا والله ما نحن بفاعلین حتی نبایعک، قال ففی المسجد فانّ بیعتی لا تکون خفیا

ولاتکون الاّ عن رضا المسلمین فلما دخل دخل المهاجرون و الانصار فبایعوه ثم بایعه الناس.

ژباړه : موږ له تانه بغیر بل څوک د دې مسؤلیت وړ نه ګڼو ځکه مونږ له تانه پرته په اسلام راوړلو کې مخکښ او نبي علیه السلام ته ډیر نیږدې بل څوک نه مومو ، علي رضی الله عنه ورته وویل داسې مه کوئ، ځکه چې زه د وزیر په حیث پاتې شم دا له دې څخه ډیر غوره دی چې امیر شم ، خلکو ورته وویل چې په الله جل جلاله قسم تر څو مو چې بیعت نه وي درسره کړی هیڅ هم نه کوو ، نو علي رضی الله عنه ورته وویل: ښه نو په جومات کې بیعت وکړئ ځکه چې زما بیعت به پټ نه وي او د مسلمانانو په رضا سره به وي (دلته هم د ټولو مسلمانانو رضا شرط ګرځول شوی) بیا چې کله نوموړی مسجد ته داخل شو انصار او مهاجرین هم مسجد ته راغلل لومړی هغوی بیعت ورسره وکړ او بیا عامو مسلمانانو بیعت وکړ.

او صاحب د (عقیدة اهل السنة و الجماعة فی الصحابة) په ۲۲۱ صفحه کې وایي:

وقال عبدالملک الجوینی لا یعبأ بقول من یقول أنّ امامة علِی رضی الله عنه لم یحصل علیها الاجماع

ژباړه : د هغه چا قول د اعتبار وړ نده چې وایي د علي رضی الله عنه په امامت او خلافت باندې اجماع او اتفاق نه وو .

همدغه راز عبدالله بن بطه رحمه الله وایي:

کانت بیعة علی کرّم الله وجهه بیعة اجماع

ژباړه : د علي رضی الله عنه په بیعت اجماع راغلې وه .

بیا یې په ۲۲۲ صفحه کې د حسن بصری رحمه الله دا قول نقل کړی چې:

والله ما کانت بیعة علی رضی الله عنه الاّ کبیعة ابوبکر و عمر رضی الله عنهما

ژباړه : قسم په الله ! د علی رضی الله عنه په بیعت داسې اتفاق ؤ لکه څرنګه چې د ابوبکر صدیق رضی الله عنه او عمر رضی الله عنه په بیعت اتفاق ؤ .

د علي او معاويه رضی الله عنهما د اختلاف وجه :

صاحب العقيدة بيا وايي:

و انّ معاويه رضی الله عنه لم يقاتل علياً على الخلافة و لم ينكر امامته و انما كان يقاتل من اجل اقامة الحد الشرعی على الذين اشتركوا فی قتل عثمان مع ظنه أنه مصيب فی اجتهاده و لكنه كان مخطئاً فی اجتهاده ذالک فله أجر الاجتهاد فقط.

ژباړه : د معاويه رضی الله عنه له علي رضی الله عنه سره د خلافت په سر جګړه نه وه. او نه د هغه له خلافت او امامت څخه منکر وو، د معاويه رضی الله عنه جګړه له دي امله وه چې د عثمان رضی الله عنه په قاتلانو دې حد قايم شي او معاويه رضی الله عنه په خپل ګمان په خپل اجتهاد کې په حقه ووخو په واقعيت کې هغه په خپل اجتهاد کې په خطاء وو. له همدې امله حضرت معاويه رضی الله عنه ته فقط د خپل اجتهاد ثواب دی او بس.

عبدالمالک الجوينی رحمه الله وايي

و معاوية رضی الله عنه ان قاتل علياً فانه لاينكر امامته و لا يدعيها لنفسه و انما كان يطلب قتلة عثمان ظانًّا أنه مصيب و لكنه كان مخطئًا

ژباړه : له علي رضی الله عنه سره د معاويه رضی الله عنه جګړه په دې نه وه چې نوموړی د علي رضی الله عنه له خلافت او امامت څخه منکر وو او يا دا چې ځانته يې د خلافت دعوه کوله، بلکه هغه له علي رضی الله عنه څخه د عثمان رضی الله عنه د قاتلانو غوښتنه کوله، اوپه دې ګمان ؤ چې په دې اختلاف کې زه په حقه يم، خو هغه په خطاء وو.

صاحب د العقيدة بيا په ۷۰۲ ص کې وايي: چې ابودرداء او ابوامامة رضی الله عنهما د صفين د جنګ په وخت کې د معاويه رضی الله عنه خواته ورغلل او ورته ويې ويل چې ته د علي رضی الله عنه سره په څه باندې جګړه کوې؟

زموږ دې په الله جل جلاله قسم وي چې علي رضی الله عنه له تانه او ستا له پلار نه مخکې ایمان راوړی او له تاڅخه نبي کریم صلی الله وسلم ته ډیر نږدې دی او هغه د خلافت لپاره له تاڅخه ډیر وړ دی.

معاویه رضی الله عنه په ځواب کې ورته وویل

أقاتله علی دم عثمان و انّه آوی قتلته

ژباړه : زه د عثمان رضی الله عنه په وینه او په دې خبره ورسره جنګیږم چې د عثمان رضی الله عنه قاتلانو ته یې پناه ورکړې، تاسو دواړه لاړ شئ او دا ورته ووایئ که چیرته هغه د عثمان رضی الله عنه قاتلان قصاص کړي نو د شام په خلکو کې به لومړی زه بیعت ورسره کوم.

له دې نه معلومه شوه چې معاویه رضی الله عنه د حضرت علي رضی الله عنه په خلافت او امامت قانع وو او بیعت ته هم تیار وو، خو ځنډ او اختلاف یې له دې امله وو چې هغه په دې ګمان وو چې د عثمان رضی الله عنه قاتلانو د علي رضی الله عنه په صفونو کې پناه اخیستې، معاویه رضی الله عنه په دې نظر وو چې باید په بیړه غچ ترې واخستل شي، او د حضرت علي رضی الله عنه رایه دا وه چې لومړی دې ګډوډي له منځه یووړل شي، چې کله کراري شي استحکام راشي بیابه د عثمان رضی الله عنه له قاتلانو څخه قصاص واخلو.

صاحب د (العقیدة) بیا په ۷۰۸ ص کې د ابن حزم رحمه الله دا لاندینی قول نقل کړی:

ان ام المؤمنین عائشة الصدیقة والزبیر، وطلحة ومن في معسکرهم لم یبطلوا بیعة علي ولم یطعنوا فیه ولم یبایعوا غیره.

ژباړه : أم المؤمنین عائشة رضی الله عنها، زبیر رضی الله عنه، طلحه رضی الله عنه او هغه کسان چې له دوی سره وو ټولو د علي رضی الله عنه بیعت باطل نه بللو، نه یې بل څه پکې ویل او نه یې له بل چاسره بیعت کړی وو.

ابن تیمیة رحمه الله د (الخلافة و الملک) په ۷۲ ص کې وایي:

و معاویه لم یدع الخلافة و لم یبایع له حین قاتل علیّا و لم یقاتل علی انه خلیفة و لا أنه یستحق الخلافة.

ژباړه : معاویه رضي الله عنه نه د خلافت دعوه کړې وه او نه هغه مهال چا بیعت ورسره کړی وو چې له حضرت علي رضی الله عنه سره یې جنګ وو، او نه یې جنګ په دې خاطر کاوه چې زه خلیفه یم او یا زه د خلافت حقدار یم.

صاحب د شرح المقاصد په ۲۸۳ ص کې وایي:

و نزاع معاویة لم یکن فی امامة علی رضی الله عنه بل فی أنه هل یجب علیه بیعته قبل الاقتصاص من قتلة عثمان رضی الله عنه.

ژباړه : له حضرت علي رضی الله عنه سره د معاویه رضی الله عنه اختلاف د هغه په امامت او خلافت کې نه ؤ، بلکه په دې کې ؤ چې آیا په مونږ باندې د حضرت عثمان رضی الله عنه له قاتلانو څخه د قصاص څخه وړاندې د علي رضی الله عنه بیعت واجب دی؟.

صاحب د المواقف په ۶۲۲ ص کې وایي:

اجمع الناس علی امامة علي

ژباړه : د علي رضی الله په امامت باندې د مسلمانانو اجماع وه.

صاحب د (الانتصار فی الرد علی المعتزله القدریه په ۹۰۰ ص) کې وایي:

د علي رضی الله عنه خلافت او امامت د جمهورو صحابه کرامو په بیعت سره قایم شوی وو، او هغه شوکت او قدرت ځکه ترلاسه کړی وو چې اصحابو د هغه اطاعت کاوه.

صاحب د (الانتصار للصحب و الآل من افتراءات السماوي الضال) وایي:

هغه فتنه چې د علي رضی الله عنه د خلافت په دوره کې راپاریدلې وه، د اهل السنة و الجماعة د محقیقنو علماؤ په نزد په دې کې درې مسئلې وې:

الف: دا اختلاف د خلافت په وجه نه ؤ او نه چا دا دعوه کوله چې د علی رضی الله عنه خلافت نه دی قایم شوی، او نه چا دا ویل چې زه له علي رضی الله عنه څخه زیات د خلافت حقدار یم.

باء: د عثمان رضی الله عنه له قاتلانو ځخه د قصاص په اخیستلو ټول متفق وو، خو اختلاف په تأخیر او تلوار کې ؤ.

جیم: د اصحابو ترمنځ که څه هم اختلاف واقع شوی وو خو د دین په باره کې یې یو پر بل باندې تهمت نه لګاوه، او هرې ډلې دا ویل چې زما مخالف اجتهاد او تأویل کوي، یو بل ته په درناوي او فضیلت قائل وو.

شهید شیخ احسان الهی ظهیر رحمه الله د خپل مؤلفات ۱ جلد په ۴۰ ص کې وایي:

ټول مؤرخین په دې متفق دي چې د علي او معاویه رضی الله عنهما ترمنځ شخړه د عثمان رضی الله عنه د قاتلینو پر سر وو،

حضرت معاویه رضی الله عنه دا فکر کاوه چې حضرت علي رضی الله عنه د حضرت عثمان رضی الله عنه د قاتلانو په اړه بې غوري کوي او دا چې د حضرت علي رضی الله عنه بیعت هغه مهال لازم ګرځي چې کله قصاص واخلي، معاویه رضی الله عنه ولی الدم و، ځکه د عثمان رضی الله له خپلوانو ځخه وو، له همدې امله یې په قصاص اخستلو ټینګار کاوه.

او د علي رضی الله عنه نظر دا ؤ چې په بیعت کې تاخیر او د بیعت ځنډول ناروا دي، علی الفوراو سمدستي بیعت لازم دی.

بیا چې هر کله خلافت د جمهورو اهل الحل و العقد صحابه کرامو په بیعت سره قائم شو نو د همدې شرعي خلافت د تحکیم او قیام لپاره علی رضی الله عنه او ملګرو یې په شام باندې له معاویه رضی الله عنه سره جګړه وکړه.

دکتور ابراهیم د خپل کتاب (طعنة فی قلب علي) په ۲۹ ص کې وایي:

د علي رضی الله عنه په بیعت باندې مشران صحابه کرام، مهاجرین او انصار ټول متفق وو او ټولو اسلامي ښارونو او ملکونو د هغه خلافت ته غاړه کیښودله، لکه حجاز، یمن، فارس، خراسان، مصر، افریقا، الجزیره، اذربایجان، هند، سند او نور... د هغه له خلافت ځخه یوازې د شام خلکو مخالفت وکړ، خو هغوی د امت نیمایي حصې ته څه چې څلورمې حصې ته یې هم نه رسیدل بلکه لسمې ته هم نه رسیدل.

د علي رضی الله عنه حکومت له روم څخه نیولې بیا تر یمن، او د افغانستان څخه نیولې بیا تر شمالي افریقا پورې قایم ؤ مګر د شام خلک ورسره نه ؤ. چې پدې خبره باندې د خلافت او ملوکیت په ۱۳۰ صفحه کې استاذ مودودي صیب هم تصریح کړی.

نو خلاصه دا شوه چې د خلفاء راشدینو په خلافت باندې ټول امت متفق ووخو د بغدادي صیب تش په نوم خلافت دا ډول ندی.

څلورمه وجه :

بغدادي صاحب شرعي خلیفه ندی ځکه چې خلافت له هغه عمومي واک څخه عبارت دی چې د ټول مسلمه امت د دین او دنیا ساتنه کوي، او بغدادي صیب ته دغه ډول واک څه چې لسمه برخه یې هم نه ده ورته حاصل. دا خبره د خلیفه او خلافت له تعریف نه معلومیږي لکه د(ماثر الانافة فی معالم الخلافة د ۱جلد په **۵** ص)کې وایي:

وهی الولایة العامة علی کافة الأمة و القیام بأمورها و النهوض باعبائها

ژباړه : خلافت هغه عمومي واک ته ویل کیږي چې په ټول امت یو چاته حاصل وي، داسې چې دامت ټولې چارې به په غاړه اخلي او دټول بوج په ځان وړي.

په ټول امت عمومي واک او اختیار خو څه کوې بغدادي صیب یوازې د جهادي خوځښتونو بوج هم په ځان نشي اخستلای، چې دهغوی چارې سمبالې کړي، نو له همدې امله یې خلافت ندی منعقد شوی او د خلافت دعوه یې بې ځایه او له وخت مخکې ده.

هو هغه دنورو هغو په څیر دیوه جهادي ګوند امیر دی چې په اوسنیو شرائطو کې داسلام لپاره هلې ځلې کوي.

صاحب د (نظام الحکومة النبویة د ۱جلد په ۷۹ ص) کې خلافت داسې تعریفوي:

هی الرئاسة العظمی و الولایة العامة الجامعة القائمة بحراسة الدین و الدنیا

ژباړه : خلافت هغه لویې مشري، عمومي او جامع واک ته وایي چې دمسلمانانو د دین او دنیا دواړو ساتنه کوي.

او بغدادي صيب د داسې واک لسمه برخه هم نلري چې د مسلمانانو د دين او دنيا ساتنه وکړي.

علامه تفتازانی رحمه الله د خلافت په تعريف کې وايي:

هي رئاسة عامة فی أمر الدين و الدنيا خلافة عن النبي صلی الله عليه وسلم

ژباړه : خلافت په دنيوي او ديني چارو کې هغه عمومي مشرتوب ته ويل کيږي چې له نبي کريم صلی الله عليه وسلم څخه دنيابت په توګه ترسره کيږي.

د ټول مسلمه امت عمومي مشري خو څه چې بغدادي صيب ته خو د مجاهدينو د غالب اکثريت مشري هم نه ده حاصله، نو د خلافت دعوه يې بې ځايه او له وخت څخه مخکې ده.

امام رازی رحمه الله د خلافت په تعريف کې وايي:

هی رئاسة عامة فی الدين و الدنيا لشخص واحد من الاشخاص

ژباړه : په ديني او دنيوي چارو کې د يو کس عام واک او مشرتوب ته خلافت وايي.

بغدادي صيب ته دغه عمومي واک نلري، ځکه تر اوسه پورې په خپله سيمه کې په جګړو کې ښکيل دی، او لا تر اوسه يې د جنګ د ګټلو او بايللو حتمي نتيجه نه ده معلومه. ځکه دغه سيمه د نړيوال صليبي، يهودي، او رافضي ائتلاف تر هوايي او ځمکنيو بريدونو لاندې ده . جنګ به هغه وخت د مجاهدينو په بريا پای ته ورسيږي چې په مجاهدينو له ځمکې او هوا څخه بريدونه ودريږي. او له امن څخه په ډکه فضاء کې خپل نظام جوړ او مستحکم کړي او مجاهدين جوګه شي يعنې د مسلمانانو ددين او دنيا ساتنه وکړي، اما اوس خو ګډوډي او انارشيزم موجود دی.

شيخ رشيد رضا المصري د(الخلافة په ۱۷ ص)کې وايي: د خلافت ګڼ شمير تعريفونو موجود دي خو د ټولو مقصد همدا يو دی يعنې د امت د دين او دنيا عمومي مشري او واک ته خلافت وايي.

علامه جرجانی د امام تعريف دا سې کړی دی:

هو الذي له الرياسة العامة فی الدين و الدنيا جميعاً

ژباړه : امام او خليفه هغه چاته ويل کيږي چې هغه ته د امت د دين او دنيا دواړو عمومي مشري حاصله وي.

او بغدادي صيب ته خو د جهادي ډلو مشري هم په غاړه نده اخيستې د امت عمومي مشري خو ډيره لرې خبره ده نو ده څه له امله خليفه او امام ورته وويل شي، ډير د تعجب وړ ځای دی.

پنځمه وجه :

پنځمه وجه دا ده چې بغدادي صيب خليفه ندی ځکه چې شرعي خليفه له دريو شرعي طريقو څخه په يوه شرعي طريقه مقرر شوی وي:

اوله طريقه : لومړی شرعي طريقه د خليفه د ټاکلو دا ده چې د دغه خليفه ټاکنه اهل الحل و العقد يعنې اهل الشوکة و القدرة وکړي ، بيا د اهل الحل والعقد په انتخاب کې دوه طريقې دي:

(۱) دا چې دغه اهل الحل و العقد به مخکني خليفه تعين کړي وي لکه عمر رضی الله عنه له مشهورو او مخورو صحابه کرامو څخه يوه شپږ کسيزه شوری تشکيل کړې وه چې هغوی مشهود لهم بالجنة هم وو . دهغې شوری غړي عثمان ، علی ، طلحه ، زبير ، سعد او عبدالرحمن بن عوف رضی الله عنهم وو .

(۲) دا چې مخکني خليفه دغه اهل الحل و العقد نه وي تعين کړي لکه د حضرت ابوبکر الصديق رضی الله عنه خلافت، چې دداسې يوې شوری لخوا ندی رامنځته شوی چې له وړاندې ټاکل شوې وي، بلکه د هغه وخت د مسلمانانو د دو سترو قوتونو (انصارو او مهاجرينو) مشرانو ټاکلی وو . ځکه د انصارو او مهاجرينو موافقه او رضاء د ټول امت رضا وه ځکه په همدوی باندې امت اعتبار درلود.

اما د بغدادي صيب انتخاب اهل الحل والعقد نه دی کړی ځکه په شوری د اهل الحل و العقد کې به هغه علماء ، مشران او مخور خلک شامل وي چې هغه په

امت کې د اعتبار وړ وي او د هغوی پر یکړه به د امت پریکړه شمیرل کیږي، سربیره پردې د واک او قوت خاوندان وي ځکه د خلافت مقصد چې واک او تمکین دی هغه په شوکت لاسته راځي، له اهل الحل و العقد څخه پرته د بل چا زید عمر بکر او داسې نورو بیعت ته هیڅ اعتبار نشته لکه امام رملی رحمه الله فرمایي:

وأما بیعة غیر اهل الحل و العقد فلا عبرة لها (نهایة المحتاج ۷جلد ۴۱۵ص).

ژباړه : د اهل الحل و العقد له بیعت پرته دنورو خلکو بیعت د اعتبار وړ ندی.

خو له بغدادي صیب سره هغه خلک موافق نه دي د امت اهل حل والعقد او هغه څوک چې شوکت او قدرت خاوندان دي او د امت مرجع ګڼل کیږي.

د (الموسوعة الفقهیة الکویتیة د۷ جلد په ۱۱۵ ص) کې د اهل الحل و العقد تعریف داسې شوی: یطلق لفظ اهل الحل والعقد علی أهل الشوکة من العلماء والرؤساء و وجوه الناس الذین یحصل لهم مقصود الولایة وهو القدرة و التمکین وهو مأخوذ من حل الامور و عقدها.

ژباړه : د اهل الحل والعقد اطلاق په هغو قوت لرونکو علماؤ، قوماندانانو، مشرانو او مخورو خلکو باندې کیږي چې د مشرتوب مقصد پرې حاصلیږي چې هغه قدرت او تمکین دی. دا (اهل الحل والعقد) له حل او عقد کولو د امورو څخه ماخوذ دی، یعنې هغه خلک چې ټول امور حل او غوټه کولای شي.

له بغدادي سره خو د هغه خلکو موافقت نشته چې هغوی په مجاهدینو کې د قدرت او واک خلک دي لکه ستر جهادي مشران او حقپاله جهادي علماء چې په امانتداری او عدالت پیژندل شوي، له همدې وجې بغدادي د امت په جهادي لیکو کې قدرت او واک نلري، بلکه واک یې یوازې تریوې جهادي ډلې پورې منحصر دی چې هغه جهادي ډله هم داسې په جګړه کې ښکیله ده لکه غاړه کې چې له مرۍ څخه تاو وي.

د عالمګیري په حاشیه فتاوی قاضي خان د۳جلد په ۵۸۴ صفحه کې وایي:

ویعتبر فی المبایعة اشرافهم و اعیانهم

ژباړه : یعنې د خلافت په بیعت کې داعتبار وړ بعیت د مشرانو او رهبرانو دی.
او د بغدادي صیب تش په نوم خلافت تراوسه پورې له داسې یوه بیعت څخه محروم دی، نو له همدې امله یې خلافت هم د منلو وړ ندی.
همدغه راز په (تنویرالانصار متن الدرالمختار باب البغات) ۳جلد ۴۲۸صفحه کې وایي:

و یعتبر فی المبایعة مبایعة اشرافهم و اعیانهم
ژباړه : د خلافت په بیعت کې د مسلمانانو د رهبرانو او مشرانو بیعت معتبر دی د بل چا بیعت ته هیڅ اعتبار نشته.
او بغدادي صیب تش په نوم خلافت سره دامت اشراف او مشران ندي موافق، له جهادي مشرانو او مجاهدو علماؤ څخه هیچا هم بیعت نه دی ورسره کړی.
نو بغدادي به څنګه خلیفه شي حال داچې داعتبار وړ هیچا موافقه نده ورسره کړې؟
همدغه الفاظ د (البحر الرائق باب البغات د۵ جلد په ۱۵۲ ص)کې هم راځي:
و یعتبر فی المبایعة اشرافهم و اعیانهم
ژباړه : د خلافت په بیعت کې اعتبار د مشرانو او رهبرانو بیعت ته دی، او د بغدادي صیب سره د امت هیڅ کوم مشهور جهادي رهبر بیعت نه دی کړی او نه ورسره موافق دی.
د الموسوعة الفقهیة الکویتیة ۷جلد په ۱۱۵ص کې راغلي:
المستقرئ لحوادث التاریخ یجد ان هناک فرقا بین اهل الشوری و اهل الحل و العقد ، اذا الصفة البارزة فی اهل الشوری هی العلم لکن الصفة البارزة فی اهل الحل و العقد هی الشوکة
ژباړه : د تاریخ د پیښو پلټونکی مومي چې د شوری او اهل الحل والعقد په منځ کې ښکاره توپیر موجود ده، او هغه داسې چې د شوری امتیازي صفت علم

ده چې غړي يې بايد علماء وي او د اهل الحل والعقد څرګند صفت واک او شوکت ده چې له کبله يې عزل او نصب کولای شي.

بيا يې دا مثال وړاندې کړی لکه بشير بن سعد رضی الله عنه د ابوبکر الصديق رضی الله عنه په بيعت کې حاضر شوی وو، سره له دې چې نوموړی په اصحابو کې د فتوا ورکوونکو له جملې څخه نه وو، خو په خپله قبيله خزرج کې يو داسې منل شوی شخصيت وو چې خبره يې اوريدل کيده.

او سمهال چې په مجاهدينو کې دچا خبرې ته غوږ نيول کيږي لکه امير المؤمنين ملا محمد عمر مجاهد، دکتور ايمن الظواهري، د شرقي ترکستان امير عبدالحق، د صومال د مجاهدينو امير، د چيچينيا د مجاهدينو امير، د ليبيا د مجاهدينو امير، د پاکستان د طالبانو د تحريک او د نورو جهادي ډلو اميران، د شام د جهادي ډلو اميران بالخصوص لکه د شام القاعده، جبهة النصرة د يمن د القاعدې امير او داسې نور داټول له بغدادي سره موافق نه دي همدغه راز هغه حقپاله جهادي علماء -چې نومونه به يې موږ وروسته ذکر وکړو- چې په ټوله نړۍ کې شهرت لري هغه هم ورسره موافق نه دي.

صاحب د(ماثر الانافة په ۲۳ ص کې اهل الحل و العقد داسې تعريفوي:

اهل الحل والعقد العلماء و الرؤساء و سائر وجوه الناس

ژباړه : اهل حل والعقد هغه علماء، مشران او نور مخور خلک دي.

او د بغدادي صيب ټاکنه چې چا کړې ده هغه دغه ډول نه دي، نه مشهور جهادي مشران او رهبران دي او نه د امت کوم مشهور جهادي او معتمد علماء دي.

له شرقي ترکستان (سينک يانګ) څخه نيولې بيا تر مالي او مراکش پورې په لکونو مجاهدين د نړيوالو طاغوتي نظامونو په وړاندې په جهادي فعاليتونو بوخت دي، او له اوږدې مودې راهيسې يې په دغو طاغوتانو زمکه سره تبې ګرځولې، نو که چيرته په يوه محاذ کې دښمن کمزوری کيږي دا به يواځې د هغه محاذ د مجاهدينو کمال نه وي بلکه دا به دټولې نړۍ دمجاهدينو کمال دی، ځکه دغه دښمن په عين وخت کې په يو بل محاذ کې هم په جګړه بوخت دی چې

دهغې سیمې مجاهدین هلته ددغه دښمن په ځپلو بوخت دي دبیلګې په توګه که نړیوال صلیبي او صهیونستي ائتلاف په نیږدې راتلونکي کې د افغانستان په محاذ کې ماته خوري نو دا یوازې د دغه محاذ د مجاهدینو کمال ندی ځکه دغه دښمن په عین وخت کې په یمن، عراق او شام ، مالي، منځنۍ اسیا ، شرقي ترکستان او قفقاز او داسې نورو محاذونو کې هم له مجاهدینو سره د جګړې په حال کې دی، چې هغوی ټول ترخپله وسه دهمدغه دښمن په سرکوبه کولو بوخت دي، نو که په دې مجاهدینو کې یوڅوک ځان دخلافت او امامت عظمی لپاره انتخابوي په هغه لازمه له دغو ټولو مجاهدینو سره مشوره وکړي، دا یوازې د یوې جبهې حق نه دی، او نه تر یو لوري پورې منحصر دی، چې د یوه محاذ شوری خپل قیادت او امیر د نورو ټولو محاذونو او امت لپاره امیر، رهبر او خلیفه وټاکي، حال داچې د نورو محاذونو له قیادتونو سره یې مشوره هم نه وي کړي او د هغوی رضا هم نه وي ترلاسه شوې.

لنډ مثال یې داسې چې که بالفرض د پاکستان د طالبانو د تحریک امیر شهید شي او یا استعفی وړاندې کړي اوس یوازې د باجوړ ځانګه راپورته شي خپل سیمه ییز مسؤل د ټول تحریک لپاره د امیر په حیث اعلان کړي، حال دا چې له هیچا سره هم مشوره ونکړي، او بیا په ټولو ځانګو له سوات څخه نیولې تر وزیرستان او کراچی پورې په ټولو دا لازمه کړي چې خامخا به اوس بیعت کوئ، نو دا یو شرعي امیر نه شي کیدلای، نوهمدغه راز که دیوې جبهې خلک راپورته شي او په خپل سر خپل سیمه ییز امیر د ټول امت لپاره خلیفه اعلان کړي، سره له دې چې له هیچا سره یې مشوره نه وي کړي، نو هغه په دې کار سره شرعي خلیفه نشي جوړیدلای، لکه د عراق د القاعدي پخوانۍ ځانګې دولة العراق الاسلامیه چې همداسې کار وکړ.

صاحب د(نهایة المحتاج د۷ جلد په ۳۹۰ ص)کې وایي:

اهل الحل و العقد هم العلماء و الرؤساء و وجهاء الناس.

ژباړه : اهل الحل والعقد علماء، مشران او مخور خلک دي.

له مخکښنیو تعریفونو څخه دا خبره جوته شوه چې هر څوک اهل الحل والعقد نه شي کیدلای، بلکه اهل الحل والعقد باید په یوڅو ښکاره صفاتو متصف وي، په ځانګړې توګه شوکت او واک باید ولري، په مسلمانانو کې له داسې رسوخ او نفوذ څخه برخمند وي چې خلک پرې راټول شي او د هغوی رضا د نورو خلکو رضا وګڼل شي.

په مسلمانانو او مجاهدینو کې چې څوک له دغو صفاتو برخمند دي، په ټولنه کې اثر او رسوخ لري او د هغوی رضا د ټولو مجاهدینو او راسخ العقیدة مسلمانانو رضا بلل کیږي هغوی نه له بغدادي صیب سره موافق دي او نه یې ټاکلی، له بغدادي سره یوازې د خپل ګوند اهل الشوکة موافق دي او بس، نوځکه به یوازې د خپلې ډلې امیر وي نه د ټول امت او مجاهدینو.

شیخ رشید رضا د خپل کتاب (الخلافة په ۱۸ ص) کې وایي چې د اهل الحل و العقد له نوم څخه دا څرګندیږي چې دا به د امت د عمومي مشرتوب خاوندان وي او په امت کې به د لوړ مقام او مرتبې خلک وي، په امت کې به با اعتباره اشخاص وي نو دوی چې څوک وټاکي ټول امت به یې خبره مني.

علامه سعدالدین تفتازاني رحمه الله په شرح المقاصد کې د نورو متکلمینو او فقهاء کرامو په څیر وایي چې اهل الحل والعقد د امت علماء کرام، مشران او مخور خلک دي.

شارح رملي ددې دا وجه بیان کړې چې هرکله بیعت کوونکي دغه ډول خلک نه وي چې امت ورپسې روان وي،نو د هغوی په بیعت سره خلافت او امامت نه منعقد کیږي.

لکه په اوسني وخت کې چې د بغدادي صیب خلافت ندی منعقد شوی، ځکه چې داسې یو چا انتخاب کړی چې د اهل الحل والعقد مرتبه کې قرار نلري، لږ تر لږه په جهادي امت کې هم هیڅ شهرت نلري ، بلکه له سره یې څوک نه پیژني.

د بغدادي صاحب ټاکنه د امت د اهل الحل والعقد شورى له لوري نه بلکه د خپل ګوند د اهل الحل و العقد له لوري شوې، ځکه دامت اهل الحل والعقد لکه

ځنګه چې له تعریفونو څخه معلومه شوه هغه خلک دي چې (اهل الشوکة و القدرة) یا (رؤساء الناس و اشرافهم واعیانهم) وي یا (وجهاءالناس او علماء)وي، یا کم تر کمه په جهادي امت کې مخور، رهبران، مشران او رئیسان وي

لکه امیر المؤمنین ملا محمد عمر مجاهد ، دکتور ایمن الظواهري او داسې نور دلیست ترآخره پورې چې پکې دجهادي خوځښتونو مشران قرار لري، دغه لیست موږ مخکې ذکر کړ، که څوک غواړي مراجعه دې ورته وکړي، نو دغو ټولو له بغدادي سره موافقه نده کړې دټول امت موافقه خو ډیره لرې خبره ده.

همدغه راز مشهور جهادي علماء کرام چې امت ته یې د معاصر کفر حقیقت او دجالیت ښکاره کړی، مسموع الکلمة او معتمد خلک دي . لنډه دا چې په نړیواله سطح په مجاهدینو کې یوه مجاهد عالم هم توافق ندی ورسره کړی لکه مشهور جهادي عالم امام الجهاد ابو محمد المقدسي، ابوقتاده الفلسطیني، شیخ عبدالله المحیسنی، شیخ هانی السباعي، دکتور طارق عبدالحکیم، محدث کبیر حافظ الحدیث ناصر العلوان، دکتور سامی العریدي، دکتور ایاد قنیبي، شیخ محمد الحصم، شیخ ابومنذر الشنقیطی، شیخ ابوبصیر الطرطوسي، شیخ ابوهمام السوري، شیخ ابوفراس السوري، د لبنان د مجاهدینو امیر شیخ ماجد الماجد او داسې نور ګڼ شمیر جهادي علماء کرام دي چې یو هم ورسره موافق نه دی بلکه مخالفت یې کوي.

امام ابوحنیفه رحمه الله منصور پاچا ته ویلي وو

لقد ولیت الخلافة وماجتمع علیک اثنان من اهل الفتوی، والخلافة تکون باجتماع المؤمنین و مشورتهم. (دمناقب الامام الاعظم د۲جلد ۱۲ص)

ژباړه : تاته خلافت درکړل شوی خو دوه مفتیان هم ندي دربانديې راټول، حال داچې خلافت د مؤمنانو په مشوره او اتفاق سره وي.

د اهل الحل والعقد يعني اهل القدرة و الشوكة په موافقه باندې د خلافت انعقاد د اهل السنة و الجماعت له سوچه عقيدې څخه ده، لکه امام ذهبی رحمه الله د (المنتقى من منهج الاعتدال په ۵۸ ص) کې وايي:

و مذهب اهل السنة أن الامامة تنعقد عندهم بموافقة اهل الشوكة

ژباړه : داهل سنت مذهب دادی چې دهغوی په نزد باندې دخلافت انعقاد داهل شوکت په موافقې سره راځي.

او شيخ الاسلام بن تيميه رحمه الله په (دمنهاج السنة النبوية د ۱جلد په ۳۱۳ ص) کې وايي:

و امّا قول الرافضی أن الامام بعد رسول الله صلى الله عليه وسلم ابوبكر رضی الله عنه بمبايعة عمر رضی الله عنه برضاء اربعة فليس هذه اقوال ائمة السنة بل الامامة عندهم تثبت بموافقة أهل الشوكة عليها ... او بيا وايي و لا يصير الرّجل اماما حتى يوافقه اهل الشوكة عليها...

ژباړه : ديوه رافضي شيعه دا خبره چې له رسول الله صلى الله عليه وسلم وروسته خليفه ابو بكر صديق رضی الله عنه يوازې دعمر رضی الله عنه په بيعت او دڅلورو کسانو په رضاء کولو سره وګرځيده، نو دا د اهل السنة دامامانو قول ندی، بلکه داهل السنة په نزد دامامت انعقاد هغه مهال ثابتيږي چې اهل شوکت ورباندې متفق شي.

په بل ځای کې بيا وايي: يو څوک ترهغه وخته امام او خليفه نشي ګرځيدلی ترڅو چې اهل الشوکة موافقه نه وي ورباندې کړي.

همدغه راز شيخ الاسلام د مختصر منهاج السنة په دويم جلد کې فرمايي: هغه اجماع چې پرې د خلافت او امامت انعقاد کيږي هغه د اهل الشوکة توافق دی که د اهل الشوکة شمير لږ وي، خو چې په ټولنه کې داسې مقام ولري چې د هغوی موافقه د نورو پاتې خلکو موافقه شميرل کيږي نو بيا هم دهغوی په بيعت سره د يو چا خلافت او امامت قاميږي او بيا وايي:

هذا هوالصواب الذي عليه أهل السنة و هو مذهب الأئمة كاحمد وغيره (منهاج السنة۸جلد ۲۰۱ص).

ژباړه : همدا هغه صحيح مسلک دی چې اهل السنة ورباندې ولاړ دی، او همدا دامامانو لکه احمد او نورو مذهب دی.

د موضوع نتيجه دا شوه چې د أمت اهل الحل و العقد چې په امت له شوکت او قدرت څخه برخمن دي دهغوی له لوري د بغدادي صاحب انتخاب ندی شوی.

دوهمه شرعي طريقه :

دخليفه دجوړولو دوهمه طريقه دا ده چې مخکنی خليفه له خپل مرګ وروسته د يو داسې چا دخليفه ګرځولو پريکړه وکړي چې په هغه کې د خلافت نور شرائط موجود وي نو ددغه شخص خلافت هغه مهال قائميږي چې د لومړي خليفه له وفات وروسته عام خلک بيعت ورسره وکړي.

له بغدادي صاحب څخه خو مخکې داسې کوم خليفه هم نه دی تير شوی چې د ده په اړه يې وصيت کړی وي ځکه دعثماني خلافت له نړيدو وروسته خلافت منقطع شوی او له پيړۍ يا څه زيات وخت راهيسې شتون نلري.

دريمه طريقه : دخلافت په عرش دختلو لپاره دريمه طريقه د تغلب او غلبې ده، چې يو څوک په زور او قوت سره د اهل الحل والعقد د مشورې نه بغير او د مخکني خليفه له وصيت څخه پرته خپل خلافت اعلان کړي خو دا به هغه وخت خليفه ګرځي چې کله يې غلبه کامله شي يعنې ټول خلک په ځان باندې راټول کړي.

هو دومره خبره ده چې تغلب او زورواکي د خلفاء راشدينو د سنتو خلاف دی نبي کريم صلی الله عليه وسلم په هغه چا لعنت ويلی چې په زوره په مسلمانانو ځان مسلط کوي، امام ترمذي رحمه الله په خپل سنن کې روايت کړی:

لعنة الله ورسوله على المتسلط بالجبروت ليعز بذالک من اذل الله و يذل من اعز الله (سنن ترمذي ۴۵۷ ص).

ژباړه : په زورواکي باندې دې دالله جل جلاله دهغه درسول صلی الله علیه وسلم لعنت وي، ځکه هغه په دې کار سره هغه چاته دعزت ورکولو په لټه کې وي چې الله ذلیله کړی، او هغه چاته ذلت رسول غواړي چې الله عزت ورکړی.

همدغه راز د(مسند أبی یعلی د۱جلد په **۴۵۳**ص حدیث نمبر **۹۵۲**) کې روایت دی چې نبي علیه السلام فرمایي:

من تولی قوماً بغیر اذنهم فعلیه لعنت الله

ژباړه : څوک چې د مسلمانانو له خوښۍ پرته پر هغوی حاکم، خلیفه او پادشاه وګرځیده نو په هغه باندې د الله لعنت دی.

له دې سره سره که بیا هم د یو چا غلبه کامله شي نو د مسلمانانو د یووالي په خاطر او د فتنی د دفع په خاطر یې خلافت منعقد کیږي.

خو بغدادي صیب له متغلبینو څخه هم نه شي شمیرل کیدلای ځکه چې غلبه یې ناقصه ده، هرکله یې چې غلبه کامله او تامه شي همغه مهال به خلافت ورته ثابتیږي، لکه د عبدالملک بن مروان خلافت چې هر کله عبدالله بن زبیر رضی الله عنه شهید شو نودی خلیفه شو ، یا لکه عباسیانو چې له امویانو څخه په زور خلافت اخیستی ؤ .

شاه ولی الله رحمه الله د(ازالة الخفاء د۱جلد په **۲**ص)کې وایي:

و طریق چهارم استیلأ است چون خلیفه بمیرد و شخصی متصدي خلافت گردد بغیر بیعت واستخلاف و همه را برخود جمع سازند بایتلاف قلوب یا به قهر، ونصب قتال خلیفه شود ولازم گردد بمردمان اتباع ،فرمان او در آن چې موافق شرع باشد.

څلورمه طریقه : یعنې څلورمه طریقه د غلبې ده په دې توګه چې یو خلیفه مړ شي او یو کس د اهل الحل والعقد له بیعت نه بغیر او دمخکني خلیفه له ټاکلو پرته خلافت ته رامخکې شي او ټول خلک په ځان باندې راجمع کړي د زړونو د ګټلو له لارې، او یا د تشویق یا ویرولو له لارې، او یا د غلبې او جګړې له لارې

نو دغه کس خلیفه کیږي او په خلکو باندې د ده د هغه حکمونو پیروي لازمیږي چې د شریعت موافق وي.

خلاصه دا چې د متغلب خلافت د ضرورت له امله منعقد کیږي ترڅو د مسلمانانو تر منځ وحدت او یوالی راشي او خلک له جنګونو او فتنو څخه خوندي شي، دوهم دا چې هغه وخت به یې خلافت منعقد ګرځي چې دترغیب یا ترهیب له لارې ټول خلک په ځان باندې راټول کړي.

لکه څنګه چې د شاه ولی الله له عبارت نه معلومه شوه چې متغلب به ټول خلک په ځان راجمع کوي.

همدغه راز د مالکي فقهې دکتاب (حاشیة الصاوی علی شرح الصغیر د ۱جلد په۲۰۳صفحه) کې راغلي:

فتحصّل: أن المتغلب لا تثبت له الامامة الاّ ان دخل عموم الناس تحت طاعته و الاّ فالخارج علیه لایکون باغیا کقضیة الحسین مع یزید .

ژباړه : داخبره ثابته شوه چې د متغلب خلافت هغه وخت ثابتیږي چې کله ټول خلک پرې راټول شي. او که ټول خلک په ځان باندې راجمع نه کړي او اطاعت یې ونه کړي نو د هغه په خلاف راوتونکی کس باغي نه دی لکه حسین رضی الله عنه چې د یزید په خلاف خروج کړی وو. ځکه یزید متغلب ؤ او ټول خلک پرې راټول نه وو.

او د(حاشیة الدسوقی علی الشرح الکبیر د۱۸جلد په ۲۷۳ص) کې راځي چې د یزید بن معاویه خلافت ځکه ثابت نه وو چې د حجاز خلکو د هغه بیعت نه وو منلی.

همدا راز مفتی رشید احمد رحمه الله د (أحسن الفتاوی د۶جلد په ۱۹۹ص) کې یوه رساله لیکلې د(ذب الجهول عن سبط الرسول صلی الله علیه وسلم) په نامه په هغه کې یې لیکلي چې امیر معاویه رضی الله عنه یزید انتخاب کړی وو او بیا یې تفصیل بیان کړی

بالأخر بذریعه استیلاء و تغلب یزید کی خلافت منعقد هوګی تهی

ژباړه : معاویه رضی الله د یزید انتخاب کړی ؤ مګر د هغه له وفات نه وروسته ټولو خلکو په دغه انتخاب او وصیت باندې موافقه ونه کړه او د حجاز خلکو له دې بیعت نه انکار وکړ او د کوفی خلکو هم حسین رضی الله عنه ته لیکونه لیږل. نو یزید بیا په زور او قوت سره خپل خلافت کامل کړ او خلافت یې منعقد شو.

مګر کوم وخت چې حسین رضی الله عنه خروج کړی وو په هغه وخت کې غلبه کامله نه وه.

لکه مفتي رشید احمد رحمه الله لیکي

مگر حضرت حسین رضی اللہ عنہ جس وقت یزید کی مقابلی میں نکلی تھی اس وقت تک یزید کا پوری طور پر استیلاء و تغلب نہیں ہوا تھا

یعنې د یزید خلافت د تغلب په طریقه سره وو کله یې چې حسین رضی الله تعالی عنه مقابلې ته راوتلی وو په هغه وخت کې د یزید غلبه نه وه کامله شوې او دا خبره مفتی رشید احمد رحمه الله د یو سوال په ځواب کې کړی چې یزید شرعي خلیفه وو او خلافت یې ثابت وو. نو بیا خو باید حسین رضی الله عنه ته باغي ویل شوي وای ځکه چې هغه خروج کړی وو نو هغه ځواب ورکړی چې که څه هم یزید خلیفه وو او خلافت یې قایم شوی وو مګر په کوم وخت کې چې حسین رضی الله عنه د هغه په مقابله کې خروج کړی وو په هغه وخت کې د ده سلطه او غلبه کامله نه وه راغلې او خلک یې پوره په ځان نه وو را ټول کړي.

همدغه راز امام شافعی رحمه الله هم وایي:

کل من غلب علی الخلافة بالسیف حتی یسمی خلیفة و یجمع الناس علیه فهو خلیفة. (مناقب الامام الشافعی للبیهقی بحواله الامامة العظمی ۲۰۸ ص)

ژباړه : هر هغه څوک چې د تورې له لارې په خلافت غلبه ترلاسه کړي تردې چې خلیفه ورته وویل شي او خلک پرې راټول شي، نو هغه خلیفه دی.

په دې عبارت کې امام شافعی رحمه الله د متغلب لپاره دا شرط ایښی چې خلک ورباندې راجمع شي.

نو په دې اساس دریمه طریقه د خلافت د قیام لپاره تغلب او استیلاء ده خو په دې شرط چې کامله وي.

اما په بغدادي صیب باندې خو ټول امت لا څه چې د مجاهدینو لسمه برخه هم پرې راټول نه دي بناء یې غلبه هم کامله نده، ځکه د اسلامي نړۍ په لسمه برخه یې لا واک نشته، بلکه ده چې په کوم ځای کې خلافت اعلان کړی هغه سیمه هم د جنګ په حال کې ده او د جګړې نتیجه هم لا تر اوسه نه ده څرګنده چې دوی له ماتې سره مخ کیږي او که بری ترلاسه کوي.

د(ارشیف المجلس العلمی د۱ جلد په ۱۷۸۵ص) کې له شیخ حامد علمي څخه پوښتنه شوې چې دولت اسلامي سره بیعت فرض دی او که نه ؟ او که څوک بیعت ورسره ونه کړي هغه شخص ګنهګار دی او که نه ؟ نو هغه په ډیر تفصلي ډول ځواب ورکړی او ویلي یې دي چې اسلامي دولت والا د نورو جهادي ډلو په شان یوه ډله ده

ان هذه الامامة علی غیر اصل شرعي

ژباړه : دا امامت په کوم شرعي اصل نه ده بناء او دیته یې بدعت ویلی دي . او دایې هم ویلي دي چې ملا عمر هم فقط د هغه چا امیر ؤ چې هغه په افغانستان کې د ده تر سلطې لاندې وو .

شپږمه وجه

د یو کس د خلافت د انعقاد او قیام لپاره د یو څو کسانو بیعت کفایت نه کوي بلکه د امت داکثریت موافقه ورته شرط دی او له بغدادي صیب سره یوازې خپلې ډلې بیعت کړی. ټول امت یا د امت د سواد اعظم او یا د مجاهدینو سواد اعظم ورسره موافق نه دي.

سره له دې چې د امت د سواد اعظم اتفاق او رضا د خلافت د قیام او صحت لپاره شرط دی لکه یحیی بن ابی الخیر العمراني المتوفی ۵۸۵ ســـه دخپل کتاب (الانتصار فی الرد علی المعتزلة القدریة د۳جلد په۸۳۶ص) کې وایي:

فنحن نقول لما بايع عمر رضى الله عنه ابابكر رضى الله عنه انعقدت له الامامة لا بمجرد مبايعته و لكن لتتابع الايدي الى المبايعة ولو لم يبايعه عمر رضى الله و بقى الناس مخالفين وانقسموا انقساماً لا يتميز فيه الغالب من المغلوب لما انعقدت امامته لأن شرط ابتداء الانعقاد قيام الشوكة و انصراف القلوب الى المبايعه و مطابقة البواطن والظواهر على ذالک المقصود الذي يرادله الامام وهو جمع شتات الاراء ولا تتفق الارادات المتناقضة على مبايعة ذى رأى واحد الاّ اذا ظهرت شوكته ورسخت فى النفوس رهبته و مهابته ولم يخالفه الاّمن لايكترث بمخالفته.

ژباړه: مونږ وايو چې کله عمر رضى الله عنه د ابوبکر الصديق رضى الله عنه سره بيعت وکړ نو د هغه خلافت منعقد شو خو د خلافت قيام يوا ځې د عمر رضى الله عنه د بيعت له امله نه وو بلکه بيعت ته د پر لپسې غځيدونکو لاسونو يعنې د بيعت د کثرت له امله وو. او که چيرې عمر رضى الله عنه بيعت نه واى کړى او خلک هم په هماغه اختلاف کې پاته واى په کوم اختلاف کې چې د عمر رضى الله عنه له بيعت څخه مخکې وواو د انصارو او مهاجرو ترمنځ داسې ويش منځ ته راغلى واى چې د لږو او ډيرو درک نه واى معلوم چې زيات څوک دي او کم څوک دي نو د ابوبکر الصديق رضى الله عنه خلافت نه قائميده ځکه د خلافت د انعقاد تحقق شرط دا دى چې قوت به موجود وي او د خلکو زړونه به بيعت ته مايل وي او د خلکو ظاهر او باطن به د هغه مقصد سره موافق وي د کوم مقصد لپاره چې خليفه ټاکل کيږي چې هغه په خليفه باندې د مختلفو رايو راټولېدل دي او دا خبره ښکاره ده چې مختلفې رايې د يو کس په بيعت تر هغه پورې نه راټولېږي تر څو يې چې شوکت او غلبه نه وي ښکاره شوې او د خلکو په زړونو کې يې رعب او ويره نه وي راغلي، او معتبرو خلکو يې مخالفت نه وي کړى.

له دې عبارت څخه څو خبرې معلوميږي:

۱. يوازې د يوه کس په انتخاب سره سړى نشي خليفه کيدلاى.

۲ـ چې کله د یوچا دخلافت په اړه خلک داسې سره وویشل شي چې دا معلومات نه کیږي چې کوم موافقین یې زیات دي او که مخالفین نو بیا هم خلافت نه منعقد کیږي.
۳ـ کله چې په غوڅ اکثریت سره دمخالفینو تله درنه شي بیا خو په طریقه اولی سره خلافت نه منعقد کیږي.
۴ـ څلورم دا چې یو څوک دخلافت لپاره کاندید کیږي له وړاندې څخه به د خلکو زړونه دهغه بیعت ته مایل وي او که له مخکې څخه د خلکو زړونه له هغه سره بیعت ته مایل نه وي نو له ابتداء نه د هغه د خلافت انعقاد صحیح نه ده.
وهبة الزهیلي د(الفقه الاسلامي د ۸جلد په ۲۹۵ ص)کې عنوان ایښی(موافقة الأمة ورضاها) یعنې په بیعت کې د امت اتفاق او رضا مطلب د یو کس په بیعت سره خلافت نه منعقد کیږي تر هغې چې د نور امت اتفاق او رضا نه وي. بیا وایي :
قال الغزالی رحمه الله فی بیعة أبی بکر رضی الله عنه ولو لم یبایعه غیر عمر رضی الله عنه وبقی کافة الخلق مخالفین او انقسموا انقساماً متکافئاً لا یتمیز فیه غالب عن مغلوب لما انعقدت الامامة
ژباړه :امام غزالی رحمه الله وایي که چیرې له ابوبکر رضی الله عنه سره له عمر رضی الله عنه څخه پرته بل چا بیعت نه وای کړی او عام خلک ورسره مخالف شوي وای، یا خلک داسې برابر ویشل شوي وای چې د غالب او مغلوب پکې نه شوای معلومیدلای نو دابوبکر رضی الله عنه خلافت نه منعقد کیده.
د امام غزالی رحمه الله د عبارت نه هم هغه لومړنی درې خبرې ښکاره شوې چې موږ یې دعمراني صیب له کلام څخه استخراج کړی وو.
زحیلي وړاندې زیاتوي:
قال ابن تیمیة رحمه الله فی مبایعة ابي بکر: لو قدر ان عمر رضی الله عنه و طائفة معه بایعوه و امتنع سائر الصحابة عن بیعته لم یصر اماما بذالک و انما صار اماما بمبایعة جمهور الصحابة الذین هم اهل القدرة و الشوکة

ژباړه :ابن تیمیه رحمه الله د ابوبکر رضی الله عنه دبیعت په اړه وایي: که بالفرض ابوبکر رضی الله عنه سره عمر رضی الله عنه او ورسره یوې ډلې بیعت کړی وای او پاتې صحابه کرامو له بیعت نه انکارکړې وای نو ابوبکر رضی الله عنه نه شو خلیفه کیدلای بلکه هغه په دې باندې خلیفه شو چې جمهورو صحابه کرامو چې هغه د قدرت او قوت خاوندان وو بیعت ورسره وکړ.

د ابن تیمیه رحمه الله له عبارت نه دا معلومه شوه چې د یوې ډلې بیعت کافي ندی که څه هم د عمر رضی الله عنه په څیر خلک پکې وي.

همدغه راز د حضرت عثمان رضی الله عنه په باره کې وایي:

انه لم یصرا اماماً با ختیار بعضهم (منهاج السنة ج ا ص ۱۴۳)

ژباړه: عثمان رضی الله عنه د ځینې خلکو په انتخاب ندی خلیفه شوی (بلکه له دې امله خلیفه شو چې ټولو خلکو ورسره بیعت وکړ.)

دکتور وهبة الزحیلي همدغه راز د(الفقه الاسلامي وادلته د۸ جلد په ۳۰۰ص) کې وایي:

والخلاصة ان اختیار الخلیفة یتم اساساً ببیعة اکثر المسلمین العامة.

ژباړه: خلاصه داچې د خلیفه انتخاب په اساسي ډول د اکثرو عامو مسلمانانو په بیعت سره پوره کیږي.

له دې نه معلومه شوه چې دخلافت دانعقاد لپاره د اکثره مسلمانانو اتفاق ضروري دی، که ضرور نه وای نو باید چې حسین رضی الله عنه د محدود شمیر کسانو په بیعت خلیفه ګڼل شوی وای، خو هغه ته چا خلیفه ندي ویلي، سره له دې چې غوره انسان وو او د کوفي خلکو ورسره بیعت هم کړی وو، او د خلافت ټول شرطونه هم پکې موجود وو.

د اهل السنت و الجماعت یوه عقیده دا ده چې یو څوک –ولو که قریشي وي- تر هغو پورې امام نشي جوړیدلای ترڅو چې زیاتره مسلمانانو موافقه نه وي ورسره کړي شیخ الاسلام ابن تیمیه رحمه الله په منهاج السنة کې وایې:

ليس قول اهل السنة والجماعة وليس مذهبهم انه بمجرد مبايعة واحد قريشي تنعقد بيعته ويجب على جميع الناس طاعته، هذا وان كان قد قاله بعض اهل الكلام فليس هو قول ائمة اهل السنة والجماعة.

ژباړه: نه دا داهل السنة والجماعة قول دی او نه يې مذهب دی، چې له يو قريشي کس سره ديو څو کسانو په مجرد بيعت سره دهغه خلافت منعقد کيږي او په ټول امت دې دهغه اطاعت واجب شي دا خبره که څه هم ځينې متکلمينو علماؤ کړې ده خو د اهل السنة والجماعة دامامانو قول ندی.

شيخ الاسلام د مختصر منهاج السنة په دوهم جلد کې وايې:

هغه اجماع چې په هغې سره د يو چا خلافت منعقد کيږي هغه موافقه د اهل الشوکة دی که چيرته د اهل الشوکة شمير لږ وي خو د هغوی موافقه د نورو خلکو موافقې لره مقتضي وي نو بيا ددې لږو خلکو په بيعت سره هم د امامت او خلافت انعقاد کيږي.

بيا وايې: هذا هو الصواب الذي عليه اهل السنة و هو مذهب الأمة کاحمد وغيره.

ژباړه : همدا هغه صحيح مسلک دی چې اهل السنة پرې روان دي، او همدا دامامانو دامام احمد او نورو مذهب دی.

امام ذهبی رحمه الله د (المنتقى من منهاج الاعتدال په ۵۸ ص)کې وايې:

و مذهب اهل السنة ان الامامة تنعقد عندهم بموافقة اهل الشوکة.

ژباړه : داهل السنة مذهب دا دی چې دهغوی په نزد د امامت انعقاد داهل الشوکت په موافقې سره راځي.

نو د خلافت د انعقاد لپاره د اکثره امت موافقه يا دغوڅ اکثريت موافقه ضروري ده، خو د بغدادي صيب له تش په نوم خلافت سره د امت اکثريت خو څه چې د مجاهدينو اکثريت هم پرې متفق ندي.

شيخ حارث بن غازي النظاري رحمه الله د (احکام الامارة په ۱۴ ص) کې فرمايي:

ينبغي ان يرشح للخلافة من يوافقه المسلمون ويرضونه، كما روعي هذا الامر في ترشيح الخلفاء الراشدين، فلو اختار اهل الحلّ و العقد اماماً لا يرضاه المسلمون فهؤلاء ليسوا باهل الحل والعقد.

ژباړه: خلافت ته به داسې کس وړاندې کيږي چې مسلمانان ورسره موافقه ولري او پرې راضي وي لکه ددې خبرې لحاظ دخلفاء راشدينو په ټاکنه کې شوی وو، که اهل الحل والعقد داسې يو شخص د خليفه په توګه وټاکي چې مسلمانان پرې خوښ نه وي نو دغه (ټاکونکي) کسان اهل الحل والعقد نه دي.

او د(الامامة العظمى په ۱۵۷ ص) کې وايي:

فقدموا للبيعة منهم اكثرهم فضلاً و اكملهم شروطاً و من يسرع الناس الى طاعته و لا يتوقفون عن بيعته

ژباړه: اصحابو دبيعت لپاره هغه خلک رامخکې کړي، چې ترټولوغوره وو، له ټولو نه په کامله توګه دخلافت شرائط پکې موجود وو، داسې چې عامو خلکو يې طاعت ته بيړه کوله، او په بيعت کې يې ځنډ او توقف نه کاوه.

له دې څخه دا خبره جوته شوه چې اهل الحل والعقد به دبيعت اخستنې لپاره داسې کسان راوړاندې کوي چې په کامله توګه دامامت شرطونه پکې موجود وي، امت پرې خوښ وي، يعني دامت دموافقې او رضا مراعات او لحاظ ضرور دی.

اما بغدادي صيب داسلامي امت په ټولنه کې په دغه مرتبه کې ندی چې خلک يې په بيړه سره طاعت ته راودانګي او ورسره په بيعت کولو کې توقف ونکړي، علاوه لا دا چې د هغه په نسبت په امت کې ډير داسې شخصيتونه شتون لري چې امت پرې راټولیږي او له څو لسيزو راهيسې ځانونه ورته منسوبوي.

په بغدادي صيب باندې دټول امت راټولیدنه خو ډيره لرې خبره ده جهادي خوځښتونه هم نه پرې راټولیږي، ځکه چې نوموړی په امت کې د دومره باور وړ نه وو چې خلکو يې په بيعت کې توقف نه وای کړی.

بغدادي صيب د خلافت له اعلان څخه وړاندې هم يو متنازع فيه شخص وو، يواځې شخصيت يې نه بلکه فکري تګلاره يې هم مشکوکه او اعتراضونه پرې کيدل.

د جهادي ډګر معتبرو علماءکرامو لکه امام الجهاد ابومحمد المقدسي، ابوقتاده الفلسطيني او د سلفي جهادي بهير علماوو ويډيوګانې او ليکنې موجودې دي چې د نوموړي په تګلاره يې نيوکې کړي دي. او ويلي يې دي چې له فکري لحاظه غلوه پکې موجوده ده، او د مسلمان په تکفير او قتل کې له بې پروايې څخه کار اخلي.

کله يې چې دغه اعلام الأمة تاييدنه کوي چې په جهادي امت کې دروند مقام لري، په بيعت او تاکيد يې لږ تر لږه جهادي امت را جمع کيږي، نو اعتبار يې بلکل ختميږي، او دا خبره هم معلومه ده چې امت ندی پرې خوښ نو ښکاره خبره ده چې خلافت يې هم ندی منعقد.

اومه وجه

دبغدادي د خلافت د بطلان اووم دليل داده چې بغدادي دامت لس حقوق نشي ادا کولای ځکه د يوه خليفه خلافت هغه وخت مشروع ګرځي، بيعت او کمک کول يې واجبيږي چې د امت او رعيت لس حقوق ادا کولای شي وروسته به په تفصيل سره دغه لس حقوق ذکر شي.

د(منهاج السنة النبوية په ۳۶۳ ص) کې شيخ الاسلام امام ابن تيميه رحمه الله ددې مسئلې لپاره يو مثال ذکر کړی دی

وهذا مثل كون الرجل راعيا للماشية متى سلمت اليه بحيث يقدر ان يرعاها كان راعيا لها والاّ فلا. ژباړه: د خليفه مثال د يو شپون په څير دی کله چې رمه ورته وسپارل شي نو که په څرولو يې قادر وي شپون ورته ويلی شو او که نه نو شپون نه بلل کيږي.

د امت دغه لس حقوق چې څوک نه شي ادا کولای هغه خليفه نه شي جوړيدلی که څه هم د اهل الحل والعقد شوری مقرر کړی وي او دامامت ټول شرائط پکې

شتون ولري، ځکه خلافت خو د رعیت او راعي تر منځ عقد دی. هرکله چې خلیفه د امت حقوق نشي ادا کولای نو که څه هم د هغه انتخاب په سمه توګه شوی وي بیا یې هم خلافت غیر منعقد ده.

که څوک بیعت ورسره ونکړی نه ګناهګار دی، نه یې مرګ د جاهلیت ده او نه د خلافت د احادیثو تارک بلل کیدای شي.

د بغدادي صیب په اړه مونږ مخکې واضحه کړه چې د انتخاب طریقه یې د راشدینو خلفاوو له سنت او طریقې او له هغو دریو شرعي طریقو څخه خلاف ده چې مخکې ذکر شوې، داهل السنة و الجماعت له عقیدې څخه هم خلاف ده او امت هم نه ده پرې خوښ او نور...

برسیره پر دې چې په خلیفه باندې د امت کوم لس حقونه دي چې لازماً به یې امت ته اداکوي کنه خلافت یې باطل ده نه ورسره بیعت واجب دی، نه یې اطاعت لازم دی او نه یې نصرت فرض دی، بغدادي صیب دهغو په ادا کولو کې هم پاتې راغلی.

هغه لس حقوق په لاندې ډول دي:

امام ماوردی رحمه الله د (الاحکام السلطانیه په ۵ ص) او امام ابویعلی د (الاحکام السلطانیه په ۲۸ ص) کې وایي:

والذي یلزمه من الامور العامة عشرة اشیاء

ژباړه: د امت هغه لس حقوق چې په خلیفه باندې لازم دي په لاندې ډول دي.

۱ـ احدها حفظ الدین

ژباړه: یو له هغو حقوقو څخه د دین ساتنه او حفاظت دی.

بغدادي صاحب نشي کولای چې د فکري ارتداد له هغه سیلاب څخه د امت د دین حفاظت او ساتنه وکړي چې د نړیوالو او سیمییزو مطبوعاتي ادارو، لا دینه تعلیمي نظامونو، منحرفو تګلارو، دین او اخلاق ورانوونکو بهیرونه، تنظیمونه او داسې نور وسائلو له لارې په مسلمانانو باندې راروان دی.

دبغدادي وس نشته چې ددغو تلويزوني چينلونو اوادارو په وړاندې يوکلک ديوال رامنځ ته کړي چې د اسلامي مصالحو او د دعوتي لاسته راوړنو تهدابونه نړوي، مسلمانانو ته په شاتو کې زهر ورکوي، داسلامي امت په رګونو کې په ځانګړې توګه په ځوان کهول کې فکري ارتداد ترويجوي او فحشاء خپروي، او نه بغدادي ددې توان لري چې دټول امت په کچه داسې يو دعوتي چاپيريال رامنځته کړي چې په تدريجي ډول ځوانان داسلامي ارزښتونو اوج ته ورسوي، د قرآن او سنت له موازينو سره يې برابر کړي، ځکه هغه بې چارګۍ خپله په جګړه کې داسې راګير دی لکه بنګړۍ چې له مړونده څخه تاو وي، نوموړی اګرکه د اسلامي نړۍ په يوه وړه ټوټه د واک دعوه لري خو ځمکني حقايق راښيي چې هغه ټوټه هم له هوا او ځمکې څخه د نړيوال صليبي، يهودي او رافضي ائتلاف تر بريدونو لاندې ده، او لا تر اوسه يقيني نه ده چې جګړه به د چا په بري او ماتې پای ته رسيږي.

۲ـ الثاني تنفيذ الاحکام

ژباړه: له لسو حقوقو څخه دوهم يې داسلامي احکامو تنفيذ ده.

بغدادي صيب له دې څخه عاجز دی، چې داسلامي امت په زياتره برخه دغراء محمدي شريعت احکام تطبيق کړي، په يوه وړه جګړه ځپونکې ټوټه باندې د استقرار او استحکام کوښښ کوي.

۳ـ الثالث حماية البيضة والذب عن الحريم ليتصرف الناس فی المعايش و ينتشروا فی الأسفار آمنين من تغرير بنفس و مال

ژباړه: له لسو حقونو څخه دريم يې ددښمنانو له يرغل څخه د مسلمانانو ساتنه او داسلامي زمکې له حريم څخه دفاع ده، ترڅوخلک له بدني او مالي تاوانونو څخه په امن کې خپل کارونه او سفرونه ترسره کړي او دژوند چارې پرمخ بوځي.

بغدادي صيب امت ته له دې حق ورکولو څخه هم قاصر دی، ځکه د مسلمانانو هيوادونه، او ټاټوبي د نړيوال کفر او دهغو دلاسپوڅو په اختيار کې دي، د

مسلمانانو عزتونه لوټل کیږي، مالونه یې غلاکیږي، او زمکې یې غصب کیږي، چې بغدادي یې په ساتنه کې هیڅ هم نشي کولای. عام مسلمانان خو پریږده د مجاهدینو په ساتنه او هغوی ته د امکاناتو په برابرولو کې هم بې وسه ده، مجاهدین په ځنګلونو او دښتو کې اوسیږي، نه سر پناه لري او نه کاري امکانات، خپله بغدادي بې چاره هم د جنګ په خطرناک حالت کې ښکېل دی، په کومه سیمه کې چې دی او ملګري یې اوسیږي هغه هم کاملاً د جنګ په بدترین حالت کې قرار لري. نو یو څوک چې په داسې حالت کې واقع وي څنګه به یې په امت بیعت واجب شي ؟ او څنګه به دنور امت ساتنه وکړلی شي؟

۴ـ الرابع اقامة الحدود

ژباړه :څلورم حق له لسو حقوقو څخه د شرعي حدودو قائمول دي، ترڅو د مسلمانانو ناموسونه ونه لوټل شي او حقوق یې پایمال نه شي.

بغدادي صیب د اسلامي نړۍ په زیاتره سیمه کې شرعي حدود نه شي جاري کولای او نه یې په لرې راتلونکې کې امکان ترسترګو کیږي، په کومه سیمه کې چې د تسلط دعوه لري په حقیقت کې هغه د جګړې اصلي ډګر ده، د ښمن هم لا په میدان کې د پوره قوت په حال کې ده او مهمه یې لا داچې نهایي نتیجه کوم لوري ته کږه نه ده . د پخوا په څیر نه ده چې په څو ورځو کې یې نتایج رابرسیره شي بلکه داوسني وخت جنګونه چې دټکنالوژۍ دور دی په کلونو دوام کوي. نتیجه به هغه وخت ښکاره کیږي چې د ښمن هوایي او ځمکنی بریدونه بند کړي او میدان پریږدي.

که موږ دمجاهدینو او داسلام ددښمنانو ترمنځ دروانې جګړې تحلیل وکړو نوداسې ښکاري چې د جګړې ساحه نوره هم په پراخیدو ده، الله مکړه ابتلاء به نوره هم زیاتیږي مسلمانان به لازیات له ستونزو سره لاس او ګریوان کیږي، د جګړې ډګر ته به نوي نوي لوبغاړي راوړاندې کیږي، دا لا تراوسه لرې ده چې سیمه به پوره د مجاهدینو تر کنترول لاندې راشي چې خپله هم د امن احساس وکړي او د سیمې اوسیدونکو ته هم مکمل ډاډ ورکړل شي.

نو په داسې له کړکیچ څخه ډک حالت کې پکار دا ده چې په یووالي، همغږی او وحدت باندې زور واچول شي، نه دا چې د خلافت دعوه وکړل شي او هغه هم د جهادي رهبرانو او قوتونو له موافقې پرته.

اما د جهادي حرکتونو او تنظیمونو مشروعیت او قانونیت لغوه کول، خپل بیعت په مسلمانانو او مجاهدینو واجب ګڼل، دا ویل چې له دې بیعت څخه پرته که څوک مړ شو نو مرګ یې د جاهلیت دی او دا ویل چې په بل جهادي حرکت او اسلامي ډله کې جهادي فعالیت ناروا دی، دا هسې خندونکې او غولونکې دعواوې او خبرې دي چې له شرعي او ځمکني حقایقو سره یې هیڅ ډول اړخ نه لګوي، برسیره پر دې دغه ډول درواغجن رغونه دمجاهدینو بې دریغه قربانی ضائع کوي، دمجاهدینو دویشل کیدو او دهغوی دصفونو دټوټه کیدو سبب ګرځي، په اسلامي نړۍ کې د رښتوني اسلامي خلافت د قیام او د اسلامي خاورو د ازادۍ لپاره د خارق التاریخ او خارق العادت قرباني ورکونکو مجاهدینو تر منځ فکري او سیاسي اختلافاتو ته لمن وهي چې په پایله کې به یې خدای مکړه یوه ستره فتنه او بد بختۍ رامنځته شي.

اوسمهال د اسلامي نړۍ په ټولو محاذونو کې دفاعي جګړه روانه ده، د الله دلاري مجاهدین د طاغوتی کفر له مستقیم او غیر مستقیم اشغال د اسلامي خاورې (له چیني ترکستان څخه نیولې بیا د فرانسې تر پولو تر اندلس پورې)ازادول غواړي.

څوک چې له شرعي علم سره څه نا څه بلدتیا لري پوهیږي چې دفاعي جهاد په هیڅ شرط ندی مشروط، تردې چې امام ته هم اړتیا نه لري، لکه ابن قدامه رحمه الله وایي:

فان عدم الامام لم یؤخر الجهاد لان مصلحته تفوت بتاخیره (المغنی ۱جلد ۳۷۴ ص)

ژباړه : که چیرې خلیفه شتون نه درلود نو جهاد به نه ځنډول کیږي ځکه په ځنډولو سره د جهاد ګټه له منځه ځي.

نبهانی رحمه الله وايي:
فوجود الخليفة لا دخل فی فرض الجهاد فرضٌ سواءٌ كان هناک خليفة للمسلمين ام لم يكن(الشخصية الاسلامية ۱۳۲ ص)
ژباړه : فرض عين جهاد لپاره د خليفه موجوديت پورې هيڅ اړه نه لري، بلکه دفاعي جهاد فرض عين دی که خليفه وي او که نه وي.
شيخ الاسلام ابن تيميه د (الفتاوی الکبری جلد ۸ ص ۳۹۹ کې وايې:
واما قتال الدفع فهو اشد انواع دفع الصائل عن الحرمة والدين فواجب اجماعا، فالعدو الصائل الذي يفسد الدين والدنيا لاشيء اوجب بعد الايمان من دفعه، فلا يشترط له شرط، بل يدفع بحسب الامكان.
ژباړه: اما دفاعي جهاد چې په ناموس او دين باندې ديرغل کونکي دفع کول دي، نو هغه دټول امت په اجماع سره واجب دی، نو هغه يرغل کوونکی دښمن چې دين او دنيا فاسدوي له ايمان وروسته دهغه له دفع کولو څخه بل ستر واجب نشته، ددې کار لپاره کوم شرط هم نه شته بلکه دامکان په اندازه به دفع کيږي.
همدغه خبره هندي سلفي عالم نواب صديق حسن خان هم د(الروضة الندية د۳جلد په ۴۸۰ص)کې ويلي وو او شيخ مسلم دوست ملاک الامجاد ص۲۰۱ کې کړې.

۲ـ السادس جهاد من عاند الاسلام بعد الدعوة:

ژباړه : د وخت په خليفه باندې له لسو حقونو څخه شپږم يې داده چې د اسلام له عنادګرو دښمنانو سره به له دعوت وروسته جهاد کوي، يعني لومړی به دعوت ورکوي که قبول يې نه کړ نو جزيې ته به يې رابولي که له جزيې څخه يې هم انکار وکړ نو بيابه جهاد ورسره کوي.
اوس مهال مونږ او بغدادي صيب د دفاعي جنګ په حالت کې يوچې د مسلمانانو اکثريت حقوق نشو ادا کولای دا مو په وس نه ده پوره چې د کفارو لور ته د جهاد لپاره لښکر وليږو نو اسلام ته دعوت او جزيې ته اماده کول خو يې

لا ډیره لرې خبره ده، بغدادي چې ددغه حق له اداء کولو څخه هم ناتوانه دی په څه باندې ځان د خلافت مدعي بولي؟.

له(۴۰) څلویښتو کلونو را پدیخوا یعني د افغانستان د جهاد له شروع څخه ترننه پورې دا کوښښ روان دی چې په اسلامي نړۍ کې دومره ټوټه ازاده کړو ترڅود امن په فضا کې خپل جهادي او دعوتي پلانونه تشکیل کړو او د خپل قیادت ساتنه پکې وکړو. خو تراوسه پورې زموږ هڅو نتیجه نده ورکړې، ځکه په هر ډګر کې دښمن په پوره قوت سره موجود دی، دارام ساه اخستلو ته مونه پریږدي ، نو په داسې یو حالت کې په درواغجنو دعوو او تشو شعارونو خوله ځیرول څه معنا ؟ دغه ادعاوې د اسلامي او جهادي ډلو ترمنځ بې اعتمادي، ګډوډي او اختلاف ته له زمینه سازي پرته بله هیڅ ګټه نه لري.

۷ـ والسابع جباية الفئ و الصدقات:

ژباړه :اووم حق په خلیفه د مسلمانانو دا ده چې مال فیء او د مسلمانانو له سرمایه دارو کسانو څخه به زکاتونه راټولوي، او مسکینانو ته به یې ورکوي، دا په خلیفه باندې له شرعي واجباتو څخه دي په دې کې به نه نرمي کوي او نه به ظلم.

بغدادي صیب بې چاره په دې کې هم بې وسه ده د امت له زیاتې برخې زکاتونه نشي راټولولی، او په کوم ځای چې واک او سلطه لري هغه ډیر ضعیف ده ځکه هغه سیمه د جګړې په حالت کې دی په ښکاره تبارز نشي کولای فقط د څو دقیقو ویډیو یې نشر کړې ده او بس. نو چې دامت د زیاتره مسکینانو حق نشي ورکولای بیعت به یې څنګه پرې واجب شي !؟

۸ـ والثامن تقدير العطايا و مايستحق فی بيت المال:

ژباړه :له لسو حقونو څخه اتم یې له بیت المال څخه د حق دارو معاشونه او حقونه ویشل دي.

بغدادي صاحب په دې کې هم پاته راغلی دی یوائې د خپلې ډلې اعضاو ته تنخاوې ورکولی شي او بس، او یا که ډیر زور ووهي ایله د هغې سیمې خلکو ته

به یوڅه ورکړي چې د هغه د ډلې تر سلطې لاندې ده، ځکه دا د استحکام او قرار حالت نه دی چې یو نظام او سیستم دې موجود وي او په اسلامي نړۍ کې دې خلکو ته په دغه نظام کې دندې ورکړي او چلونکو ته یې تنخواورکړي او هر مستحق مسلمان ته له بیت المال څخه خپل حق ورکړي.

فقط یو جګړییز حالت ده که چېرې په دې سیمه کې امنیت، استحکام او استقرار راشي او د سیمې بارسوخه جهادي ډلې، جهادي مشران او عمده شخصیتونه پرې راټول شي نو د یو سیمه ئیز آمر په توګه به ومنل شي نه د یو خلیفه په توګه.

فی الحال خو هماغه سیمه هم د خونړي جنګ په حال کې ده، حتی دتش په نوم خلافت پلازمینه رقه هم ترګڼ شمیر تهدیدونه لاندې ده، ټوله سیمه دمختلفو ډلو تر اثر لاندې ده. چې داحرارالشام، جبهة النصرة، الجبهة الاسلامیه، جیش الحر، د عراقي نظام، د سوریې د نظام او نورو وړو او لویو جنګي او جهادي ډلو ترمنځ د کشمکش په حال کې ده، او یو بل ته عجیب نسبتونه کوي. نو په یو داسې حالت کې د یوې داسې ډلې له خوااعلان شوی خلافت مشروع ګڼل، بیعت نه کونکی د خلافت د احادیثو تارک بلل او مرګ یې د جاهلیت مرګ ګڼل یقیناً چې یو سرسري، غیر شرعي، جذباتي او په حزبي تعصب ولاړه خبره ده او بس. او د نبوي احادیثو له بې ځایه حمل او نصب پرته بل څه نه دي.

۹ـ التاسع استکفاء الأمناء و تقلید النصحاء:

ژباړه: له لسو حقوقو څخه نهم یې دا چې کار به اهل کار ته سپاري د هرمنصب لپاره به امانت داره او خیرخواه خلک مقرره وي.

بغدادي صیب او ملګري یې بې چاره ګان لا تر اوسه د دې حالت وړتیا هم نه لري ځکه ټوله ساحه د یوه ورانوونکي او درنې جګړې په جریان کې ده، اما یو ساعت ودوه ساعته عسکري جشن او دوسلو او موټرو نمائش او بیا یې په سیډیانو کې نشرول ترڅو خلک ومني چې دوی ته استیلاء حاصله ده نو دا یوازې دامت په سترګو کې دخاورو شیندل دي، لدې لارې دوی غواړي د مسلمانو ځوانانو

عواطف او جذبات راجلب کړي، نو ځکه پدې ډول حالاتو کې هیڅوک نشي کولای دټولو مسلمانانو چارې په غاړه واخلي، دچارو لپاره وړ کسان وټاکي او یا یې انتخاب کړي.

چې کله دغه رنګه حال وي نو هیڅ یوه تنظیم او ډلې ته نده پکار چې پدې ډول پوده ادعاوو او درواغجنو شعارونو په امت کې تفرق راولي، صفونه یې ټوټه ټوټه کړي، د امت لوی جهادي مشران، اولیاءالله او حق پاله علماء باغیان وګڼي او د خلافت په اړه دوارد شویو احادیثو تارکین یې وبلي او نور ګڼ شمیر بهتانونه او تهمتونه ورباندې پورې کړي.

دا دی له اوږد انتظار او سترو قربانیو وروسته اسلامي امت عمري فتوحاتو ته نږدې شوی، او مجاهدین یې داسې په بیړه دبریا په لور ګامونه اخلي لکه تږی د یخو اوبو په لور، نو له وخت مخکې دمیوې شکولو هڅې دشهیدانو وینې، دیتیمانو او کونډو آهونه ضائع کوي، یو چا څومره ښه ویلي دي: من استعجل الشيء قبل اوانه عوقب بحرمانه

ژباړه: څوک چې له وخت مخکې دیو شي دحاصلولو هڅه کوي هغه ته به دهغه شي څخه دمحرومیت عقاب ورکول کیږي.

۱۰ـالعاشر ان یباشر بنفسه مشارفة الأمور و تصفح الأحوال:

ژباړه: له لسو حقوقو څخه لسم او وروستی حق داده چې په خپله به د کارونو څارنه او کتنه کوي او دحالاتو معلومات به کوي.

په اوسني وخت کې دا حق ادا کول هم له امکانه لري خبره ده، ټول مسلمه امت خو پریږده په کومه سیمه کې چې بغدادي صاحب او تنظیم یې شتون لري هلته هم د کارونو څارنه او د حالاتو معلومات ترلاسه کول ناممکن دي ځکه بغدادي صیب خپله ځان نه شي ښکاره کولای، په سمبولیکه توګه د خلافت دعوه او د موصل په یوه جومات کی د یو څو دقیقو لپاره مختصره خطبه او لمونځ ورکول او بیا له سترګو پناه کېدل فقط دخپل رسوخ او خپل لور ته دمسلمانو ځوانانو د عواطفو او جذباتو د اړولو هڅه وه، په داسې اضطراري حالت کې طبعي خبره ده

چې د امت له حالاتو ځان خبرول او د کارونو پخپله څارنه ناممکنه ده ، ځکه هغوی په جنګي حالت کې قرار لري چې په نړدې راتلونکي ې د حتمي نتیجې معلومات امکان نه لري، د سیمې استراتیژیک، نظامي، اقتصادي او مذهبي اهمیت ته په کتو ویلای شو چې په سیمه کې به په راتلونکې کې د جنګ ساحه نوره هم پراخه شي او نوي نوي قوتونه به په ښکاره ډول د جنګ ډګر ته داخل شي.

دا خبره هم د باور وړ نه ده چې کارونه یې نورو ته سپارلي او په خپله په لذتونو او یا عبادتونو مشغول دی ځکه کله کله امین سړی هم خیانت کوي او خیر غوښتونکي هم دوکه کوي، نو هرومرو خلیفه باید په خپله بروز وکړي.

په اوسنیو حالاتو کې دبغدادي صیب ټول پام دخپل ځان ساتنې ته دی، ځکه دهغه ترواک لاندې سیمه دصلیبي او رافضي قوتونو ترسختو ګذارونو لاندې ده نو له داسې یوې سیمې څخه داهل الحل والعقد سره له مشورې پرته خلافت اعلانول او بیا دجهادي تنظیمونو مشروعیت لغوه کول او داسې نور دتعجب وړ کړنې هغه څه دي چې بغدادي صیب پکې لومړی مقام وګاټه.

د اسلام په تاریخ کې به دا لومړی ځل وي چې داسې یوکس چې په خپله هم مأمور وي، دبل چا تر امر لاندې په یوه جهادي محاذ کې مصروف وي، د ده محاذ په سخته نړیواله جګړه کې هم ښکیل وي، او هغه بیا راپورته کیږي او د اهل الشوکة له مشوري پرته نه یواځې دا چې ځان د نړیوال جهادي حرکت لپاره دقائد په توګه اعلانوي بلکه د ټول اسلامي امت لپاره د خلافت او مشرتوب دعوی کوي او بیا د خلافت په اړه راغلي احادیث په ځان پورې تړي سره له دې چې پکې داسلامي خلافت اساسي بنسټونه هم شتون نه لري.

یقیناً چې دا ډیر دتعجب ځای دی او داد نبي کریم صلی الله علیه وسلم داحادیثو په اړه ډیر لوی جرات ده، او نړیوالو ته د اسلام د سیاسي نظام ډیره کمزورې نقشه وړاندې کول دي، په دې معنا چې ګواکې د اسلام سیاسي نظام دومره کمزوری ده چې یو کس په داسې حال کې چې د یوه جهادي محاذ لپاره د

لوړ قیادت له لوري دیوې خاصي سیمې مسؤل ټاکل شوی وي، په کومه سیمه کې چې د هغه نظامي مسؤلیت وي هغه هم تر یوه سخت جنګ لاندې وي، پرته له دې چې د امت خوښه او رضا وي او پرته د اهل الشوکة له موافقې، او پرته له دې چې د امت ډیری برخې ته دې د هغوی لازم حقوق ورکړي، بیا هم کولای شي د ټول اسلامي امت لپاره د خپلې نظامي ډلې د شوری په اساس خپله مشري او خلافت اعلان کړي او په کافة الامة بیعت واجب وبولي، د ټولو جهادي او اسلامي ډلو مشروعیت لغوه اعلان کړي، بیعت نه کونکي باغیان او که مړه شي د جاهلیت په مرګ یې مړه وبولي.

دارنګه مفکوره د اسلام د سیاسي نظام په اړه له ځانه جوړ شوی بدعی تصوّر او تعبیر دی چې په اسلامي تاریخ کې هیڅ مثال نه لري . د ټول اسلامي امت د سلفو او خلفو له تعبیر او تشریح پرته یو غیر طبعي تصویر او فکر دی او بس.

امام ماوردي دلسو حقونو له ذکر کولو وروسته وایي چې

فهو من حقوق السیاسة لکل مسترع فان الرسول صلی الله علیه وسلم قال: (الا کلکم راع و کلکم مسؤل عن رعیّته.)

ژباړه: دا په هر حاکم او مشر باندې د سیاست له حقوقو څخه دي، (هغه که خلیفه وي، او که د خلیفه له لوري ټاکل شوی والي وي) ځکه نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایي تاسې کې هر یو راعي دی او ستاسې هرکس به د خپل رعیت په اړه پوښتل کیږي

بیا وروسته زیاتوي:

فاذا قام الامام بما ذکرنا من حقوق الأمة وجب له علیهم حقان الطاعة و النصرة

ژباړه :چې کله خلیفه د امت دا لس حقونه پوره کړي نو په أمت د ده لپاره دوه حقونه واجبیږي الطاعة و النصرة ، یو اطاعت او بیعت او دوهم مرسته او کمک کول.

او علاّمه بدرالدین ابن جماعة (المتوفی **۵۳۳** ســ هـ) تحریر الاحکام فی تدبیر اهل الاسلام په **۶۵** ص کې وایي:

امّا حقوق الرعيّة العشرة على السلطان فالاول حماية بيضة الاسلام والذب عنها اِمّا فی کل اقليم ان کان خليفة او فی القطر المختص به ان کان مفوضا اليها

ژباړه : په پاچا باندې د رعيت لس حقونه دي ددغو لسو حقونو له جملې څخه لومړی حق دا دی چې د اسلامي خاورې د حريم دفاع وکړي، مسلمانان د کفارو له يرغل څخه وساتي، که خليفه وي دنړۍ ټول مسلمانان دا حق پرې لري او که والي وي دهغې سيمې مسلمانانو ته بايد دا حق ورپوره کړي.

رائځ اوس قضاوت وکړو : بغدادي صيب او د هغه وياند عدناني صيب خراسان، يمن، قفقاز، ليبيا او نور د خپل تش په نوم اسلامي دولت ولايتونه ګڼي، رسمي واليان يې هم ورته ټاکلي، او ددغو سيمو په مسلمانانو باندې له ايمان وروسته ستر واجب له دغو واليانو سره بيعت بولي، او په نورو جهادي ډلو کې کار کول هم بغاوت او ناروا ګڼي، ځکه ددوی په زعم د اهل الحل والعقد له مشورې پرته اعلان کړل شوي خلافت هرڅه له منځه يوړل.

نوآيا بغدادي صاحب او د هغه له لوري اعلان کړل شوي واليان کولی شي دغه لس حقوق اسلامي امت ته ورکړي؟ هيڅکله يې نشي ورکولای ځکه خپله د شپې تيرولو ځای هم نه لري، د ښارونو او ابادیو په ځای په ځنګلونو کې په ژوند کولو مجبور دي.

ابن جماعة مخکې زياتوي چې په خليفه باندې دا فرض دي

وتيسير الحجيج من نواحی البلاد واصلاح طرقها وامنها فی مسيرهم و انتخاب من ينظر امورهم فان کان الامام لم يقم الحقوق لم تجب طاعته ونصرته.

ژباړه : له ښارونو او اطرافو څخه د راتلونکو حاجيانو د اسانتياوو انتظام به کوي، د حاجيانو د اصلاح او امنيت اهتمام به هم کوی او داسې يو منتظم شخص به ټاکي چې د حاجيانو مشکلات حل کړي، کچيرته خليفه دا حقوق ادا نکړل نو په امت يې طاعت او نصرت نه دی واجب.

نو آیا بغدادي صیب د دې توان لري ؟ او آیا په نړدې راتلونکي کې هم د دې امکان شته ؟

یقیناً چې ځواب منفي (نه) ده، ځکه دنیا دارالاسباب ده او موږ ایمان بالغیب راوړی، الله جل جلاله یقیناً د مسلمانانو مرسته کوي خو ظاهري اسبابو ته چې وګورو نو لا ډیر کلونه کلکې مبارزې ته ضرورت ده.

له ۴۰ کلنې مسلحې مبارزې څخه وروسته یوازې موږ دومره وکولی شول چې په عربي نړۍ کې د مجاهدینو لاسته وسله ورغله، په هغو سیمو کې مجاهدینو منظمې جبهې جوړې کړلې، دې حالت ته په رسیدلو کې موږ په زرګونو بندیان، په لکونو شهیدان کونډې او یتیمان وړاندې کړل له ډیرو سترو نظامي قومندانانو، مشرانو او علماؤ څخه بې برخې شوو، دا سلسله پای او مستحکمې نتیجې ته رسول ترڅو سیمه په مکمل ډول د مجاهدینو تر تسلط لاندې راشي ،له امن څخه په ډکه فضا کې اسلامي نظام جوړ کړي، داخلي طاغوتان دخپل عمل په سزا ورسیږي اوبهرني غربي صلیبي ځواکونه سیمه پریږدي او ماته وخوري، لا ډیر وخت ورته پاته او لا زیاته قرباني غواړي.

په داسې نظامي او اضطراري حالت کې ځان خلیفه ګڼل، په جهادي ډلو او ټول امت باندې سمع او اطاعت واجب ګڼل یو له تعجب څخه ډک اقدام دی، مونږ حیران یو چې څه نوم ورکړو؟ او په دې هم حیران یو چې ولې داسې ماشومانه قدم اخستل کیږي او په داسې نازکو او حسّاسو حالاتو کې د مجاهدینو ډلې د فتنې، اختلافاتو، او انشقاقاتواو خپلمنځي جګړو لور ته بیول کیږي. (انا لله و انا الیه راجعون).

دغه راز امام ماوردی رحمه الله د خپل کتاب (تسهیل النظر په ۱۲۸ ص)کې په حاکمانو د رعیت لس حقوق په دغو الفاظو بیان کړي:

۱ـ احدها تمکین الرعیة من استیطان مساکنهم وادعین.

ژباړه : اول دا چې حاکمان به رعیت ته داسې زمینه مساعدوي چې په خپلو کورونو کې په اطمینان او ډاد سره واوسیږي.

نو ایا تش په نوم خلیفه بغدادي صیب، تش په نوم اسلامي دولت او د هغه د ولایتونو لپاره ټاکل شوي تش په نوم والیان دا حق رعیت ته ورکولای شي ؟

ځواب سل په سلو کې نفی (نه) دی.

ځکه بغدادي صیب او دهغه والیان د کفري ائتلاف د حملو له ویرې دامت په وړاندې ښکاره تبارز نشي کولی.

مجاهدین په ټوله نړۍ له سرسختې صلیبي حملې لاندې دي او په هیڅ ځای کې یوه ټوټه داسې ورته نشته چې د امن په فضاء کې پکې واوسیږي، کوم عام مسلمانان چې په امن کې ژوند کوي هغوی ته امن بغدادي صیب او د هغه والیانو نه بلکه د صلیبیانو سیمه ئیزوطاغوتي لاسپوڅو ورکړی. هرکله چې یو کس اسلامي امت او رعیت ته دا لومړنی اساسي حق هم نشي ورکولای نو له هغه سره د امامت او خلافت لپاره بیعت څنګه واجب کیدای شي؟ او هغه د کافة الامة لپاره څنګه شرعي رهبر کیدایشي؟

۲ـالثاني التخلیة بینهم و بین مساکنهم آمنین

ژباړه :دوهم حق دادی چې د رعیت ځانونه او کورونه به په امن وي .

ظاهره او ښکاره خبره ده چې بغدادي صیب اودهغه تش په نامه والیان یې هیچاته هم د دوی د کورونو او ځانونو په باره کې امن نشي ورکولای، عراق او شام هم د جنګ په یو بد حالت کې قرار لري د هیچا ځان او کور دامریکایانو، صلیبیانو او رافضیانو له بمبار څخه محفوظ اوخوندي نه دی او په پاتې اعلان شویو ولایتونو کې هم د طاغوتانو تسلط دی او اعلان شوي والیان یې هم په ځنګلونو کې ژوند تیروي.

۳ـوالثالث کف الاذی و الایدي الغالیة منهم.

ژباړه :دریم حق له امت څخه د ضرر او زورورو لاسونو بندول دي.

بغدادي صیب امت ته له دې حق ورکولو څخه مطلقاًعاجز ده، له شرقي ترکستان (سینک یانګ) څخه نیولې تر مراکش پورې ټوله سیمه د کفر په قبضه کې ده،

سمندر او وچه سمې او غرونه ټول دکفر تر اشغال لاندې دي، که په ځینې سیمو کې د مجاهدینو اثر رسوخ زیات شوی وي خو بیا هم د بې پیلوټه الوتکې له هوایی بمبار څخه خوندي نه ده، په داسې حال کې چې بغدادي په خپله په جګړه کې ښکیل دی نو موږ کله کولای شي امت ته د غه حق ورکړي.

۴ـ والرابع استعمال العدل والنصفة معهم ـ

ژباړه :څلورم حق یې داده چې حاکم به له رعیت سره د عدل او انصاف معامله کوي. خو دا هغه وخت امکان لري چې حاکم خپله د دې وړ شي چې یو چاته عدل او انصاف ورکړي.

او دا خو بدیهي خبره ده چې بغدادي صیب امت ته له عدل او انصاف ورکولو کې پاتې راغلی، بلکه لومړی بې انصافي دا ده چې د سترو جهادي مشرانو او د امت د سترو علماء کرامو په موجودیت کې د هغوی له خوښې پرته ځان ته د خلافت حق ثابتوي، نو چې په اول قدم کې دامت له مشرانو سره انصاف ونه کړ وروسته به څه تمه ترې ولرلای شو چې له عام امت سره دې انصاف وکړي ؟ !.

۵ـ الخامس فصل الخصام بن المتنازعین ـ

ژباړه :پنځم حق د رعیت په منځ کې به شخړې ختموي.

بغدادي صیب او تش په نوم خلافت یې تراوسه د دې وړتیا نه لري چې دامت د زیاتې برخې منازعات او شخړې حل او فصل کړي، بلکه په ځای د دې چې شخړې له منځه یوسي، لا یې خپلمنځي اختلاف او شخړو ته دروازه خلاصه کړه .

۶ـ والسادس حملهم علی موجب الشرع فی عباداتهم و معاملاتهم ـ

ژباړه : شپږم دا چې په رعیت به فشار راوړي ترڅو عبادات او معاملات د شریعت مطابق ترسره کړي.

بغدادي صیب نه شي کولای چې په امت باعث شي چې معاملات او عبادات د شریعت مطهره موافق ترسره کړي. بلکه د خلافت اعلان یې خپله د شریعت له چوکاټه لري عمل ده.

۷ـوالسابع اقامة حدوداالله تعالی و حقوقه فیهم۔

ژباړه :اووم حق داده چې په رعیت کې به د الله تعالی حدود نافذوي.

د اسلامي امت په زیاتره برخو کې دالله جل جلاله حدود نافذول او عملي کول د بغدادي له وس وتلې خبر ه ده، یوازې د اسلامي نړۍ په یوه وړه ټوټه کې یې کولای شي چې هغه هم د جګړې میدان دی.

۸ـوالثامن امن سبلهم و مساکنهم۔

ژباړه: اتم د رعیت د لارو او کورونو امنیت به ساتي.

ښکاره خبره ده چې د بې چاره خپله لاره او خپل کور له بریدونو خوندي نه دي نو د نور امت د لارو او کورونو امنیت به څنګه خوندي کړي.

۹ـوالتاسع القیام بمصالحهم فی حفظ میاههم وقناطرهم۔

ژباړه :نهم حق د امت هغه د دوی د اوبو او پلونو ساتنه ده.

بغدادي صیب د امت د سر ساتنه نه شي کولای پاته خو اوبه او پلونه دي.

۱۰ـوالعاشر تقدیرهم وترتیبهم علی اقدارهم ومنازلهم فیما یتمیّزون به من دین وعمل وکسب وصیانة۔

ژباړه : لسم داچې په امت کې به د خلکو د حیثیتونو او مراتبو موافق ترتیب جوړوي، په دین،کسب او عمل کی به د هر چا خپل حق ورکوي یعنې هر څوک به په خپله مرتبه مقرروي.

دا هغه وخت ممکن دي چې خلیفه او مرستیال او والیان د رعیت په منځ کې وي، د جګړې په جریان کې خلیفه او کابینه یې امت ته کله خپل حق او امتیازات ورکولای شي ؟.

یوائې دومره کولای شي چې د خپلې جهادي ډلې په حالاتو ځان خبر کړي، خلاصه دا چې که حاکم دا حقوق پوره کړي نو بیا دبیعت مستحق ده چې رعیت یې اطاعت وکړي. حواله: (السیاسة والادارة فی الاسلام ۲۸۳ ص الشیخ عبد الباقي الحقاني)۔

دغه راز امام ماوردی رحمه الله د (تسهیل النظر په ۲۵۸ ص)کې لیکي:

وليهتم الملک کل الاهتمام بأمن السبل و المسالک و تهذيب الطرق و المفاوز لينتشر الناس فی مسالکهم آمنين و يکونوا علی انفسهم و اموالهم مطمئنين.

ژباړه: د مسلمانانو مشر به د عامو لارو او دښتو د امن او دلارو د پاکولو ته پوره پاملرنه کوي ترڅو خلک په امن تګ راتګ وکړی، د خپلو کارونو لپاره خپاره شي، او په خپلو ځانونو او مالونو باندې مطمئن وي.

نو آيا بغدادي صيب او دهغه واليان کولای شي چې د ټول امت په کچه د عامو لويو لارو، کوچنيو لارو، او دښتو امنيت خوندي کړي ترڅو خلک په ډاډمنه فضاء کې په پوره امن سره تګ راتګ وکړي؟ ځواب دا دی چې هيڅکله يې نشي کولای، ځکه هغوی په خپل په امن کې نه دي نو دنورو خلکو امنيت به څنګه تامين کړي؟.

ابوجعفر المنصور رحمه الله وايي:

الذي علیّ للرعيّة ان احفظ سبلهم فينصرفون آمنين فی معاشهم و لا يصدون عن حجهم و قضاء نسکهم و ان احفظ ثغورهم احصنها من عدوهم.

ژباړه: په ما باندې د رعيت دا حق دی چې زه د دوی عامې لارې خوندي کړم، چې دوی د امن په فضاء کې خپلې دژوند چارې پرمخ بوځي، د حج او عمرې دمناسکو په اداء کولو کې له خنډ سره مخ نشي او د دښمن په وړاندې دهغوی سنګرونه بايد محفوظ وساتم، چې دښمن پرې غالب نشي.

بغدادي صاحب او واليان يې په مستقبل بعيد کې هم د دې کارونو توان نه لري.

او د(ارشيف المجلس العلمی د۱۰ جلد په ۱۷ص) کې د الاقناع نه دغه لس حقوق را نقل کړي او بيا وروسته د منتهی الارادات څخه نقل کوي:

فاذا قام الامام بحقوق الأمة فله عليهم حقان الطاعة و النصرة

ژباړه: چې کله امام د امت دغه لس حقونه په ځای کړي نو په امت يې دوه حقونه فرض دي لومړی اطاعت او دوهم نصرت.

اتمه وجه

د بغدادي صيب په عراق او شام کې دځينو سيمو له لاندې کولو وروسته هلته خلافت اعلان کړ، څه موده وروسته يې هغه سيمې د خپل خلافت ولايا تونه کړل چې تراوسه يې ولکه نه ده پرې ټينګه کړې لکه مصر، ليبيا، قفقاز، يمن او خراسان او داسې نور، دا خو مفتوحه سيمې نه وې بلکه کاملاً د طاغوتي نظامونو تر لاس لاندې دي او مجاهدين پکې د چريکي ګروپونو په حيث کار کوي، شايد په اسلامي تاريخ کې به دا لومړی ځل وي چې يوه سيمه دې کاملاً د طاغوت تر اثر لاندې و ي او فتح شوې دې نه وي خو اسلامي دولت دې هغه سيمه خپل ولايت ګرځولی وي ! او رسمي والي دې ورته ټاکلی وي ! ! !

اسلامي دولت يا اسلامي له درې عنصرونو څخه مرکب ګرځي ۱. سلطه او حاکميت ، ۲.رعيت ، ۳.ځمکه او وطن

يعني اسلامي دولت بايد په هغه سيمه سلطه ولري، دغه سيمه به اوسيدونکي لري ترڅو د اسلامي دولت رعيت وګڼل شي، ځمکه او وطن چې رعيت پکې واوسيږي او د واليانو اوامر هلته تطبيق شي.

علامه محمد مبارک د (نظام الاسلام په ۵۸ ص) کې ليکي:

تتکون کل دولة من ثلاثة عناصر.

ژباړه: هر دولت له درې عناصرو څخه جوړيږي:

۱.يو سلطه او واک ده، دا هغه قوت دی چې د امت مشکلات ورته حل کوي، د دپرمختګ پروژې به وړاندې کوي، له مسلمانانو څخه به دفاع کوي، او کله چې د دوی په خپل منځ او يا له نورو قبيلو سره څه مشکلات پېښ شي هغه به حل کوي. دا قوه له مشرانو ، قاضيانو او نورو مسؤلينو څخه جوړيږي.

۲. امت او رعيت : چې د امت او رعيت کارونه به د دغه سلطې په وسيله برابريږي.

۳. ځمکه او وطن دی چې په دې کې دغه رعيت اوسيږي او د دغه سلطې او حاکمانو احکام پکې عملي کيږي

او علامه محمد مبارک رحمه الله وايي:

ان ارض الدولة الاسلامية تحصل لها باحد سببين فاما ان يسلم وهم عليها فتصبح بذالک دار اسلام و اما ان يفتحها المسلمون فيقوم فيها حکم الدولة الاسلامية و تطبق فيها احکامها

ژباړه : اسلامي دولت ته يوه ځمکه په دوه طريقو سره حاصليږي او د اسلامي دولت جزء ګرځي يو دا چې د هغې ځمکي ټول اوسيدونکي اسلام راوړي او په خپله همدغه ځمکه کې اوسيږي نو دغه ځمکه دار الاسلام ګرځي. دوهم دا چې مسلمانان يې فتح کړي او په دې کې اسلامي دولت حاکم او قايم شي چې بيا به د اسلام احکام پکې پلي کيږي.

له دې څخه معلومه شوه چې په يوه ځمکه د شريعت احکام نافذ نه وي هغه د اسلامي دولت جزء او ځمکه نشي ګرځيدای.

علامه مبارک وړاندې زياتوي:

يسکن ارض دار الاسلام المسلمون و المعاهدون من اهل الکتاب الذين قبول المواطنة فی حکم الدولة الاسلاميه و المستأمنون ای الذين دخلوا بعقد أمان موقوت الأجل من ابناء الدولة الاخری. (نظام الاسلام ۱۳۲ ص).

ژباړه: په دار الاسلام کې به مسلمانان اوسيږي او يا هغه ذميان اهل کتاب چې د اسلامي دولت لاندې اوسيدا يې قبوله کړې وي، او يا هغه مستأمنين چې د نورو کفري هيوادونو وي او په اسلامي دولت کې دامان دموقت تړون له مخې راغلي وي.

يعني د دار الاسلام په ځمکه کې به مسلمانان، ذمی کافر او مستأمن کافر اوسيږي. حربي کافر يعنې هغه کافر چې له هغه سره معاهده نه وي شوې نشي اوسيدلای، دا مسئله وهبة الذحيلي په خپل کتاب (الفقه الاسلامي) کې په تفصيل سره څيړلې ده زحيلي دخپل کتاب د ۸ جلد په ۵۳۷ ص کې وايي:

تفنی الدولة او تزول بزوال احد عناصرها الثلاثة السابق ذکرها وهی السکان و الاقليم و السلطة

ژباړه : اسلامي دولت له دریو مهمو عناصرو څخه دیوه په له منځه تلو سره زائلیږي، لومړی داچې اوسیدونکي ختم شي، یا یې خاوره او وطن ختم شي یا یې سلطه یعنې واک ختم شي.

د بغدادي صیب دولت چې کومې سیمې او علاقې د خپل دولت ولایتونه اعلان کړل هلته له دې دریو عناصرو څخه یو هم نشته، په دغه اعلان کړای شوو ولایتونو کې فقط جهادي چریکي ګروپونه او ډلې فعالې دي او چریکي جنګونه کوي نو د دغو هیوادونولپاره والیان ټاکل او د خپل دولت ولایتونه او حصې اعلانول د شرعي او ځمکنیو حقایقو خلاف او په دې سیمو کې د کفر خلاف د تشکیل شویو جهادي ډلو ترمنځ د اختلاف او نفاق پیداکول دي او د هغوی صفونه ګډوډول او نظم یې خرابول دي او بس.

نهمه وجه

د بغدادي د خلافت د بطلان نهمه وجه دا ده چې د ده سلطه ډیره نیمګړې ده یوازې په یوه ځای کې ده. او د چا سلطه چې نیمګړې وي هغه خلیفه نشي کیدای لکه د(الموسوعة الفقهیة الکویتیة د۲جلد په ۲۱۲ ص) کې وایي:

فان کانت سلطته قاصرة علی ناحیة خاصة فلیس بخلیفة و ان کانت عامة فهو خلیفة

ژباړه : که چیرته د حاکم او سلطان سلطه تر یو خاص ځای او ناحیې پوري محدوده وي نو دا بیا خلیفه نه دی او که قبضه او کنترول یې عمومي وي نو بیا خلیفه دی.

د بغدادي صیب سلطه د اسلامي امت تر یوې خاصې سیمې (دعراق او شام ځینې برخې) پورې محدوده ده په عمومي امت کې نشته، په ملیاردونو مسلمانان د نوموړي له کنټرول څخه خارج دي او دغه کوچنۍ سیمه چې د ده له اثر لاندې ده د هغې فضا هم د کفر په قبضه کې ده، سیمه پرلپسې تر بمبار لاندې ده او لا تر اوسه جګړه په شدت جاري ده، سیمه د جنګ ډګر ده ، د قرار اوفرار حالت ده ،کله یو لوری پر مخ ځي او کله بل لوری ، په نږدې وخت کې د بغدادي

خپل ټاټوبی ښارګوټی یې هم له لاسه ووت او له دې مخکې کوباني هم له لاسه ورکړ، په تکریت کې یې ماته وخوړه، نو سیمه د جنګ په حالت کې ده او د جنګ نهایي نتیجه لا څرګنده نده، سیمه به هغه وخت په یوه ښکاره فتحه شوې علاقه بدلیږي چې د دښمن هوایي بریدونه او ځمکنی پرمختګ ودریږي او سیمه د بغدادي صیب تر مشرۍ له جنګي حالت څخه ووزي، نو ځکه اوسمهال ددوی د خلافت دعوې باطلې او یومخ ناسمې دي.

لسمه وجه

لسمه وجه دا ده چې د بغدادي صیب واک په ډیره لږه سیمه یعنې په ځینو ښارونو ده او د هر چا واک چې په ځینو محدودو ښارونو وي هغه خلیفه کیدلای نشي. لکه د(الموسوعة الفقهية الكويتية د ۲جلد په ۲۱۲ ص)کې وایي:

الامارة لغة الولاية والولاية امّا ان تكون عامة فهى الخلافة اوالامامة العظمى وامّا ان تكون خاصة على ناحية كان ينال أمر مصرونحوه

ژباړه : امارت په لغت کې واک او اختیار ته ویل کیږي که چیرته دغه واک عمومي وو -یوازې په یوه خاصه ناحیه او یا په یو خاص ښار پورې محدود نه وو- نو دې ته خلافت یا امامة عظمی وایي او که واک یې تر یو خاص ښار پورې محدود وي نو دې ته بیا خلیفه او دغه مشرۍ ته خلافت او امامة عظمی نه وایي بلکه په هغه هسې د یوه ښار دامیر اطلاق کیږي.

همدغه راز د(نیل الاوطار ۱۲جلد په ۴۵۲ ص)کې علامه شوکانی رحمه الله فرمایي:

الامارة العظمى و هى الخلافة والصّغرى وهى الولاية على بعض البلاد

ژباړه :امارة عظمی خلافت ته وایي او امارة صغری په ځینې ښارونو باندې واک ته وایي.

نو بغدادي صیب ځکه خلیفه نه ده چې دهغه واک او اختیار د دې لوی اسلامي امت په ډیره کوچنی ساحه باندې ده او هغه هم کامله سلطه نه ده ځکه دغه سیمه

د جنګ په جریان کې ده، د بغدادي صیب دغه نیمګړې سلطه د شام او عراق په ځینو سیمو ده.

عراق په اساسي ډول په دریو برخو او دریو قوتونو ویشل شوی دی: ۱ـ عرب روافض دا د عراق لوی قوت دی، ځکه دعراق په زیاترو سیمو لکه بغداد او نورو ښارونو کنترول لري.

۲ـ عرب سنیان دا د عراق دریم نمبر قوت دی.

۳ـ کردان چې دا د عربي روافضو او سنیانو په مقابل کې واقع دي خو په مجموع کې دا د عراق دوهم نمبر قوت دی.

په عراق او شام کې دبغدادي صیب نیمګړې سلطه یوازې په ځینې سني میشته سیمو ده .او کوم چې د عراق اکثریت اباد او لوی ښارونه او سیمې دي، په هغه باندې د روافضو او یا د روافضو د ائتلافي کردستانیانو حکومت دی.

یولسمه وجه

یولسمه وجه دا ده چې بغدادي صیب ځکه خلیفه ندی چې له ده سره د امت د مشرانو او خاصو خلکو بیعت نه دی کړی، او د چا چې دا حال وي نو هغه خلیفه نشي کیدای علامة قاضي خان المتوفی په **۵۲۲** ســـــه د(قاضي خان په **۲**جلد **۴۲۸**ص) کې وایي:

قال علمائنا السلطان یصیر سلطاناً بأمرین بالمبایعة معه و یعتبر فی المبایعة مبایعة اشرافهم و اعیانهم و الثاني ان ینفذ حکمه فی الرعیة خوفا من قهر وغلبة

ژباړه: زموږ علماء وایي چې پاچا په دوه خبرو پاچا ګرځي لومړی دا چې بیعت ورسره وشي او په بیعت کې د امت د رهبرانو، مشرانو او معززوخلکو بیعت معتبر دی. دوهم دا چې حکم یې په رعیت باندې نافذ وګرځي ځکه د هغه له زور او غلبې څخه ویریږي.

همدغه راز د (تنویر الأبصار او بحرالرائق باب البغاة د **۵**جلد په**۱۵۳**ص) کې او د (مجمع الأنهار د**۴**جلد په **۴۵۱** ص) کې راځي:

الامام يصير اماما بالمبايعة معه من الأشراف و الأعيان و بان ينفذ حكمه فی رعيته خوفاً من قهره و جبروته فان بايع الناس و لم ينفذ حكمه فيهم لعجزه عن قهرهم لا يصير اماماً

ژباړه :امام په دوه خبرو امام او خليفه ګرځي يو دا چې د امت عزتمند او مشران خلک بيعت ورسره وکړي او دوهم دا چې د هغه حکم په رعيت کې له ده څخه د ويرې له وجې جاري وي، که چيرې خلک بيعت ورسره وکړي خو حکم يې په خلکو کې نه چليږي نو بيا هم امام نه ګرځي.

همدغه راز د (شامی د ۳جلد په ۳۴۰ ص)کې وايي:

يشترط مع وجود المبايعة نفاذ حكمه

ژباړه :له بيعت سره سره يې د اوامرو او نواهيو نفاذ هم شرط دی.

وړاندې وايي چې د هر خليفه د احکامو نافذيدل شرط دي برابره خبره ده چې مخکني خليفه انتخاب کړی وي او يا يې د تغلب له لارې واک ترلاسه کړی وي.

(الدرالمختارد ۴ جلد په ۲۲۳ص و كذا في بدائع الصنائع).

له بغدادي صيب سره د امت د رهبرانو، عزتمنو او د امت د هغو خاصو خلکو بيعت او موافقت نشته، چې په امت کې مرجع ګڼل کيږي په مسلمانانو کې محبوبيت لري او ۲۱ کاله يې د نړيوالو طاغوتي نظامونو په وړاندې مسلح جهاد وکړ، د دوی په مقاومت او قربانۍ سره جهاد نړيوال شکل غوره کړ، په اسلامي نړۍ کې بيداري منځ ته راغله، له دغو تاريخي شخصيتونو او اولياءالله سره د ده د خلافت په اړه مطلق مشوره هم نه وه شوې، حال دا چې دغه شخصيتونه د دی نړيوال جهادي حرکت بنسټ ايښودونکي، په مجاهدينو او مسلمانانو کې نهايي د اعتبار وړ او د هر يوه شاته په لکونو مجاهدين او ملاتړي وجود لري، لکه محترم امير المؤمنين ملا محمد عمر مجاهد صاحب چې په زرګونو مجاهدين او په لکونو ملاتړي او انصار لري، همدغه راز د قاعدة الجهاد نړيوال جهادي تنظيم مشر محترم ډاکټر ايمن الظواهري حفظه الله، د قاعدة الجهاد تنظيم د جزيرة العرب (يمن څانګې) د مجاهدينو مشر ناصر الوحيشي،

د قفقاز د اسلامي امارت محترم مسؤل ابوعمر الداغستاني چې د قفقاز په رياستونو، چيچينيا، داغستان او نورو ځايونو کې په زرګونو مجاهدين او په لکونو ملاتړي لري چې د ننې عصر په جهادي خوځښتونو کې پخوانی جهادي حرکت دی، همدغه راز دنړۍ نور مخور مجاهدين او جهادي تنظيمونه چې موږ يې مخکې يادونه وکړه، د غه ټول له بغدادي سره موافق نه دي، بلکه ځينو مستقلې ويډيو ګانې ورپسې نشر کړې، لکه د يمن او قوقاز مجاهدينو ويډيو ګانې ورپسې نشر کړې چې دبغدادي صيب تش په نوم خلافت زموږ په صفونو کې تفرقه واچوله، همدغه راز دنړۍ د مشهورو جهادي علماؤ له جملې څخه يو مشهور عالم هم ورسره موافق نه دی.

او نه هم د بغدادي صيب حکم په امت کې د ده له ويرې نافذ دی، د ده له ويرې څخه څه چې له سره نافذ نه دی، هسې تش په نوم د ټول امت د مشري او امارت دعوه کوي، ټول امت خو پرېږده چې په سلمه برخه کې يې هم حکم نافذ نه دی.

دولسمه وجه

په خيرالقرون او اسلامي تاريخ کې داسې مثال نشته چې په يوچا باندې دې د يوې سيمې خلک متفق شوي وي او نور امت دې پرې متفق نه وي خو بيا دې هم هغه د ټول امت مسلمه لپاره خليفه ګرځيدلی وي. داسلام په تاريخ کې داسې ډير کسان تير شوي چې د يوې سيمې خلک پرې متفق وي خو نور امت ورسره موافق نه وي خو چا شرعي خليفه نه دي ورته ويلي لکه حضرت حسين رضی الله عنه چې له ده سره د کوفي خلکو بيعت کړی وو ځکه نوموړي هغې خواته هجرت هم وکړ، خو د نور امت بيعت ورسره نه وو نو په دې وجه ورته چا خليفه نه دي ويلي.

صاحب د(الانباء فی تاريخ الخلفاء په **۵۳** ص) کې د هغو خلکو نومونه ذکر کړي چې له هغو سره ځينې خلکو بيعت کړی خو نور امت ورسره موافق نه وو له دې امله خليفه ورته نه دي ويل شوي، لکه حسين بن علی رضی الله عنه، محمد بن

حنيفة، ضحاک بن قيس، عمر بن سعيد، عبدالرحمن بن الاشعث، يزيد بن المهلب، عبدالله بن معاويه او ځينې نور..

د(تاريخ الخلفاء په ۲۴ص) کې علامه سيوطی رحمه الله وايي چې هغه ابراهيم چې له يزيدالناقص نه وروسته يې ځان خليفه ګاڼه، له هغه سره هم ځينې خلکو بيعت کړی وو خو نور امت نه وو ورسره کړی له همدې امله خلکو په خليفه نه دی مسمی شوی بلکه امير ورته ويل کيږي.

دیارلسمه وجه

که چيري بغدادي صيب د دې کمو خلکو په موافقه او بيعت شرعي خليفه وګرځي نو بيا خو ټول جهادي مشران، اکابر علماء کرام، او لوی جهادي تحريکونه لکه دافغانستان اسلامي امارت، قاعدة الجهاد نړيوال جهادي تنظيم، شباب المجاهدين، د شرقي ترکستان اسلامي حزب، د ازبکستان اسلامي تحريک، د پاکستان د طالبانو تحريک او نور ټول جهادي تنظيمونه به باغيان شي ځکه چې له بغدادي سره موافقه نلري، او دا په ښکاره باطله خبره ده، ځکه له حسين رضی الله عنه سره ځينې خلکو بيعت کړی وو او نور ټول امت بيعت نه وو ورسره کړی په دې وجه دې بيعت نه کونکو ته چا باغيان نه وو ويلي.

څوارلسمه وجه

د خلافت مهم مقصد او ستره غايه د امت وحدت او يووالی دی، او بغدادي صاحب چې د اهل الحل و العقد او د امت له رضا پرته کوم اعلان وکړ د امت د وحدت په ځای يې په امت کې اختلاف رامنځته کړ او په ځينې سيمو کې دغه اختلاف وسلوالو نښتو ته ورسيده لکه په شام کې وسلوالې نښتې او په افغانستان کې ځينې پيښې. او د مجاهدينو ليکې په داسې وخت کې وويشل شوې چې مجاهدين ډير زيات کمزوري، وسائل يې کم او اقتصادي مشکلات يې بيخي زيات دي او په اقتصادي، سياسي، نظامي او کلتوري لحاظ قوي غليم سره د جنګ په حال کې دي.

په سیمه ئیزه کچه د مجاهدینو تر منځ څه ناڅه اختلافات وو خو نړیوال جهاد په یو صف کې د ازمویل شوو مشرانو په قیادت او لارښونه باندې روان وو او هیڅ ډول نظریاتي او فکري اختلاف یې نه درلود ،همدا د خلافت اعلان داسې یو اقدام دی چې په هر جهادي محاذ کې یې درزونه پیدا کړل، په فکري لحاظ د مجاهدینو ټوټه کول روان دي، ځکه له بغدادي صیب سره د بیعت د وجوب نظریه ساتل یوه فکري موضوع ده.

نو دامت دلویانو له موافقې او دخلافت داساساتو له شتون پرته دخلافت اعلان، او بیا پرې د خلافت د احادیثو حمل او تطبیق، او بیا د مقابل جانب دوینو او مالونو حلال ګڼل او عملا یې په مقابل کې په جګړه لاس پورې کول دا ټول دابن ملجم دلمسیانو خوارجو له علامو او خواصو څخه دي . نسئل الله العافیة.

زموږ فکر او نظر دا دی چې د خلافت د احادیثو حمل په داسې یو بدعی اعلان او دعوه باندې داحادیثو معنوي تحریف دی، ځکه په داسې جنګي حالاتو کې چې بغدادي د امت له رضاء او د اهل الحل والعقد له انتخاب پرته کوم اعلان وکړچې نه مخکني خلیفه ټاکلی، نه کامل متغلب دی، نه د امت حقوق پوره کولای شي، نه د امت مهم شخصیتونه ورسره متفق دي خو بیا هم خلافت اعلانوي دا یو نوی بدعت دی چې د اسلام په تاریخ کې هیڅ مثال نه لري.

البته دغه اعلان د مجاهدینو صفونه ټوټه ټوټه کړل او ډیر فسادونه ته یې لمن ووهله.

پنځلسمه وجه

که موږ له ادنی څخه اعلی ته ترقي وکړو او ووایو چې که چیرې بغدادي صیب داهل الحل والعقد لخوا ټاکل شوی هم وي خو چې د نور امت د مسلمانانو ورسره موافقه نه وي او اطاعت یې نه کوي نو خلافت یې نه قائمیږي او خلیفه نشي ورته ویل کیدای لکه د (الوجیز فی فقه الخلافة په ۶۰ص) کې وایي:

وقد وردان عمر بن عبدالعزيز بعد ان اخذت البيعة بناء على عهد الخليفة سليمان بن عبدالملک اليه أنه قام فصعد على المنبر ثم قال أيها الناس انى لست بمبتدع ولكنى متبع وان من حولكم من الأمصار والمدن ان أطاعوا كما أطعتم فانا واليكم وان هم أبوا فلست لكم بوال ثم نزل

ژباړه: دا روايت راغلی چې کله عمر بن عبدالعزيز رحمه الله ته بيعت واخيستل شو له دې امله چې مخکني (خليفه سليمان بن عبدالملک) مقرر کړی وو نو عمر بن عبدالعزيز رحمه الله پاڅيد، ممبر ته وخوت او ويې ويل: اې خلکو! زه بدعتي او مبتدع نه يم، (چې خلک به مې نه مني او بيا به هم ځان ته خليفه وايم) بلکه زه د سنتو متبع يم، نو شاوخوا چې کوم د مسلمانانو هيوادونه او ښارونه پراته دي که هغوی راشي او زما اطاعت وکړي نو زه ستاسو امير او خليفه يم او که هغوی زما له اطاعت څخه انکار وکړي نو زه بيا ستاسو امير او خليفه نه يم، دا يې وويل او له منبر څخه راښکته شو.

سره له دې چې د عمر بن عبدالعزيز رحمه الله ټاکنه د خلافت په شرعي طريقه سره شوې وه، د خلافت ټول شرايط پکې موجود وو، جليل القدر تابعي وو خو بيا هم وايي که خلکو مې له اطاعت څخه انکار وکړ نو زه ستاسو مشر او خليفه نه يم. ځکه متبع يم بدعتي نه يم يعنې دا بدعت دی يو کس چې امت يې نه مني او دی بيا هم وايي چې زه د کافة الامة (ټول) لپاره خليفه يم او د بغدادي صيب انتخاب خو له دريو شرعي طريقو څخه په يوه طريقه هم ندی شوی، بلکه په يوه بدعي طريقې سره يې د خلافت اعلان کړی، د امت او مجاهدينو سواد اعظم يې هم خلاف دی، د رعيت حقوق هم امکان نه لري چې پوره يې کړي نو څرنګه به د هغو خلفاؤ له جملې څخه وشميرل شي چې اطاعت او نصرت يې واجب دی.

او د (وجيز) مصنف وايي:

ويجب ان ينعقد الرضا من المسلمين كافة

ژباړه: واجبه ده چې د خليفه په خلافت به د ټولو مسلمانانو خوښه وي.

په بغدادي صاحب خو دامت دلسمې لسمه مسلمانان او مجاهدين هم خوښ نه دي.

شپاړسمه وجه

د بغدادي د بطلان شپاړسمه وجه داده چې کومو کسانو نوموړی انتخاب کړی هغوی په داسې مرتبه کې نه دي چې نور امت يې پيروي کوي بناءا دهغوی رضاء دامت رضاء وګڼل شي.

شارح رملی رحمه الله وايي:

فاذا لم يكن المبايعون بحيث تتبعهم الأمة فلا تنعقد الامامة بمبايعتهم.

ژباړه :کله چې بيعت کونکي په دې حيث نه وي چې ټول امت يې تابعداري وکړي نو دهغوی په بيعت باندې امامت نه منعقد کيږي.

اولسمه وجه

که چيرته بالفرض دا ثابته شي چې د يو خليفه انتخاب اهل الحل والعقد کړی وي مګر اکثريت د امت ورڅخه مخالف وي بياهم خلافت نه ده منعقد ، او د چا چې دا رقم حال وي چې د انتخاب او اعلان څخه وروسته يې اکثره امت مخالف وي هغه خليفه نشي کيدای لکه يحي بن ابي الخير العمراني د(خپل کتاب الانتصار فی الرد علی القدرية۳جلد په ۸۳۶ص) کې وايي:

فنحن نقول لمابايع عمر رضى الله عنه ابابكر رضى الله عنه انعقد له الامامة لا بمجرد مبايعته و لكن لتتابع الأيدي الى المبايعة و لو لم يبايعه عمر و بقى الناس مخالفين وانقسموا انقساماً لا يتميز فيه الغالب من المغلوب لما انعقدت امامته.

ژباړه :مونږ دانه وايو چې کله له ابوبکر صديق رضى الله عنه سره عمر فاروق رضى الله عنه بيعت وکړ نو يوازې د عمر رضى الله عنه په بيعت سره امامت او خلافت منعقد شو بلکه له دې امله منعقد شو چې د خلکو لاسونه په پرلپسې توګه د بيعت کولو لپاره راوغځيدل، که چيرته عمر رضى الله عنه بيعت نه وای کړی او نور خلک په خپل منځ کې مخالف او په دوو برخو ويشل شوي وای په

دې توګه چې زيات او کم نه معلوميدلای نو بيابه هم خلافت او امامت نه وو منعقد شوی.

همدغه راز وهبة الزحيلی د(الفقه الاسلامي و ادلته د۸جلد په **۲۲۵** ص) کې وايي:

فاذا عقد البيعة شخص واحد لا تنعقد حتی تتم موافقة الأمة و رضاها

ژباړه: چې کله ديو کس لپاره بيعت اخستل پيل شي، خلافت يې ترهغو نه منعقد کيږي ترڅو چې دامت تامه موافقه او رضاء نه وي راغلي.

بيا وايي: قال الغزالی فی بيعة ابي بکر ولو لم يبايعه غير عمر و بقی کافة الخلق مخالفين او انقسموا انقساماً متکافئاً لا يميز فيه غالب عن مغلوب لما انعقدت الامامة.

ژباړه: امام غزالي دابوبکر رضی الله عنه دبيعت په اړه وايي: چې که چيرته ابو بکر رضی الله عنه سره يوازې عمر رضی الله عنه بيعت کړی وای، او نور ټول خلک يې مخالف ګرځيدلی وای، يا داسې برابر سره ويشل شوي وای چې دغالب او مغلوب درک نه معلوميدلای نو بيا به هم دابو بکر رضی الله عنه خلافت نه وای منعقد.

او بيا وايي: قال ابن تيميه فی مبايعة أبی بکر لو قدر أن عمروطائفة معه بايعوه وا متنع سائر الصحابة عن البيعة لم يصر اماماً بذالک و انما صار اماماً بمبايعة جمهور الصحابة الذين هم اهل القدرة و الشوکة.

ژباړه: ابن تيميه دابوبکر رضی الله عنه سره دبيعت په اړه وايي: که چيرته دا فرض کړل شي چې عمر رضی الله عنه او ورسره يوې ډلې له ابوبکر رضی الله عنه سره بيعت کړی وای، او نورو ټولو اصحابو له بيعت څخه انکار کړی وای، نو ابو بکر رضی الله عنه يوازې دعمر رضی الله عنه اويوې ډلې په بيعت باندې امام نشو جوړيدلای، ابوبکر رضی الله عنه خو دجمهورو اهل القدرة والشوکة اصحابو په بيعت باندې امام وګرځيد.

همدغه راز (منهاج السنة په۱جلد ۱۳۴ ص)کې د عثمان رضی الله عنه په باره کې وايي:

لم يصر اماماً باختيار بعضهم

ژباړه : عثمان رضی الله عنه يوازې دځينې کسانو په بيعت امام ندی ګرځيدلی (بلکه دجمهورو په بيعت باندې.

او د(الفقة الاسلاميد ۸جلد په ۳۰۰ ص) کې وايي:

والخلاصة ان اختيار الخليفة يتم اساساً ببيعة اکثر المسلمين العامة.

ژباړه : لنډه دا چې په اساسي توګه دعامو مسلمانانو داکثريت په بيعت سره خليفه انتخابيږي.

اتلسمه وجه

که چيرې دا ثابته شي چې بغدادي صيب اهل الحل والعقد ټاکلی مګر د نور امت موافقه او رضا نشته ورسره او له چاسره چې د نور امت رضا او موافقه نه وي هغه خليفه کيدای نشي لکه وهبة الزحيلی وايي:

لا تنعقد حتی تتم موافقة الامة و رضاها

ژباړه: خلافت ترهغو نه منعقد کيږي چې دامت موافقه او خوښه تامه ونه ګرځي.

او په احکام الامارة کې شيخ حارث بن غازي النظاري شهيد رحمه الله وايي:

أما ان اهل الحل و العقد يختارون اماما و لا يرضاه المسلمون فهؤلاء ليسوا باهل حل و عقد.

ژباړه : که بالفرض اهل الحل والعقد يو امام وټاکی، خو دمسلمانانو نه وي خوښ نو دغه خلک اصلا اهل الحل والعقد نه دي.

نولسمه وجه

د بغدادي صيب سره د اهل الشوکة موافقه نشته، او له چاسره چې د اهل الشوکة موافقه نه وي هغه خليفه کيدلای نشي لکه عمر بن عبدالعزيز رحمه الله اراده وکړه چې قاسم بن محمد رحمه الله خليفه مقرر کړي مګر پدې قادر نشو، ځکه چې د اهل الشوکة موافقه نه وه ورسره، په همدې اړه د (مجموعة مؤلفات

عقائد الرافضه و الرد عليها د۳جلد په ۱۷۳ ص) مصنف وايي: وقد كان عمر بن عبدالعزيز رحمه الله يختار ان يولى القاسم بن محمد بعده لكنه لم يطق ذالک لان الشوكة لم يكونوا موافقين على ذالک.

ژباړه: عمر ابن عبد العزيز غوره اراده لرله چې له ځان وروسته قاسم ابن محمد له ځان وروسته خليفه وټاکي خو په دې قادر نشو، ځکه اهل الشوكة ورسره موافق نه وو.

شلمه وجه

بغدادي صاحب ځکه خليفه ندی چې د اکثريت معتبرو خلکو موافقه نشته ورسره او له چاسره چې دوخت د اکثره معتبرو خلکو موافقه نه وي هغه خليفه کيدلای نشي لکه امام غزالی رحمه الله د(فضائح الباطنية په ۱۷۷ ص) کې وايي:

و مدار جميع ذالک على الشوكة و لا تقوم الشوكة الا بموافقة الأكثرين من معتبری كل زمان

ژباړه: دخلافت دانعقاد ټول مدار په شوکت باندې دی، او شوکت هغه مهال ترلاسه کيږي چې دوخت زياتره معتبر خلک موافقه ورسره وکړي.

او له بغدادي صيب سره د زمانې زياتره معتبر خلک څه چې لسمه برخه يې هم ورسره موافق نه دي.

يويشتمه وجه

په دې باندې د ټولو علماء کرامو اتفاق دی چې د خليفه په شرايطو کې يو مهم شرط عدالت دی

دبغدادي صيب په عدالت باندې د هغه ځای سيمه ئيز صحيح المنهج او صحيح العقيده مجاهدين نيوکې کوي ،او د ګڼ شمير مجاهدينو په قتل تورن ده په ځانګړې توګه د شام دالقاعده دځينې مشرانو په وينو يې لاسونه سره دي، د نړيوال جهاد علماء کرام يې په منهج تنقيد کوي چې په منهج کې يې ډير زيات

غلو، افراط او خارجیت دی او دا افراط او غلو په خپله د عدناني له خبرو څخه هم په ښکاره ډول معلومیږي.

د قاعدة الجهاد نړیوال جهادي خوځښت مشر شیخ ایمن الظواهري حفظه الله بغدادي د اسلامي دولت له اعلانولو دمخه خپل امیران ګڼل، بغدادي صیب په خپله داسې الفاظ ورته کارول: الی امیرنا الشیخ المفضال وان الاخوة سهام فی کنانتکم

ژباړه: زموږ محترم امیر ته ! زما ټول مجاهدین ستاسې دلیندې غشي دي.

مګر کله چې دکتور ظواهري د بغدادي صاحب د تش په نوم خلافت تائید ونه کړ نو بیا بغدادي صیب وایي:

فما قررنا البقاء الا بعد ان تبین لنا أن طاعتنا لامیرنا معصیة لربنا و مهلکة لمن معنا من المجاهدین و خاصة المهاجرین فاطعنا ربنا و اثرنا رضاه علی رضا الأمیر ... و لا یقال عمن عصی امراً لامیر یری فیه مهلکةً للمجاهدین و معصیة الله تعالی انه اساء الأدب.

موږ چې کله ولیدل چې دامیر په اطاعت کې درب نافرماني راځي او له موږ سره دشته مجاهدینو په ځانګړې توګه دمهاجرینو دهلاکت سبب ګرځي، نو موږ دخپل رب اطاعت وکړ، او دهغه رضاء ته مو دامیر په رضاء ترجیح ورکړه.....

او څوک چې دامیر سرغروڼه له دې امله وکړي چې دالله له نافرماني څخه ځان وساتي نو هغه ته بې ادبه نه ویل کیږي.

همدغه راز د دولت ویاند عدناني په ډیره جذبه او اوچت اواز سره وایي:

ان تنظیم القاعدة الیوم یؤمن بالدمقراطیة وبالسلمیة و یعین حکم الاخوان و یوالی الصحوات و المجوس و الهندوس ... و لکن القضیة قضیة دین اعوج و منهج انحرف منهج استبدل بالصدع بملة ابراهیم و بالکفر بالطاغوت و بالبراءة من اتباعه و جهادهم منهجا یؤمن بالسلمیة و یجری خلف الاکثریة منهجاً یستحی من ذکر الجهاد و الصدع بالتوحید.

ژباړه: القاعده تنظیم نن ورځ په دیموکراسی او سولییزو لارو ایمان لري، له اخوانیانو سره مرسته کوي، له اربکیانو، مجوسو او هندوانو سره ملګرتیا کوي، نن ورځ یې دین کوږ شوی، منهج یې منحرف شوی، په زغرده د ابراهیمي ملت له اعلانولو، په طاغوت دکفر کولو، دهغه له اتباعو دبراءت اعلانولو اودهغوی په ضد دجهاد کولو په ځای یې داسې منهج خپل کړی چې په سوله باور لري، او داکثریت شاته منډې وهي، داسې منهج چې دجهاد له یادولو او په زغرده دتوحید له ذکر کولو شرمیږي.

دویشتمه وجه

که د بغدادي صیب بیعت صرف په دې وجه فرض شي چې قرشي دی نو قریشي خو حسین رضی الله عنه هم وو، له ده څخه ډیر غوره وو او د ده له اتباعو څخه ډیرو غوره خلکو بیعتونه ورسره کړي وو، د خیرالقرون خلکو ورسره بیعت کړي وو خو بیا هم خلیفه نه وو او بل دا چې دا خبره د اهل السنة والجماعت له عقیدې څخه خلاف ده لکه د (منهاج السنة د۳جلد په ۲۲۸ص) کې شیخ الاسلام ابن تیمیه رحمه الله وایي:

لیس قول اهل السنة و الجماعة و لیس مذهبهم أنّه بمجرد مبایعة واحد قریشي تنعقد بیعته و یجب علی جمیع الناس طاعته و هذا و ان کان قد قاله بعض اهل الکلام فلیس هو قول أئمة اهل السنة و الجماعة.

ژباړه: دا نه د اهل السنت والجماعت قول دی او نه یې مذهب دی چې یوازې په دې خبره دې دیوتن بیعت واجب شي چې قریشي دی او د قریشیت په دعوه دې یې په ټول امت اطاعت فرض شي دا خبره اګرکه ځینې اهل کلام کړې خو دا د اهل السنة والجماعت له عقیدې او دهغوی دامامانو له اقوالو څخه خلاف ده.

درویشتمه وجه

د بغدادي تش په نوم خلافت شرعي نده ځکه له ده سره تمکین او سلطه نشته او له چاسره چې تمکین او سلطه نه وي او د خلافت دعوه کوي او خپل بیعت په خلکو واجب ګڼي، نو دا ګمراه او بدعتي او په خلکو دین ګډوډوي ځکه چې د

خلافت لپاره تمکین او سلطه شرط ده لکه شیخ امین البشاوري د(فتاوی الدین الخالص د ۹ جلد په ۲۷۲ص) کې وايي

بيعة الخليفة واجبة فمن لم يبايع مع وجوده فهو باغ فاسق ميتته الجاهلية هذا اذا كان الخليفة موجودا ينفذ الاحكام يكون عنده سلطة و يكون جنة يقاتل من ورائه اما اذا لم يكن عنده قوة ولا سلطة ثم ادعى انه خليفة وانه يجب مبايعته فانّ هذا مبتدع ضال يشوش على الناس دينهم ولايدري هذا السمكين معنى هذا المنصب فان الخلافة الاسلامية اسم للقوة والتمكين وتنفيذ الحدود وازالة المنكرات والجهاد فی سبيل الله.

ژباړه :د خليفه بيعت واجب دی کله چې خليفه موجود وي او څوک چې بعيت نه کوي هغه باغي دی، فاسق دی، مرګ يې د جاهليت دی خو دا هغه وخت چې کله داسې خليفه موجود وي چې د احکامو تنفيذ کوي او سلطه ورسره وي او داسې سپر وي چې مسلمانان يې تر شا جګړه کولای شي، او کله چې قوت او سلطه نه وي ورسره او بيا هم د خلافت دعوه کوي او خپل بيعت واجب ګڼي نو دا بدعتي دی، ګمراه او بې لارې دی، په خلکو کې دين ګډوډوي او دا بې چاره ګی د دې منصب په مقصد باندې پوه نه دی ځکه اسلامي خلافت د قوت او تمکين نوم دی، دحدودو دنافذولو او د منکراتو د ختمولو او د جهاد فی سبيل الله نوم دی.

او بيا د(۹جلد په ۲۷۸ص) کې وايي:

واخذ البيعة قبل القدرة والسلطة لم يؤمر المسلمون بها

ژباړه: له واک او سلطې نه مخکې له مسلمانانو څخه په بيعت اخيستلو باندې امر نه ده شوی.

او په الامامة العظمی کې هم وايي:

وهذه سلطة هی الامامة

ژباړه: خلافت په اصل کې غلبې ته وايي.

د(ملاک الامجاد په ۳۰ ص)کې وايي:

و من اهم شروط انعقاد الخلافة التمكين لان الخلافة انما تكون لتنفيذ دين الله فی ارضه ولا يمكن هذا التنفيذ الاّ بالتمكين.

ژباړه: د خلافت له مهمو شرطونو څخه يو هم تمكين دی ځكه خلافت دالله په زمكه د دين د تنفيذ لپاره وي او تنفيذ بغير له تمكين څخه نه راځي.

قرانكريم هم په درې ځايونو كې دې شرط ته اشاره كړې لكه د(سورة حج په ۴۱ ايت) كې وايي:

[الذين ان مّكّنّا هم فی الارض].

ژباړه: هغه كسان چې كه چيرته موږ په زمكه كې تمكين وركړو.....

او د(سورت قصص په ۵ ايت)كې وايي:

[و نجعلهم ائمة و نجعلهم الوارثين و نمكن لهم فی الارض].

ژباړه :هغوی به امامان وګرځوو، هغوی به دزمكې وارثان وګرځوو، او هغوی ته به په زمكه كې تمكين وركړو.

په دې ايت كې يې امامت له وراثت او تمكين سره يو ځای كړی.

او د (سورة نور په ۵۵ ايت) كې فرمايي:

(وليمكنن لهم دينهم)

ژباړه: او دهغوی هغه دين ته به تمكين وركړي چې دهغوی لپاره يې غوره كړی.

همدغه راز خليفه هغه وخت خليفه وي چې كله د يو چا حفاظت كولای شي او چې حفاظت يې نشي كولای نو دا خليفه په چا څه شی نشي واجبولای او داسې خليفه څوك څه كوي.

لكه د(البنايه د۷جلد په ۳۰۶ ص)كې د زكات په مسئله كې وايي:

الامام باعتبار حماية و لم يحمهم

ژباړه: امام په اعتبار د حفاظت سره وي او ده خو د خلكو حفاظت ونه كړ. (يعنې كه له يو چاڅخه باغيان زكات واخلي نوخليفه به يې بيا دوباره نه ترينه اخلي ځكه چې خليفه د دغه خلكو ساتنه ونه كړه.).

عمر رضی الله عنه فرمايي:

ان کنت لا تحمهم فلا تجبهم

ژباړه :که چیرته ته د دوی حفاظت نه شې کولای نو له دوی نه زکات هم مه اخله، لکه نن صبا چې بغدادي صیب زموږ هیڅ حفاظت نشي کولای.

تمهید

موږ د خلافت او بیعت د احادیثو مقصد ذکر کوو خولومړی یو تمهید بیانوو :

سوال : ځینې ملګري وایي چې له مونږ سره د بغدادي په خلافت او د بیعت په فرضیت قران او سنت دي او له دوی سره فقط د علماوو اقوال دي ؟.

ځواب : په نړۍ کې چې څومره ګمراه فرقې تیرې شوي (لکه په حدیث شریف کې راځي چې په دې امت کې به دوه اویا (۷۲) ډلې جهنم ته ځي او صرف یوه ډله به جنت ته ځي)دغه دوه اویا ګمراه ډلې ټولې له قران او سنت څخه استدلال کوي او په دوی کې لوی لوی علماء کرام وو لکه جاحظ، نظام، زمخشری او داسې نور ... مګر دغه استدلال نه د سلف صالحینو او علماء کرامو له فهم سره مطابق ده او نه د اهل السنة والجماعت له عقیدې او د صحابه کرامو له نظریې سره. له همدې امله د هغوی استدلال باطل دی . همدا راز څوک چې د بغدادي حفظه الله د خلافت او بیعت لپاره د خلافت او بیعت له احادیثو څخه استدلال کوي ، دغه استدلال یې هم باطل دی.

لکه حلولیه (باطله ډله)وایي چې الله تعالی په مخلوق کې حلول کوي او د مخلوق سره یې اختلاط راځي ځکه چې په قران کې الله تعالی فرمایي چې (وهو معکم) یعنې (الله ستاسو سره دی).

همدغه راز معتزله خوارج ، جهمیه ، امامیه (باطلې ډلې) دا ټول وایي چې په جنت کې د الله تعالی رؤیت (لیدل) نشته ځکه چې قران کې الله تعالی فرمایي:

لن تراني

ژباړه : هیچرې به ته ما ونه وینې

او فرمایي: لاتدرکه الابصار

ژباړه : نشي را ګیرولی الله تعالی لره نظرونه.

همدغه راز معتزله وايي چې قرآن مخلوق دی ځکه په قران کې الله تعالی وايي:
الله خالق کل شئ
ژباړه: الله تعالی د هر شي خالق دی او قرآن هم له اشیاؤ نه یو شی دی. بیا وايي چې قران قدیم ندی بلکه حادث دی ځکه په قران کې الله تعالی وايي:
ما یأتیهم من ذکر ربهم محدث.
ژباړه :نه راځي دوی ته د دوی له رب څخه څه نوی نصیحت. په دې ایت کې یې قران ته محدث یعنې حادث ویلي.
همدا راز خوارج وايي چې د کبیره ګناه مرتکب (ترسره کونکی) کافر کیږي او معتزله وايي چې کافر نه دی خو مؤمن هم نه دی او مخلد فی النار (همیشه په اور کې) ده ، ځکه حدیث شریف کې راځي
(وقتاله کفر)
ژباړه :د مؤمن سره جنګ کول کفر دی.
او حدیث شریف کې راځي
(لایزنی الزانی حین یزنی وهو مؤمن ولایسرق السارق حین یسرق وهو مؤمن و لا یشرب الخمر حین یشربها وهو مؤمن)۔
ژباړه: د زنا پر مهال په زاني کې ایمان نه وي، دغلا پرمهال په سارق کې ایمان نه وي، دشراب څښلو پرمهال په شراب خور کې ایمان نه وي.
له دې حدیث شریف څخه دا ښکاره معلومه شوه چې په زنا ، غلا او شرابو سره ایمان ختمیږي او سړی کافر کیږي.
حدیث شریف کې راځي:
(ثنتان فی امتی هما کفر الطعن فی النسب و النیاحة علی المیت)
ژباړه: زما په امت کې دوه د کفر خبرې دي اول د یو چا په نسب طعن لګول، دویم په مړي باندې ویر کول.

همداسې د اهل کلام مبتدعین وايي چې مړي ته د ژوندي د هيڅ عمل ثواب نه رسيږي ځکه په قران کې الله تعالی وايي:
(وان ليس للانسان الاّ ما سعی)
ژباړه: انسان ته به يوازې هغه څه رسيږي چې هغه يې سعيه کړې وي.
او په قرانکريم کې الله تعالی فرمايي:
(ولاتجزون الا ما کنتم تعملون).
ژباړه: تاسې ته به يوازې دهغو اعمالو جزاء درکول کيږي چې تاسې کړې دي
همدغه راز بريلويان وايي چې پيغمبر عليه السلام په هر ځای کې حاضر او ناظر دی ځکه چې په قرانکريم کې الله تعالی فرمايي:
(وفيکم رسوله)
ژباړه :په تاسو کې د الله تعالی پيغمبر موجود دی نو معلومه شوه چې پيغمبر په هر ځای کې حاضر او ناظر دی.
همدغه راز بريلويان وايي چې پيغمبر نور دی ځکه چې په قرانکريم کې الله تعالی ځای په ځای پيغمبر ته نور ويلي لکه:
(قد جاءکم من الله نور)
ژباړه: دالله له لوري تاسې ته نور راغلی دی
په دې ايت کې پيغمبر ته نور ويل شوي.
دا يو څو مثالونه مونږ د بيلګې په توګه ذکر کړل چې په دې ځايونو کې استدلال له قرانکريم او سنتو څخه شوی خو دا استدلال باطل دی.
نو په همدې اساس بغدادي صيب د خلافت او بيعت لپاره د عمومياتو څخه استدلال کوي. دقران او سنتو بيانول او بيا يې په بغدادي صيب حمل کول هم باطل دي.
ځکه دغه حمل او تطبيق د صحابه کرامو له نظريې او د اهل السنة و الجماعة او حق پرستو علماؤ له تشريح نه مخالف دی.
لکه مونږ په دوی باندې دا حديث نه حمل کوو:

حدثنا الولید ورشدین عن ابی الهیعه عن ابی قبیل عن ابی رومان عن علی رضی الله عنه ابن ابی طالب قال اذا رایتم الرایات السود فالزموا الارض فلا تحرکوا ایدیکم ولا ارجلکم ، ثم یظهر قوم ضعفاء لا یؤبه لهم ، قلوبهم کزبر الحدید ، هم اصحاب الدولة ، لایوفون بعهد ولا میثاق ،یدعون الی الحق ولیسوا من اهله ، اسمائهم الکنی و نسبتهم القری و شعورهم مرخاة کشعور النساء حتی یختلفوا فیما بینهم ثم یؤتی الله الحق من یشاء. رواه نعیم بن حماد ی کتاب الفتن و کذا فی کنزالعمال و جامع الاحادیث.

ژباړه: کله چې تاسو تورې جنډې ولیدلې، نو کرار کښینئ، مه لاسونه خوځوئ او مه پښې، بیا به یو څه کمزوري خلک راښکاره شي چې خلک به یې څه پروا نه ساتي، زړونه به یې د اوسپنې د ټوټو په څیر وي، او دا به د (دولت) والا خلک وي ، وعدې او لوظونه به نه پوره کوي، خلک به حق ته رابولي خو په خپله به اهل حق نه وي، نومونه به یې کنیتونه وي، نسبت به یې ښارونو ته وي او ویښته به یې د ښځو د ویښتو په شان وي تر دې چې په خپل منځ کې به یې اختلاف راشي بیابه الله تعالی هغه چاته حق ورکړی چه ویې غواړي.

د حدیث سند : د حدیث په سند کې دوه استادان دي یو ولید دی او بل رشدین دی ، د ولید نوم ولید بن مسلم القریشي د اتمې طبقې عالم دی ، تبع تابعي دی ، او په سنه ۱۹۲ هـ یا ۱۹۵ هـ وفات دی. له دې نه امام بخاری ، مسلم ، ابوداؤد ، ترمذي ، نسایي او ابن ماجه روایات نقل کړي.

ابن حجر وایي دا ثقه دی ، مګر تدلیس ترېنه کیږي او امام ذهبی وایي چې دا د اهل الشام عالم دی او ابن المدیني وایي چې ما په شامیانو کې د ده په شان سړی ندی لیدلی.

دوهم راوی ابن الهیعه دی ، امام احمد یې توثیق کړی ، او امام نسائي وایي (لیس به بأسٌ) په دې کې څه باک نشته. ابن حجر وایي (صدوقٌ) ریښتینی دی (من کبار اتباع التابعین) . یعنې د تبع تابعینو له مشرانو څخه دی ، سیر اعلام

النبلاء او امام احمد ابن حنبل وايي چې په مصر کې د حديثو په ډيروالي ، ضبط او اتفاق کې د ابن الهيعة په شان کس نه وو.
دريم راوي ابو قبيل دی ، له ده څخه امام بخاري په خلق افعال العباد کې روايت نقل کړی.
ابن حجر وايي (صدوقٌ يهم) ريښتنی دی وهم پرې راځي. امام ذهبی وايي (وثقه جماعة) يو جماعت يې توثيق کوي ، ابو حاتم وايي (صالح الحديث) حديث يې برابر دي.
څلورم راوی ابی رومان دی په دې باندې موږ کلام پيدا نه کړو.

څلور ويشتمه خبره د خلافت او بيعت په باره کې حديثونه او د هغې مقصد

په دې اړه ډير زيات حديثونه راځي او په هغو کې مختلف الفاظ راځي لکه د بيعت لفظ او د اطاعت ، جماعت ، امام او سلطان لفظونه.
موږ دغه حديثونه رانقلوو او مقصد يې بيانوو.

اول ـ د ابن عمر رضی الله عنهما حديث:

د عبدالله بن عمر رضی لله عنهما يو حديث شريف دی چې نبي کريم صلی الله عليه وسلم فرمايي: من مات و ليس فی عنقه بيعة مات ميتة الجاهلية.
ژباړه: څوک چې مړ شو او د په غاړه کې يې بيعت نه وو ، نو د هغه د جاهليت په مرګ ومړ.
په دې حديث کې د بيعت راغلی ، همدغه راز په ځينې نورو احاديثو کې هم د بيعت لفظ راغلی.

د حديث شريف مقصد :

علامه دمیجی په الامامة علظمی کې په دې حدیث شریف بحث کړی چې ځینې خلک د دې حدیث له ظاهر څخه دا مطلب اخلي چې بیعت فرض دی حاکم چې هر څنګه وي. مګر د حدیث شریف مقصد دا دی چې هرکله شرعي امام موجود وي، په هغه کې د بیعت د صحت شرطونه پوره وي او موانع نه وي ،بیا بیعت فرض ده. په دې اړه مونږ پوره تفصیل وړاندې کړی بغدادي صیب په هغه حالت کې نه دي چې بیعت ورسره واجب شي بلکه له هغه سره د بیعت بې شمیره موانع موجود دي چې هغه به وروسته بیان کړو.

او په دې اړه یې دلایل ذکر کړي.

اول دا چې بیعت فرض کفایي دی چې ځینې خلکو وکړو نو د نورو خلکو څخه ساقطیږي لکه دا د جمهورو مذهب دی. د ابو یعلی (الاحکام السلطانیه ۲۸ ص)او د ماوردی (الاحکام السلطانیه ۱۵ ص) نو بیعت په هر چا او په هر ځای کې فرض نه دی.

دوهم دلیل دا دی چې د دې حدیث شریف راوی عبدالله بن عمر رضی الله عنهما د علي رضی الله عنه او عبدالله بن زبیر رضی الله عنهما په وخت کې بیعت نه وو کړی.

دریم دلیل دا دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم حذیفه رضی الله عنه ته وایي:

(فان لم یکن لهم جماعة ولا امام فاعتزل تلک الفرق کلها).

ژباړه: که د مسلمانانو جماعت او امام نه وي نو له ټولو ډلو څخه جدا شه.

او رسول الله صلی الله علیه وسلم وایي چې کله اختلاف راشي

(تاخذون بما تعرفون و تدعون ماتنکرون و تقبلون علی خاصتکم و تذرون امر عوامکم)

ژباړه: عمل کوئ په هغه څه باندې چې تاسو یې پیژنئ او هغه پریږدئ چې تاسو یې نه پیژنی او خپلو خاصو خلکو ته متوجه شئ چې هغه خپل اهل، خپلوان او ورونه دي او د عامو خلکو فکر پریږدئ.

که چیرې په هر مسلمان هر وخت بیعت لازم وي نو پکار دا وه چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم امر کړی وای چې په دې ټولو ډلو کې د یوې ډلې له امیر سره بیعت وکړئ ځکه هره ډله خپل امیر او امام لري.

الله تعالی له موږ څخه حرج او مشقت دفع کړی په داسې حالاتو کې یې په بیعت نه یو مکلف کړي. بیا وایي:

(فالمقصود انّ البیعة حکم شرعي له شروط وموانع جاء الشرع بها فمتی تحققت الشروط وانتفت الموانع وجب الحکم و امّالا فلا نحو الزکوة).

ژباړه: مقصد دا دی چې بیعت یو شرعي حکم دی، د دې لپاره شرطونه او موانع دي چې شریعت بیان کړي کله چې شرطونه موجود شي او موانع نه وي نو بیعت واجب دی او که شرطونه نه وي او یا موانع موجود وي نو بیعت واجب نه دی لکه زکوة چې دا په اسلام کې دریم رکن دی او چې څوک زکات نه ورکوي نو شریعت ورته عذابونه بیان کړي لکه دا عذابونه هغه وخت دي چې کله د سړي سره مال وي او نصاب ته رسیدلی وي او کال هم پرې تیر شوی وي خوبیا هم زکات نه ورکوي.

همدغه راز دلته هم دا وعید هغه وخت دی چې کله شرعي امام وي او یو مسلمان بیعت نه کوي.

یوه پوښتنه او ځواب یې

په روایاتو کې راځي چې عبدالله بن عمر رضی الله عنه وروسته په دې پیښمانه وو چې ما د علي رضی الله په ملګرتیا کې له معاویه رضی الله عنه سره ولې جنګ نه کاوه ، لکه هغه وایي:

ما آسی علی شئ فاتنی الاّ انّی لم اقاتل مع علی رضی الله عنه الفئة الباغیة

ژباړه: له مانه چې کوم شی فوت شوی په هغو کې په بل څه دومره نه یم خفه لکه څومره چې په دې خفه یم چې ما دعلي رضی الله عنه په ملګرتیا کې د باغیانو له ډلې سره جنګ نه دی کړی.

ځواب دا دی چې په دې کې درې ډوله روایات راغلي دي یو روایت دغه دی چې مخکې ذکر شو نو د دې په باره کې ذهبی رحمه الله وایي چې فهذا منقطع دا روایت منقطع دی. (سیر اعلام النبلاء د ۳ جلد ۲۳۱ص).

دوهم روایت دا دی چې په هغه کې دا راځي:

انّی لم قاتل الفئة الباغیة التی نزلت بنا یعنی الحجاج

ژباړه: زه په دې خفه یم چې ما د باغیانو له هغه ډلې سره جنګ ندی کړی چې کومه په موږ باندې نازله شوې وه چې هغه حجاج دی. او په حاشیه کې وایي چې د دې سند صحیح دی. (سیر اعلام النبلاء د ۳ جلد ۲۳۲ص).

او په دریم روایت کې راځي

ما آسی علی شئ الاّ انی لم اقاتل الفئة الباغیة (سیر د ۳ جلد ۲۳۱ص).

ژباړه: په هیڅ شي نه یم خفه، خو په دې خفه یې چې ما له بغاوت کوونکې ډلې سره جګړه نده کړې.

په دې روایت کې فئة باغیة مطلقاً ذکر شوې چې نه پکښې د علي رضی الله عنه ذکر شته او نه د حجاج. په هر حال په کوم روایت کې چې د علي رضی الله عنه ذکر دی او د فئة باغیة څخه مراد معاویه رضی الله عنه شي نو دا روایت کمزوری دی.

او دکتور خالد په خپل کتاب د (الصحابة المعتزلون للفتنة الکبری په ۳۸ص) کې شپږ ځوابونه کړي او په ابن عبدالبر یې رد کړی چې هغه دغه روایت د (الاستیعاب د ۱ جلد په ۷۷ص) کې صحیح بللی.

او دکتور خالد ویلي چې عبدالله بن عمر رضی الله عنهما د فتنی نه وروسته ویلي وو:

کففت یدی ، فلم اندم والمقاتل علی الحق افضل۔

ژباړه: ما له جګړې لاس نیولی وو او په دې پښیمانه نه یم او په حق جنګ کونکي غوره دي.

نو اول خبره دا ده چې ابن عمر رضی الله عنهما وايي چې زه پښيمانه نه يم ، دوهم دا چې د فئة باغية نه مراد خوارج دي ، دريم دا چې مراد حجاج دی لکه مخکې روايت کې چې ياد شو .
څلورم دا چې علي رضی الله عنه او د هغه زوی په خپله په دې جنګونو خفه وو نو عبد الله بن عمر رضی الله عنه به يې په نه کولو ولې پيښمانه کيږي. الخ

دوهم ډول حديثونه

په مخکې حديث کې د بيعت لفظ ذکر شوی وو او کله د اطاعت لفظ راځي .
دوهم ډول هغه حديثونه دي چې په هغه کې د جماعت لفظ راځي لکه په مسلم شريف کتاب الامارة کې راځي رسول الله صلی الله عليه وسلم حذيفه رضی الله عنه ته وايي:
(تلزم جماعة المسلمين وامامهم)
ژباړه: د مسلمانانو د جماعت او امام سره لازم اوسه.
په بل روايت کې راځي:
(من خرج من الطاعة وفارق الجماعة فمات مات ميتة جاهلية)
ژباړه :څوک چې ووتلو د طاعت نه او جدا شو له جماعت نه نو د ده مرګ د جاهليت دی.

د دې احاديثو مقصد

علامة شاطبی د(الاعتصام په ۲۱ ص) کې وايي:
فمعنى لفظ الجماعة من حيث المراد به فى اطلاق الشرع محتاج الى التفسير فقد جاء فى احاديث كثيرة.
ژباړه : د جماعت لفظ تفسير ته ضرورت لري چې کله دا په شريعت کې ذکر شي نو له دې څخه مراد څه دي، دا لفظ په ډيرو احاديثو کې راغلی.
بيا وايي چې د جماعت په معنى او مراد کې د علماؤ پنځه اقوال دي:

۱ـ له دې نه مراد د مسلمانانو سواد اعظم دی او سواد اعظم د بغدادي صیب خلاف دي، سواد اعظم القاعده، اسلامي امارت، تحریک طالبان، شباب الانصار..... دي

۲ـله دې نه مراد د مجتهدینو علماؤ جماعت دی.

۳ـله دې نه مراد خاص د صحابه کرامو جماعت دی.

۴ـله دې نه مراد د مسلمانانو جماعت دی او دا قول داخل دی په اول یا دوهم قول کې.

۵ـ ما اختاره الطبری من ان الجماعة جماعة المسلمین اذا اجتمعوا علی امیر قال و اماالجماعة التی اذا اجتمعت علی الرضی بتقدیم امیر کان المفارق لها میتاً میتة جاهلیة فی الجماعة التی وصفها ابومسعود الانصاری وهم معظم الناس و کافتهم من اهل العلم و الدین و غیرهم و هم السواد الاعظم.

ژباړه : پنځم قول هغه دی چې ابن جریر طبری غوره کړی چې مراد له دې نه د مسلمانانو جماعت دی کله چې په یو امیر راجمع شي لکه طبری رحمه الله وایي :کوم جماعت چې کله په خوښه د یو امیر په مخکې کولو راجمع شي له همدې جماعت څخه د جدا کیدونکي مرګ د جاهلیت وي. دا هغه جماعت دی چې ابومسعود الانصاری رضی الله عنه یې بیان کړی دی چې دا عبارت دی له اکثریت د خلکو او یا له ټولو خلکو چې د علم او دین خاوندان او عوام هم پکې شامل دي او همدوی سواد اعظم دی.

همدغه سیوطی رحمه الله او مولانا سندی رحمه الله د نسائي د حاشیه د۵جلد په ۴۳۴ص)کې وایي:

باب التغلیظ فیمن قاتل تحت رایة عمیة ـو فارق الجماعة ای جماعة المسلمین المجتمعین علی امام واحد

ژباړه : دا باب دی په بیان دهغه چا کې چې تر ړانده بیرغ لاندې جګړه کوي او له جماعت دمسلمانانو څخه جدا کیږي، له دې نه مراد د مسلمانانو جماعت دی

چې هغه په یو امام راجمع وي، او که چیرته یو جماعت او یا امام نه وي نو بیا امام بخاري باب تړلی:

باب کیف الامراء اذا لم تکن جماعة۔

ابن حجر رحمه الله د دې باب مقصد دا ذکر کړی:

والمعنی ما الذی یفعل المسلم فی حال الا ختلاف من قبل ان یقع الاجتماع علی خلیفة۔

ژباړه: د دې باب مقصد دا دی چې کله اختلاف وي او خلک په یو خلیفه نه وي راجمع شوي نو مسلمان به څه کوي نو حدیث یې ذکر کړی:

فاعتزل تلک الفرق کلها

ژباړه: نو له دغو ټولو ډلو ځان ګوښه کړه

ابن حجر وایي چې په حدیث کې دا مسئله ده چې کله د خلکو امام نه وي او خلک په ډلو ویشل شوي وي

فلا یتبع احد فی الفرقة

ژباړه: په اختلافاتو کې به د یو کس پیروي نه کوئ که وس دې کیده نو د ټولو نه به جدا کیږئ چې په فتنه اخته نشئ.

همدارنګه په حدیث شریف کې چې لفظ د من خرج عن الطاعة راځي نو د(سبل السلام د ۳جلد په ۲۵۸ص) کې وایي:

ای عن طاعة الخلیفة الذی وقع الاجتماع علیه

ژباړه: دا وعید هغه وخت دی چې کله سړی د هغه خلیفه اطاعت پریږدي چې په هغه باندې اتفاق راغلی وي.

نو حاصل دا دی چې د خلیفه نه مراد اتفاقي خلیفه دی نه اختلافی او د جماعت نه مراد هم هغه جماعت دی چې ټول په یو خلیفه راجمع شي.

او ابن الاثیر رحمه الله د(النهایة فی غریب الحدیث والاثرد ۳جلد په ۸۳۷ص) کې وایي:

من فارق الجماعة فمیتته جاهلیة

ژباړه : څوک چې له جماعت څخه جداشي مرګ يې د جاهليت دی ، د دې څه مقصد دی نو هغه وايي : معناه كل جماعة عقدت عقدا يوافق الكتاب والسنة فلايجوز لاحد ان يفارقهم فى ذالک العقد فان خالفهم فيه استحق الوعيد.

ژباړه : د هر جماعت والا چې کله د يو بل سره داسې لوظ وکړي چې د قران او سنت موافق وي نو هيچا لره جائز ندی چې په دغه لوظ کې د دغه جماعت والا نه جدا شي که مخالفت يې وکړ نو د دې وعيد مستحق دی.

دريم ډول احاديث

دريم ډول هغه حديثونه دي چې په هغه کې د امام لفظ راځي لکه رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي:

(من مات وليس له امام مات ميتة جاهلية)

ژباړه : څوک چې مړ شي او امام يې نه وي نو مرګ يې د جاهليت دی . او په بل حديث شريف مسند احمد د معاويه رضى الله عنه په روايت کې راځي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي:

(من مات بغير امام مات ميتة جاهلية)

ژباړه: څوک چې بغير د امام او خليفه نه مړ شو نو مرګ يې د جاهليت دی.

د دې احاديثو مقصد

د دې لومړني حديث شريف په باره کې امام احمد بن حنبل رحمه الله نه پوښتنه وشوه چې ما معناه ، د دې مقصد څه دی ؟ هغه وويل:

اتدری ما الامام الامام الذی يجمع المسلمون عليه كلهم يقول هذا امام فهذا معناه.

ژباړه : ايا ته پوهيږې چې د امام نه مراد کوم امام دی .مراد هغه امام دی چې مسلمانان پرې راجمع شي او ټول وايي چې دا امام دی، د حديث دا مقصد دی.

نو نتيجه دا دی چې د امام نه مراد هم اتفاقی امام دی.

د مات میتة جاهلیة مقصد

علامه عینی د (صحیح البخاری په شرح عمدة القاری د **۳۵**جلد په **۱۰۹**ص) کې وایي:

ای کموت اهل الجاهلیة حیث لم یعرفوا اماما مطاعا ولیس المراد انه یموت کافرا بل انه یموت عاصیا.

ژباړه :د ده د مرګ د جاهلیت د خاوندانو په څیر ده ځکه هغوی داسې امام او مشر نه پیژندلو چې د هغه پیروي کیږي او له دې څخه مقصد دا نه ده چې ګواکې دا به کافر مري بلکې دا به ګنهګار مري.

او قاضی عیاض د(مسلم په شرح اکما المعلم د**۶**جلد په **۱۳۴**ص) کې وایي:

ای علی هیئة ما مات علیه اهل الجاهلیة من کونهم فوضی لا یدینون الامام

ژباړه: دا به په هغه شکل مري په کوم شکل چې د جاهلیت وا لا مړه وو او هغه دا چې د جاهلیت والا دګډوډی په حالت کې وو د یو واحد مشر پیروي یې نه کوله.

حاصل دا دی چې داحدیث په تشبیه حمل دی یعنې کوم سړی چې د یو مشر د بیعت او اطاعت نه په غیر وخت تیروي نو دا د جاهلیت والاو په څیر دی. د اهل جاهلیت سره تشبیه په دې کې ورکول شوې چې اهل د جاهلیت به ګډوډ وخت تیرولو د یو مشر په اطاعت کې یې وخت نه تیرولو او دا هم د امام او خلیفه د اطاعت نه بغیر وخت تیروي او د حدیث مقصد دا نه دی چې ګواکې دا کافر کیږي بلکه مقصد دا دی چې په بیعت نه کولو ګنهګار دی خو په دې شرط چې خلیفه شرعي خلیفه وي.

او ابوبکر البغدادي حفظه الله شرعي خلیفه ندی نو په بیعت نه کولو سړی نه ګنهګاریږي.

موږ دبغدادي صیب دخلافت دبطلان په اړه دا وجوه یوازې دالله جل جلاله درضا په خاطر راوړلې، او ددې په خاطر چې دمسلمانانو صفونه دتوحید په کلمه باندې له افراط او تفریط پرته راټول شي، ای الله ته یې زموږ دحسناتو په تله کې

په هغه ورځ حساب کړې چې په هغه ورځ نه مال ګټه رسوي او نه زامن خو یوازې هغه کسان بریمن دي چې الله ته په روغ زړه راتګ وکړي.

وصلی الله تعالی علی خیر خلقه سیدنا محمد وآله واصحابه اجمعین.

تمت با الخیر

دالله په فضل د افغاني پښتو تصحیح نن ورځ پنجشنبه سهار ۱۰:۴۰پوره شوه د ۱۴۳۶هـ ق کال د شعبان المعظم(۲۵) او د ۱۱/۲/۲۰۱۵م

کره کتنه: دالله په فضل دهفتې په ورځ سهار ۱۱: ۳۰ د کال ۱۴۳۶ هـ ق کال درمضان المبارک دمیاشتې ۱۰/ او د۲۰۱۵ زیږدیز کال د جون دمیاشتې ۲۷مه.